مورچل

افغانستان کې دامریکا پوځي شتون د سیمې سالمیت ګواښي...!

نامهٔ شورای رهبری امارت اسلامی به محترم ابوبکر البغدادی!

نهم کال شپږمه، پرلپسې ۸۲ یمه، شعبان المعظم ۱۴۳۶هق، جون ۲۰۱۵م

مجاهده! ستا عزم ته سلام

کابل اداره خپل عسکر د ملکي خلکو وژلو ته هڅوي

ستر فتوحات او لویې سیاسي لاسته راوړنې

ستر فتوحات او لویې سیاسي لاسته راوړنې

د طواغیتو یو ستر شباهت!

مورچل

نهم کال، شپږمه پرلپسې ۸۲ یمه، شعبان المعظم ۱۴۳۶ هـ ق، جون ۲۰۱۵ م

علمي، سیاسي او جهادي میاشتینۍ خپرونه

ګڼه	عنوان	مخ
۱	افغانستان کې دامریکا پوځي شتون د سیمې .....!	۱
۲	نامهٔ شورای رهبری امارت اسلامی به محترم	۳
۳	نامتو مسلمان فاتحین	۷
۴	فیمینېزم په افغانستان کې: تعادف که پلان شوې .؟	۱۰
۵	ستر فتوحات او لوبې سیاسي لاسته راوړنې	۱۴
۶	د طوافیتو یو ستر شباهت!	۱۷
۷	د الله په نزد مجاهد له ټولو خلکو نه غوره دی	۲۰
۸	رمضان فرصتي براي د ګر ګوني	۲۴
۹	دروژې لومړۍ لسیزه، د رحمتونو د وربښت ورځې	۲۷
۱۰	د سید التابعین حسن بصري (رح) ژوند ته لنډه کتنه	۳۰
۱۱	جنګي جنایتونه (جون)	۳۲
۱۲	د افغانستان د اسلامي امارت د سیاسي فعالیتونو.....	۳۵
۱۳	په روژه کې د ډې د ځان لپاره هدف ټاکلی؟	۳۶
۱۴	د روسیې او لوېدیځ روانه سړه جګړه او پر سیمه	۳۸
۱۵	معضلهٔ خونین "برما" وبې چارګی "سازمان	۴۳
۱۶	سورة النساء ژوند بدل کړ	۴۵
۱۷	آثار وعلایم خون درشنایی مجرمین - ونظریات	۴۷
۱۸	مجاهده! ستا عزم ته سلام	۴۹
۱۹	دعوت ارشاد، او جلب جذب کمیسیون	۵۲
۲۰	میاشتنۍ خبرونه	۵۳
۲۱	ګلکڅونه	۸۱
۲۲	د تلفاتو جدول	۱۲۰

د امتیاز خاوند

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر

شکـــور (شفق)

کتـــنپلاوی

حســـن خپل | ایـــوب صـــافی
حســـن زوی | حکمت بغلانی
زپیر مســـافر | حافـظ ســـعید

تخنیکي چارې

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس

پته: کابل بنار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر

E-mail: baakhtaraf@yahoo.com

افغانستان کې دامریکا پوځي موجودیت دتولې سیمې سالمیت او ګټې ګواښې...!

ښکاري له افغانستانه دامریکا یې اشغالګرو قواوو وتل لایوه پېچلې معما ده او نده معلومه چې دامریکامتحده ایالات افغانستان کې دخپلو میشت امریکایې عسکرو راتلونکي په اړه کوم ګام پورته کوي؟ البته ځیني ځرګند علایم او قراین جوتوي چې د ۲۰۱۶ کال ترپایه له افغانستانه د امریکا یې ځواکونو د وتلو په پریکړه عمل حقیقت نلري بلکې یو شمېر مخکښ امریکایې واکمن داشغال دتمدید خوښونه ویني.

په دې لړ کې د مشهور امریکا یې سناتور(جان میک کین) دامریکا له ولسمشر. (بارک اوباما) دا غوښتنه[چې هغه دې له افغانستانه دامریکایې ځواکونو دبشپړې انخلاء پر پریکړه بیا دویم واري کتنه وکړي او یو داسې پلان دې جو کړي چې دزمکنیو واقعیتونو سره سمون ولري] دا اندیښنه قوي کوي چې امریکا یې چارواکې له افغانستانه د پوځي انخلاء په باب رښتیا ووته زمن نه دي اوتل په دې موردکې دخلکو تیر ایستلو په موخه دروغ وایي! جان میک کین دپورته غوښتنې ترڅنګ خبر داری ورکړی [که دشوې پریکړې سره سم د۲۰۱۶ زکال ترپایه له افغانستانه ټول امریکا یې عسکر را وایستل شول نو نه یواځي امریکا به په افغانستان کې خپلې لاسته راوړنې وبایلې بلکې له دې څخه به هم زیات خطرناک عواقب او ګواښونه رامنځته کړي] دهغه په اند دولسمشر. لخوا افغانستان کې دزرو تنو عسکرو پاته کول دشته زمکنیو حقایقو په خلاف اوبالعکس عمل دی!

خو د امریکایې سناتور دا ځرګندونې پخپله د زمکنیو واقعیتونو سره سمون نلري! او دسیاسي کارپوهانو په وینا: نامعقولې او غیرمنطقې ځرګندونې دي!!ځکه اوس په دې

شک نشته چې امریکا او ملګري یې په افغانستان کې د تاریخي شکست ترخې شیبې لنډوي او ددوی دځواکونو حیثیت دلته اوس دمغلوبو او شکست خوړلو ځواکونو دی، چې ښکاره بیلګې یې دهېواد په لراوبر کې داشغال پر ضد پراخ بریالي عملیات تنظیمېدل او اشغالګرو ته دسر اومال درانه زیانونه اوړېدل دي.

دعزم چټکو عملیاتو وښوده چې د هېواد دخاورې ډېره سلنه دچا ترنفوذ لاندې ده؟ او ولس دچا په خوا دی؟ ځکه دمجاهدینو ځخه دولسي ملاتړ او همکاری حقیقت پټ اوپناه ندی، ولس په ښکاره په سر اومال دواړو د مجاهدینو دفاع ته ژمنتیا لري، په دغسي چاپېریال کې دامریکایې سناتور دانخلاء د مودې غځولو وړاندیز حیرانوونکی او د زمکینو حقایقو له منلو ځخه دځرګند انکار مرادف عمل دی! دکتونکو په اند: دا وړاندیز جوتوي چې امریکایان پخپلو کړو وحشتونو پښیمان ندي او په راتلونکي کې هم دافغانستان په ګډون دټولې سیمې دامنیت او ثبات ګوابنې په اړه شوم عزایم لري! او سربیره په دې چې دامریکا فوځي موجودیت دافغانستان دخلکو ملي ازادې جغرافیوي سالمیت اوسیاسي استقلال ګوابنې! بلکې په ورته توګه دسیمې او ګاونډیو هېوادونو دخپلواکی لپاره هم جدي خطر دی چې له سیاسي، اقتصادي او جغرافیوي پلوه ورته نه جبرانیدونکي زیانونه به ورسوي !دکومو لپاره چې امریکا په افغانستان کې دخپل پوځي موجودیت په دوام ټینګار لري

دټرو ځوارلسوکلونو په موده کې کوم څه له امریکایانو پاته دي چې دهغې په عملي کولوسره به دوی ته دلته دپښې دټینګېدو سبب شي، ټولې هغه حربې چې ددوی پالیسي جوړوونکو ککریو سنجولای شوای عملي شوې خو نتیجه یې بیا هم په مخامخ او بالواسطه دواړو محاذونو شکست و! هیڅکله دغه ډول غوښتنې او ځرګندونې شکست په بري بدلولی نشي اونه به دافغانستان ځو په شمار ضمیر پلورونکې ګوډاګیان ورته نجات ورکړای شي! لنډه داچې چې امریکا په ټوله معنی جګړه بایللې! دنورې سرتمبکی او ضد پرځای غوره داده چې دپخواني شوروي او انګریز له عبرت ناک انجام سبق واخلي او دهغوی دشکست او زوال داستانو نه بیا ښه په زور اوزیر ولولي!!

نامهٔ شورای رهبری امارت اسلامی به محترم ابوبکر البغدادی!

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدلله معز التوحید وأهله، ومذل الشرك و حزبه، وأشهد ان لا اله الا الله وحده لا شریك له في ربوبیته و ألوهیته و أسمائه وصفاته، و أشهد أن نبینا محمدا عبده و رسوله، اللهم صل و سلم و بارك علیه و علی آله و أصحابه وبعد:

بحضور محترم ابوبکر البغدادی و تمام مجاهدینی که تحت قیادت مقام محترم بر خلاف اشغال آمریکا در حال جنگ هستند!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

از خداوند متعال میخواهیم به تمام مجاهدین راه حق که برای تنفیذ نظام مقدس اسلامی و اعلای کلمة الله در حال جنگ هستند، کامیابی نصیب نموده و توفیق تمسک و اعتصام به احکام مقدس الهی را نصیب شان گرداند.

محترمین! افغانستان از نخستین قرنهای ظهور دین مقدس اسلام تا هم اکنون، قلعهء مستحکم اسلام و بعد از جزیرة العرب در بزرگترین خشکهء آسیا در نشر و اشاعت اسلام رول مهمی ایفاء نموده است.

قهرمانان جهانی دوران معاصر جهاد همانند امام المجاهدین شیخ عبدالله عزام، قائد المجاهدین شیخ اسامه بن لادن ، قاهر الصلیبین ابومصعب الزرقاوی و قاهر الملحدین خطاب رحمهم الله جمیعا، همهء اینها افتخار شاگردی مدرسهء جهادی در افغانستان را در کارنامه های خود داشتند.

با کدام عزمی که مجاهدین از شروع با انگلیس ها، روس ها و امروز با آمریکانی ها جهاد نموده و بخاطر اسلام قربانی ها را تقدیم کرده و می کنند، امارت اسلامی و ملت مسلمان افغان در این راه قربانی های فراموش نشدنی پیشکش نموده و می نمایند که اینست یکبار دیگر علیه اشغالگران صلیبی جهاد مقدس به سرمنزل مقصود نزدیک گردیده است، اکثریت آمریکانی ها و دوستان کافرشان فرار نموده اند، مجاهدین روز بروز مناطق وسیعی را تحت کنترول و سیطرهء خود در می آورند و سال جاری ١٤٣٦ هـ ق امید موفقیت های بیشتری داریم تا بقایای دشمن را نیز از بین برده و بستر آنان را جمع کنیم. ان شاءالله تعالی، وماذالك علی الله بعزیز.

بزرگواران! یکی از دلائل تجاوز به رهبری آمریکا بر افغانستان، از بین بردن نظام اسلامی بود که مطابق احکام قرآن و سنت و راه هدایت و روشن اهل سنت و الجماعت ایجاد و از جانب ارگانهای حکومت کشور در تمام سیستم حکومتداری واجب الاجراء بوده و ریشهء شرک و کمونیستی، نظریه و فکر فساد را از بیخ کنده بود و جلوی تمام بدعت ها و خرافات را گرفته بود.

اینچنین نظام اسلامی برای جهان کفر به رهبری آمریکا قابل تحمل نبود، از اینرو با ارائه کردن بهانه های مختلف بر آن حملهء وحشیانه نمودند.

ملت مسلمان افغان تحت قیادت امارت اسلامی که در راس آن امیر المومنین ملا محمد عمر مجاهد (ادام الله حیاته) قرار دارد با شهامت بسیار، علیه متجاوزین صفوف جهادی خود را آماده نموده و

سیزده سال تمام، قربانی های بیشماری را بخاطر آزادی افغانستان از تجاوز اشغالگران و قائم نمودن حاکمیت اسلامی تقدیم کرده اند.

آنچه را به شکل خصوصیت امتیازی پالیسی جهادی امارت اسلامی در مقابل اشغالگران صلیبی میخواهیم به شما یادآوری کنیم اینست که، امارت اسلامی بر خلاف دنیای کفر بر وحدت و مرصوص نگه داشتن صف جهادی بسیار ترکیز داشته و تا حالا نیز دارد.

زیرا ما در زمان اشغال شوروی نتائیج و تاثیر نادرست و منفی تعدد و تفرق صفوف جهادی را با چشمان خود مشاهده کردیم که در نتیجهء آن ثمرهء خون یک و نیم میلیون شهید چهارده سال جهاد مقدس در افغانستان ضائع و تمام امیدهای امت اسلامی مرتبط با آن جهاد اسلامی با خاک یکسان گردید، بنابر ارشاد پیامبر اکرم حضرت محمد صلی الله علیه و سلم که میفرماید:{لاَ يُلْدَغُ الْمُؤْمِنُ مِنْ جُحْرٍ وَاحِدٍ مَرَّتَيْنِ} رواه البخاري برقم ٨٣، ومسلم برقم ٧٦٩٠.

امارت اسلامی بخاطر مرصوص نگه داشتن صف جهادی مامور به عمل بوده و بر وحدت آن از اینرو بسیار اصرار و پافشاری دارد که الله تعالی در این مورد فرموده است: "إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِهِ صَفّاً كَأَنَّهُم بُنيَانٌ مَّرْصُوصٌ" (٤) الصف.

و در جایی دیگر با نص صریح ، قرآن کریم مسلمانان را از تنازع، تفرق و اختلاف درونی منع میکند و به آنان چنین رهنمود میکند: "وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَا تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ ○ وَاصْبِرُوا ○ إِنَّاللَّهَمَعَالصَّابِرِينَ" (٤٦) الانفال

امارت اسلامی برای تعمیل نصوص فوق الذکر قرآنی، با توجه به تجارب جهاد گذشته و معرفت کامل از محیط و جامعهء خود، تعدد صفوف جهادی در افغانستان را نه به نفع جهاد و نه هم به نفع مسلمانان می داند، زیرا خصوصیت محیط افغانی چنین است که همیشه درگیر اختلافات و نزاع داخلی می باشد، و اگر قیادت واحد و صف واحد باشد، احتمالات اختلافات داخلی از بین می رود.

امارت اسلامی تاکنون تمام فتنه های اختلافات و تفرقات را در نتیجهء وحدت الصف خنثی کرده است، اگر اکنون در اینجا در کنار امارت برای ایجاد یک صف جهادی جداگانه و یا هم قیادت دیگری تلاش صورت گیرد، عملاً زمینهء فتنه در نتیجهء اختلافات و تفرقات مساعد می گردد، از اینرو امارت اسلامی تنها فعالیت های جهادی در افغانستان را تحت قیادت امارت مشروط و بر نقاط ذیل اصرار دارد:

-١اینکه امارت اسلامی مامور به عمل بر وحدت صف است و علاوه بر آن در هنگام قتال و مقابله با کفار یک امر ضروری است پس جهاد علیه متجاوزین آمریکائی و مزدوران آنان در افغانستان باید تحت یک بیرق، یک قیادت و یک امر باشد.

از انجائیکه قیادت امارت اسلامی افغانستان بر اساس انتخاب و مبایعت شرعی از سوی ١٥٠٠ تن از علمائ کشور (شورای اهل حل وعقد) تعیین گردیده است و شخصیت های مشهور جهان اسلام و علماء فقهی همانند الشیخ حمود بن عقلاء الشعیبی رحمه الله وقائدین مشهور جهادی همانند شیخ اسامه رحمه الله این امارت شرعی را تائید و با آن بیعت نموده اند، همچنین امارت اسلامی تاکنون بر همان موقف اسلامی خود ثابت ایستاده است و همدردی تمام پیروان اهل سنت و الجماعت دنیا را با خود دارد و هیچکس چیز قابل اعتراضی بر آن نیافته است، بنابر این هیچگونه ضرورت شرعی و عقلی برای گشودن صف موازی جدید در افغانستان دیده نمیشود.

-٢بر اساس شرع و عقل سلیم، انسان مکلف است که بخاطر مصالح علیای شرعی و دنیوی جامعهء اسلامی خود، راه و روشی را انتخاب کند که سبب تحفظ و موفقیت آنان گردد، امارت اسلامی تمام مصالح شرعی و دنیوی خود را در وحدة الصف می بیند و فعالیت هایی تحت نامها و بیرق های دیگر را به زیان مصالح اسلام، مسلمانان و جهاد میداند.

امارت اسلامی افغانستان از نگاه اخوت دینی، خیرتانرا میخواهد و در امورش فکر دست اندازی ندارد، بالمقابل از شما نیز امید و انتظار عمل بالمثل دارد و از نگاه رشتهء اخوت اسلامی تنها امید خیرخواهی از انان را دارد، با توجه به وضعیت جاری جهاد در افغانستان خیر و صلاح اسلام و مسلمانان تنها در اینست که جهاد در افغانستان تنها زیر صف واحد ادامه یابد.

۳-امارت اسلامی افغانستان در جریان مقاومت جهادی خویش زیر یک بیرق و قیادت واحد ، شکست کمرشکنی به آمریکا و دوستان آنان داده است، بغیر از شهرهای کشور ، مابقی تمام ساحات ومناطق از اشغال کفری، شرک و خرافات دیگر رهایی یافته و بعد از دو دهه مقاومت و استحکام ، صف متحد امارت اسلامی در منطقه و جهان در مقابل دنیای کفر به یک حقیقت الهام بخش تبدیل گردیده است، آمریکائی ها و دیگر دشمنان اسلام بسیار تلاش و کوشش کردند و می کنند که با متلاشی کردن این صف واحد ، زمینهء کامیابی و بقاء برای اشغال خود را مساعد سازند، اما امارت اسلامی همانگونه که در عرصهء نظامی به آنان شکست داده است، به همین منوال در نگه داشتن صف واحد و مرصوص خود ، پلانهای آتی و تخریبی آنان را خنثی نموده است، پس اگر خدای ناخواسته در این مرحله حساس که از قبل با دسایس بسیار کفار مواجه هستیم، رفقای شما نباید چنین اقدامی انجام دهند که قوماندهء مجاهدین تقسیم گردیده ، رخنه در صف مجاهدین ایجاد شده و امید و آرزوهای دشمنان ما که همانا فاصله انداختن و ایجاد رخنه در امارت اسلامی است، صورت پذیرد.

٤-جدا از افغانستان بسیاری از کشورهای جهان اسلام، شکار توطئه های ظالمانهء آمریکائی ها بوده و به شکلی از اشکال تحت اشغال آنان قرار دارند، اما از آنجائیکه تاکنون مسلمانان در این کشورها کدام کامیابی و موفقیت ملموسی حاصل ننموده اند، دلیلش تفرقهء آنان و عدم وجود قیادت واحد میباشد، بناءً بخاطر اینکه فتنهء بی اتفاقی در افغانستان ایجاد نگردد، امارت اسلامی اجازه دادن به فعالیت های جهادی در یک صف واحد امارت اسلامی در افغانستان را یک مصلحت عظیم دینی و جهادی میداند و ایجاد نمودن صف و گروه دیگر در مقابل آن را عملی بر خلاف جهاد، مجاهدین و مصالح اسلامی می داند.

٥-امارت اسلامی بر خلاف جهان کفر، شرکت و بدعت فعالیت های جهادی خویش را در روشنائی احکام کتاب الله و سنت نبوی به پیش میبرد، مصالح شرعی و اسلامی برایش مهمتر از هرچیز دیگر است و برای تحقق آن به حمایت و همکاری مادی و معنوی مسلمانان جهان ضرورت دارد، بناءً از شما محترمین آرزومندیم که در مورد امارت اسلامی افغانستان معلومات خود را از آن منابع بدست نیاورید که در اینجا بخاطر عوامل مختلف از امارت اسلامی مایوس گردیده اند و یا هم بخاطر ارتکاب جرائم در صف جهادی از این صف مقدس رانده شده اند، بلکه مستقیما با رؤسای مسئول امارت اسلامی ، سخنگویان رسمی و شناخته شدهء مطبوعاتی معلومات و اطمینان خود را حاصل نمائید، تا اطمینان یکدیگر بیشتر گردد.

٦-امارت اسلامی افغانستان، شکست آمریکا و ناتو در افغانستان را شکست نیروهای صلیبی در تمام دنیا می داند، و این دستاورد و موفقیت بزرگ را الله ﷻ از برکت اخلاص، توکل، صبر و وحدت مجاهدین امارت اسلامی به آنان ارزانی داشته است، و مقام رهبری و مجاهدین امارت اسلامی بیشتر از این از دربار الله تعالی خواهان موفقیت و حُسن انجام این راه جهادی هستند، و از مسلمانان و نهضت های جهادی امید دارند که برای موفقیت جهاد امارت اسلامی حمایت و همکاری همه جانبه، نمایند نه اینکه با پاشیدن تخم نفاق در صف جهادی، مجاهدین را ناکام و امت رنجدیده و ستمکشیده را از خوشی های شکست کفر محروم نمایند.

۷-امارت اسلامی افغانستان موفقیت های مهم و عظیم جهادی علیه متجاوزین صلیبی در افغانستان را اولاً به نصرت الله ﷻ و بعد از آن در نتیجهء زحمات صدها هزار شهید، زخمی، اسیر، یتیم و بیوه زن بدست آورده است.

تمام این قربانی ها را زیر یک قوماندهء و یک بیرق در یک صف واحد تقدیم نموده است، و اکنون اگر خدای ناخواسته با متفرق شدن صف جهادی در میان مجاهدین اختلافات درونی ایجاد گردد، تمام

این قربانی ها و دستآوردها، شکار این اختلافات خواهند شد و مسلمانان رنجدیده از ثمـرهء آن محروم می شوند، این یک حقیقت روشن تر از آفتاب است کـه امارت اسلامی افغانستان در نتیجهء درخشش گذشتهء خویش، قربانی های عظیم در راه اسلام و سیاست مدبرانـهء اسلامی ، محبوبیت و مقبولیت فراوانی نه تنها در افغانستان بلکه در تمام جهان اسلام دارد. و اگر خدای نـاکرده در اینجا برای امارت اسلامی از سوی افرادی که خود را منسوب بـه شما میدانند کدام جنجال و دردسری ایجاد گردد، تمام مسلمانان جهان از شما ناراحت و ناخشنود خواهند شد.

-۸درحالیکـه در گوشـه و کنـار جهـان تنظیم هـای اسلامی و شخصیت ها در شرایط بسیار سخت قربانی های فراوانی داده اند و هرکدامشان دارای دستآوردهای کم وبیش هستند، برای خود نظم دارند و از خود طرفدارانی دارند و همهء اینها را در سختی ها و با تقدیم قربانی ها بدست آورده اند، پس مشورهء ما به شما اینست که در هیچ جای دنیا برای حرکت های اسلامی چنـان شرایطی را ایجاد ننمائید کـه خدای ناکرده خدمات آنان متاثر گردیده ، نظم شان خراب شده و یـا در اختلافات داخلی درگیر شوند و بلاخره در تفاوت بر سر طرزالعمل و یا اختلاف در نظریه ، سخن به خونریزی بکشد، خداوند متعال همـهء مـا و شما را از چنین حالتی درامان داشته باشد، شما باور کنید کـه اینگونـه حرکـات بـه فعالیت و شـهرت شما زیان جبران ناپذیری وارد میکند. سبب شـهادت مسلمانان خصوصـا مجاهدین و افراد مصلح مـی گردد، ورثـای شهداء مایوس میشوند و فرصت استعمال حربه های گوناگون بدست دشمنان داده میشود.

-۹برای تان بهتر معلوم است که در مدت چهاردههء گذشته در افغانستان نابسامانی هـا، اختلافات و کشمکش هـای قومی، سمتی، تنظیمی، مداخلات مسلسل قوتهـای کفری و جنجال ها و دشمنی های دیگری گذشته است و هم اکنون نیز تعداد کثیری هستند که عقده ها و خصومت هـای این دشمنی را در سر و ذهن می پرورانند، از اینرو اینجا در افغانستان به کرات افرادی در لباس مجاهدین قد علم کردند تـا جـهاد مقدس را بدنام سازند، اما از انجائیکه از یک طرف نصرت الله تعالی با مجاهدین همراه بود و از سوی دیگر مسئولین امارت اسلامی با تمام باشندگان این سرزمین آشنا و تجارب پُختـهء جهادی دارنـد، کسانی که میخواهند جـهاد را بدنام سازند اینگونـه افراد را بسیار زود شناخته و از صحنه بیرون نمـوده میتوانند. تاکنون الله تعالی مارا بخوبی از این جنجال محفوظ داشته است. خدای نـاکرده، خدا نکند کـه اینگونه افراد بدچهره و مُغرض سبب دوری شمایان و در افغانستان از عدم شناخت و آشنائی آنـان زیر نامـــتان استفادهء سوء نکنند، از اینرو ما بازهم اصرار و پافشاری می کنیم که شما بیشتر به این خطر متوجه گردید تا در اینجا جدا از تشکیلات امارت اسلامی صف دیگری ایجاد نگردد.

همانگونـه کـه رسـاندن جـهاد بـه هدف خـود(اعلای کلمـة الله) فریضـهء شرعـی تمـام مسلمانان خصوصاً مجاهدین است، پس شمایان هم باید از نگاه مکلفیت دینی خود، بـا برادران امـارت اسلامی در امور وحدت و تقویهء آنان همکاری نمائید، نه اینکه خدای ناکرده از جای دوری، چنان تصامیمی اتخاذ کنید کـه در اینجا مایـهء نـاراحتی و ناخشنودی بزرگـان مجاهدین، علمـاء دین و هزاران تن مجاهدین مصلح گردیده و سبب از بین رفتن محبت و اخلاص آنـان نسبت بـه شمایان شود و امـارت اسلامی در اینجا بخاطر محافظت از آرمانهای پاک بیش از دو میلیون شـهدای مبارک در جریـان چهاردهه برای دفاع از دستآوردهای خود دست به عکس العمل بزنند.

و صلّی الله علی نبیّنا محمد وعلی آله و صحبه أجمعین.

والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

الحاج ملا اخترمحمد منصور

سرپرست شورای رهبری ونائب امارت اسلامی افغانستان

۱۴۳۶/۸/۲۹هـ ق

صفی حبیب الله فاسمی

نامتو مسلمان فاتحین [۳]

د خراسان فاتح
عبدالله بن عامر رضی الله عنه
زوکړه: (۴ - هـ۲۲۵ م مړینه: ۵۹هـ ۶۷۹ م)

[۸] په خراسان کې غزاګانې

حضرت ابن عامر رضی الله عنه دخپل ولایت پرمهال زیات فتوحات هم کړي وو چې له همدې امله یې عرب مورخین د نوموړي پېژندنه په دې تورو کوي: « الَّذِي افْتَتَحَ إِقْلِيْمَ خُرَاسَانَ » .

ژباړه: دا هغه نامتو صحابي و چې دخراسان سیمه یې فتحه کړې وه .

حضرت حسن بصري رحمه الله روایت کوي چې: حضرت عبدالله بن عامر رضی الله عنه په خراسان کې غزاګاني کړې دی او د لښکر مشري یې دابن بدیل پرغاړه وه ،نوموړي لومړی اصفهان ته ولاړ او د هغه ځای خلکو ورسره روغه وکړه ،له هغه وروسته خراسان ته مخه کړه او د لښکر مشري یې احنف بن قیس رح ته وسپارله . دخراسان ځینې نوموړي په جنګ او ځینې یې د روغې له لارې ونیولې .

امام زهري رح وایي: یزدګر له یولک لښکر سره مروې ته راغی او اصطخر سیمې باندې یې خپل سړی مشر وټاکه او دغه مهال ابن عامر رضی الله عنه ورته راغی او له سخې جګړې وروسته یې دغه سیمه ونیوله . دغه مهال یزدګر هم ووژل شو او څومره لښکرې یې چې په مروه کې وې هغه هم ټول ووژل شول. د نوموړي په ولایت کې فارس امپراطور «کسرا» هم ووژل شو.

نوموړي خپلې لښکرې سجستان ته هم ولیږلې هغه یې فتحه کړ اودغه راز دخپلو قوماندانو په مرسته یې «دوار» ښار [۱] «مروه رود» بیا «سرخس» دغه راز «طوس»، «طخارستان» «نیشاپور» ، «بلخ» او «طالقان» او «فاریاب» ښارونه اولویې سیمې یوپه بل پسې فتحه کړې .

[۹] د فتوحاتو د شکرانې حج

حضرت عبدالله بن عامر رضی الله عنه چې په خراسان کې زیات فتوحات وکړل نو ددغو فتوحاتوشکرانه یې وه غوښتل چې حج وکړي .

---

۱ الاعلام دزرکلي مخ .

خوله دې سره يونوی کار هم وهغه داسې چې احرام يې ډير لېرې له نيشاپور څخه وتاړه ځکه نوموړي ويل : «زه به ددې ستر فتوحاتو په بدل کې حج کوم اود شکرانې په خاطر به احرام له نېشاپوره ترم» .نوهغه و چې نوموړي له نيشاپور څخه احرام وتاړه .۲

[۱۰] له نيشاپوره پراحرام تړلو دحضرت عثمان رضی الله عنه نيوکه

دنوموړي پردې احرام تړلو حضرت عثمان رضی الله عنه نيوکه وکړه ، دنوموړي داحرام تړلو پېښه امام بخاري رحمه الله هم دکتاب الحج د ۳۳باب کې له سند پرته راخېستې ده اوتوري يې داسې دي : وكَرِهَ عُثْمَانُ - رضی الله عنه - أَنْ يُحْرِمَ مِنْ خُرَاسَانَ أَوْ كَرْمَانَ .

ژباړه : اوحضرت عثمان رضی الله عنه داکار ښه ونه باله چې سړې دې له خراسان اويا هم کرمان څخه احرام و تړي .

حافظ ابن حجر رح دفتح الباري دپنځم ټوک په ۲۱۰مخ کې ليکي : ددغې پېښې سند دسعيد منصور په سنن کې شته او پېښه داسې وه چې : حسن بصري روايت کوي چې : عبدالله بن عامر رضی الله عنه چې له خراسان څخه احرام تړلی و کله چې حضرت عثمان رضی الله عنه ته ورغی هغه په دې کار سره ملامت کړ اودغه کار يې ښه ونه باله .

حافظ ابن حجر رحمه الله ددې ملامتي سبب بيانوي اوليکي چې: کيدای لامل د اوي چې نوموړي دحج له مياشتو دمخه د حج احرام تړلی و ، ځکه د خراسان اومکې ترمنځ يوه مياشت مزل و .اويا هم کيدای شي دحضرت عثمان رضی الله عنه دخپکان لامل داوه چې نوموړي له ميقات دمخه احرام تړلی و چې ورته اړتيا نه وه اوعلامه عيني رح ليکي : کيدای شي دحضرت عثمان د ملامتولو سبب هغه داو چې : داهسې بې ځايه کړاو اوتکليف پرځان تيرول دي .۳

له دې پېښې موړ ته څرګنديږي چې صحابه وو رضی الله عنهم ددين په هکله ځومره محتاط وو اوکومه زياتونه به يې چې په دين کې وليدله له دې پرته چې څوک پرې خپه اوکه يه نو هغه خبره به يې خامخا کشرانو ته يادونه کوله اوپه ديني معاملاتو کې به يې کشران خپلې تېروتنې ته ځير کول .

[۱۱] د بصرې دوهم ځل والي کېدل

حضرت معاويه رضی الله عنه نوموړی په دوهم ځل د بصرې والی وټاکه چې دری کاله يې د دغه ولايت چارې سرته ورسولې او بيا يې په خپله خوښه دغه ولايت پرېښوده .اوپه کور کېښناست .

[۱۲] د ژوند وروستي کلونه

---

۲ حافظ ابن حجر په فتح الباري کې داحمدبن سيار په حواله دغه خبرې دمروه له تاريخ څخه راخېستې دي .

۳ عمد القاري : نهم ټوک ۱۹۲

حضرت ابن عامر رضی الله عنه د ژوند وروستي کلونه یې په چوپتیا اوخاموشي کې تېر کړل بیایي په هېڅ راز سیاسي خوځښتونوکې ګډون وه نه کړ [۴] دغه مهال یې زیاتره پاملرنه تعمیري اوودانیزو کارونوته اوښتې وه. له همدې امله نوموړي د بصرې زیات کورونه اوځمکې یې په بېه واخېستلې او لویه لاره ترې نه جوړه کړه.

[۱۳] : مړینه

د ژوند په وروستیو کلونوکې یې په مدینه منوره کې استوګنه غوره کړه او دغه نامتو فاتح په ۵۹ هجري کال کې په مکه معظمه کې وفات او د عرفات په میدان کې خښ شو.[۵]

د نوموړي له وفات څخه چې حضرت معاویه رضی الله خبر نو وې ویل: له ده وروسته به موږ پرچا باندې ویاړو ؟ اوپر چا به نازیږو ؟؟[۶] الله پاک دې ورباندې ورحمیږي.[۷]

---

۴ الاعلام:

۵ الاعلام: سیر اعلام النبلاء: دریې ټوک ۲۱مخ.

۶ سیر اعلام النبلاء: ۳/ ۲۱ او د ابن سعد طبقات: ۵/ ۴۹.

۷ ددغه نامتو صحابي د پیژندنې له پاره لاندې کتابونه کتلای شئ

لومړی: دامام ابن سعد رح طبقات: ۵/ ۴۴

دوهم: د حافظ ابن حجر رح تهذیب التهذیب. ۵/ ۲۷۲.

دریم: د امام ذهبي رح سیر اعلام النبلاء: ۴ ټوک ۸۷- ۹۷مخونه

څلورم: د امام ذهبي رح تاریخ الاسلام: ۲/ ۲۲۲.

پنځم: د امام ابن اثیر رح الکامل: ۳/ ۲۰۲.

شپږم: د استاد زرکلي رح الاعلام: ۱/ ۲۷۲

اوم: د امام ابن اثیر رح اسد الغابه: ۳/ ۱۹۱

اتم: المستدرک دحاکم رح: ۳/ ۲۳۹

نهم: د امام ابن عبدالبر رح الاستیعاب: ۹۳۱مخ

لسم: د امام ابن عساکر رح تاریخ: ۹/ ۲۲۹.

یولسم: د علامه ابن خلکان رح وفیات الاعیان ۲/ ۴۹۹

دولسم: د علامه بلاذری رح فتوح البلدان: ۳۹۶مخ

دیارلسم: د امام طبري رح تاریخ: ۵/ ۱۷۰.

څوارلسم: د حافظ ابن حجر رح الإصابة: ۳/ ۱۹.

پنځلسم: د حافظ ابن کثیر رح البدایه والنهایه: ۸/ ۸۸،

شپاړسم: دامام ابن العماد رح شذرات الذهب: ۱/ ۳۲ و۲۵

فیمینیزم په افغانستان کې

تصادف که پلان شوې پروژه؟

(کامران)

د ۲۰۰۱م کال د سپتمبر یوولسمې له پیښو وروسته په افغانستان کې نوی سیاسي باب پرانیستل شو. دغه مهال ټولنه کې داسې نوی فرهنګ معرفي شو چې پخوا یې مخبینه نه وه لیدل شوې. افغانستان په دې پیراو کې د یو لږ نوو ټولنیزو او سیاسي مفاهیمو د معرفی او سیالی ډګر شو .د بهرنیانو او مرسته کوونکو هیوادونو له خوا د راغلو مرستو د کارونې یوه برخه په ټولنه کې د نوي فرهنګ ملاتړ او وده وه. نوي سیاسي نظام د ځینو مثبتو کارونو ترڅنګ د نړیوالو د فشار له امله یو لړ داسې خطرناک مفاهیم او افکار چې د افغانستان له ملي او دیني اصولو سره په ټکر کې ول هم رامخې ته کړل چې له هغې جملې څخه د جنډر او فیمینیزم مفاهیم دي.

فیمینیزم څه شی دی؟

فیمینیزم د شلمې پیړۍ د پنځوسمو کلونو په وروستیو کې په امریکا کې د یو منظم خوځښت په توګه را بنکاره شو. دا هغه فکري، سیاسي، ټولنیز او د بیلا بیلو افکارو او تګلورو پر بنسټ ولاړ خوځښت دی چې هدف یې ټولنیز او فرهنګي بدلونونه را منځ ته کول دي او د نر او ښځې ترمنځ د اړیکو د څرنګوالي د بدلون لپاره کار کوي، ستراتیژیکه موخه یې د ښځې او نر تر منځ بشپړ مساوات راوستل دي. داسې مساوات چې لومړی خو د پلي کېدو وړ نه دي او که عملي هم شي، ټولنه به له داسې کړکیچ سره مخ کړي چې ټولنیز نظام په تپه وردوي. په دې اړه دوی د نر او ښځې دواړو جنسونو تر منځ د دښمنۍ او کرکې اچونې څخه کار اخلي، او بالآخره د دین، ژبې، تاریخ او کلتور نوې بڼه را منځ ته کول غواړي.

فیمینیزم په هکله دا لاندې وګورئ: http://www.eslahonline.net/?p=۱٦٦

جنډر څه ته وایي؟

همدارنګه جنډر د نارینه او ښځینه تر منځ هغه اجتماعي، سیاسي، فرهنګي او دیني اړیکي دي چې د تاریخ په اوږدو کې دانسان له خوا رامنځ ته شوي دي.

د جنډر مساوات څه ته وایي؟

د جندر پلويان وايي چې د جندر د مساوات معنا دا ده چې د نارينه او ښځينه تر منځ د حقوقو او مسؤوليتونو ويش بايد د جنس - نارينه يا ښځينه توب - پر بنسټ ونشي، بلکې دواړو ته بايد د ژوند په ټولو ډګرونو کې سره برابر فرصتونه ورکړل شي، او په دې توګه دغه خوځښت، لکه څنګه چې د هغو توپيرونو پر ضد مبارزه کوي چې د ټولنې لخوا د نارينه يا ښځينه لپاره د حقوقو يا دندو په توګه ټاکل شوي دي ، په همدې ډول دين هم يوه ټولنيزه پديده ګڼي، او د دين لخوا ايښودل شوي توپيرونه هم نه مني، او پر ضد يې کلکه مبارزه کوي.

د جندر مساوات ظاهراً ښه زړه رابښکونکی شعار دی. لومړی، دوه جنسونه، له خاصو ځانګړنو سره نه شو کولای پرتله کړو. لکه څرنګه چې د دوی جوړښت، فطرت او طبيعتونه سره بېل دي، همداسې يې مسوولیتونه هم د وړتياوو په پام کې نيولو سره متفاوت وي. مسلمان مفکرين تل پر دې ټينګار کوي، چې اسلام حقونه برابر وېشلي، هغه څه چې اسلام يې برابر نه وېشي د مسوولیتونو حجم او شکلونه دي .يو نارينه نه شي کولای د ښځې دندې په ښه ډول ترسره کړي او همدا راز يوه مېرمن د نارينه وو مسوولیتونه نه شي ترسره کولای.

د جندر په هکله دا لاندې ليکنه وګورئ۱۹۹=http://www.eslahonline.net/?p:

د مېرمن شېنن ګېپلين پروژه څه ده؟

ميرمن شېنن ګېپلن ۴۴ کلنه امريکايي ټرېنره او د "افغان بايسکېلونو" فلم پروډيوسره ده چې فلم يې غالبا لا رسنيو ته نه دی راوتلی. ګېپلن په افغانستان کې د هغې پروژې مسوله ده، چې هڅه کوي افغانو نجونو ته داسې روزنه ورکړي چې وکولای شي دغه امريکايي مېرمن له خپلو افغانو نجونو زده کوونکو او نارينه وو ټرېنرانو سره د افغانستان په غرونو کې بايسکل چلوي. نوموړی په ۲۰۱۳ کال کې د نيشنل جيوګرافيک چېنل له خوا خطر منونکې ښځه هم ګڼل شوې وه. نوموړې د نړيوالو فيمنيستانو غږيتوب لري او د کرزي حکومت څخه يو څو کاله وروسته ښځو ته حقوقو ورکولو په بهانه له امريکا څخه افغانستان ته راغله او هلې ځلې يې شروع کړې ترڅو افغاني ميرمنې بايسکل چلولو ته وهڅوي .بايسکل وچلوي. په افغاني ټولنه کې د ښځو بايسکل چلول دود نه دی. آغلې ګېپلن هڅه کوي، د نارينه وو ټرېنرانو په واسطه بايسکل چلوونکې نجوني وروزي تر څو په افغانه ټولنه کې دا نوی فرهنګ دود شي. دغه امريکايي مېرمن له خپلو افغانو نجونو زده کوونکو او نارينه وو ټرېنرانو سره د افغانستان په غرونو کې بايسکل چلوي. نوموړی په ۲۰۱۳ کال کې د نيشنل جيوګرافيک چېنل له خوا خطر منونکې ښځه هم ګڼل شوې وه . نوموړې د نړيوالو فيمنيستانو غږيتوب لري او د کرزي حکومت څخه يو څو کاله وروسته ښځو ته حقوقو ورکولو په بهانه له امريکا څخه افغانستان ته راغله او هلې ځلې يې شروع کړې ترڅو افغاني ميرمنې بايسکل چلولو ته وهڅوي.

ګيلپن له ۸ کالو راهيسې په افغانستان کې په مختلفو پروژو کار کوي چې اصلي محور يې د ښځو حقوق مربوط دي، دغه پروژې د امريکا او ملګرو ملتونو لخوا حمايه کيږي چې يو له دغې پروژې څخه د (Mountain to Mountain) بايسکل چلولو يې ستره پروژه ده.

په ۲۰۱۲ کې نوموړی چې کله خبره شوه چې افغانستان د نارینه وو بایسکلونو چلولو ټیم لري نو د کوچ سره یې د خبرو اترو وروسته د لس کلنو نه تر ۲۰ او ۲۵ کلنو پورې میرمنې پیدا کړې او دوی سره یې په شریکه دا پروژه شروع کړه .نوموړی میرمنې اوس د کابل په کوڅو کې په تنګ لباس او ګروپي شکل بایسکلونه چلوي.

شینن فکر کوي چې افغانستان د نړۍ یو له هغه هیوادونو څخه دی چې میرمنو سره یکې زیات ظلم کیږي او د میرمن اواز پکې نه اوریدل کیږی او نوموړي زیاتوي که افغاني میرمنې ازادي غواړي نو بایسکل چلول دې شروع کړي.

اوس پوښتنه دا ده چې ایا د اجتماعي انصاف لپاره بایسکل چلول اساسي حقوق جوړیدای شي؟

ایا داسې پروژې چې افغاني او اسلامي حساسیتونو خلاف وي، د ښځو حقوق جوړیدای شي؟

اصلي خبره دا ده چې اول باید یو فرد پدې پوه شي چې د هغه یا هغې اساسي حقوق څه دي؟

د دې لپاره چې په خپلو اساسي حقوقو پوه شو باید خپل ځان وپیژنو او پدې پوه شو چې کوم حقوق او په کومو حدودو کې هغه ترلاسه کړو. له ټولو مهمه مسله د تعلیم ده،

شینین ګلپین او دې میرمنې ته ورته نور باید پدې پوه شي چې هغه اساسي ستونزې چې افغانان او خصوصا افغاني میرمنې ورسره مخ دي هغه د تعلیم حق دی .ترڅو چې یوه میرمنه د تعلیم په جامو ځان سینګار نکړي د بایسکل چلول، د میرمنو تنګ لباس کول او یا اوسپنیز جاکټ اغوستل د هغوی حقوق نشي ورکولای.

شینین ګلپین او دې میرمنې ته ورته نور باید پدې پوه شي چې هغه اساسي ستونزې چې افغانان او خصوصا افغاني میرمنې ورسره مخ دي هغه د تعلیم حق دی. ترڅو چې یوه میرمنه د تعلیم په جامو ځان سینګار نکړي د بایسکل چلول، د میرمنو تنګ لباس کول او یا اوسپنیز جاکټ اغوستل د هغوی حقوق نشي ورکولای.

ترڅو چې د ټولنې یو فرد تعلیم ونلري نو هغه به ځرنګه د ښه او بد ترمنځ تفکیک وکړي او پدې به ځنګه پوه شي چې د هغه حقوق څه دي، ځومره به ښه وای چې د بایسکلونو پرځای افغاني میرمنو ته د تعلیم زمینه برابره شوای وای.

خو شینین ګلپن دا کار هیڅکله نکوي ځکه چې د فیمنیستانو هدف د یوې ټولنې پرمختګ نه بلکې په ټولنه کې د ټولنې افرادو ترمنځ واټن زیاتول وي او بس.

بله مسله د یوې ټولنې په بلې ټولنې د خپلو اصولو د منلو ده. په امریکایې ټولنو کې د ښځې رول او کارونه د افغانستان په پرتله فرق کوي، افغاني ټولنه مسلمانه ده او امریکایې ټولنه مسلمانه نده نو بیا د یوې نا مسلمانې ټولنې په مسلمانې کې مداخلت او د هغوی دیني او ملي ارزښتونو ته په نه کتلو سره کار کول افغانانو ته د برداشت ور ندي.

امریکا داسې یوه ټولنه ده چې هلته هره دوه دقیقو کې له یوې بې ګناه ښځې سره جنسي تیری کیږي چې میرمن شینی ګیلپن هم د همدې جنسي تیري ښکار شوی. د نورو مالوماتو لپاره لاندې لینک وګورئ:

https://rainn.org/get-information/statistics/frequency-of-sexual-assault

دغه فیصدي الحمدلله په افغانستان کې په نشت حساب ده نو میرمن شینن ګلپین افغان میرمنو ته هم د امریکا په ستر ګو ګوري. افغانستان داسې یو هیواد دی چې میرمنې په عمومي توګه د ډیرو نعمتونو څخه برخمنې دي. افغاني میرمنې هم د خور، د میرمن او مور په حیث ییل حقوق لري. د مثال په توګه په افغانستان کې د یوې مور قدر کول یو ځوی یا لور ته د ثواب او فخر خبره ده خو برخلاف په امریکایې او غربي ټولنو کې مور او پلار فقط د سپین ګیر توپ په عمر کې خپل ځانګړی قدر او احترام لري کوم چې د اسلامي او افغاني ټولنو په پرتله هیڅ هم ندی. نور هم داسې بې شمیره مثالونه شته چې دا مور ته څرګندوي چې افغاني میرمنې هغسې ندي ځنګه چې غربیان او امریکیان فکر کوي.

په راتلونکی برخه کې به هڅه وکړو ترڅو ګلپین او د نورو فیمینستانو له هغه پروژو څخه پرده پورته کړو چې ګویا دوی د فیمینزم په خپرواي کې د نارینه وو ملاتړ لپاره هم کار کوي او د هغه سرویګانو او ویبسایټونو په هکله به هم خبره کوو چې دوی د همدې کارونو د پرمختګ لپاره په کار اچولي.

ستر فتوحات او لويې سياسي لاسته راوړنې

حسن زوی

دسړني پسرلي په رارسېدو چې ددين او ملت نه ددفاع او دصليبي اشغال نه دهيواد دآزادۍ په لار کې دقوي او بااثره ګامونو پورته کولو اوخارجي او داخلي دښمن ته دلويو ملاماتونکو ګوزارونو ورکولو لپاره اسلامي امارت دعزم په نوم پسرلني عمليات اعلان او دهيواد په لر او بر کې په پوخ عزم او لوړ مورال عملاً پيل شويدي تولې نړۍ وينې چې ددې مبارکو جهادي عملياتو په برکت بې له استثناء دپلازمېنې په شمول دټول هيواد هره برخه دخارجي اشغالګرو ځواکونو او دهغوئ دګوډاګيانو لپاره داسې سره تبې ګرځولې ده چې ،،نه پاته رفتن او نه جای ماندن،، مصداق ګرځېدلې .

افغان مجاهد او ميړنې ملت چې دتاريخ په اوږدو کې تل هرتجاوزګر ته دخپل وحدت ښکاره کولو او حريت خوښونکي طبيعت په ځواک ملاماتونکي ګوزارونه ورکړيدي چې له املې يې دلته لويو تجاوزګرو خپلې ککرۍ خوړلې دي او اميدونه يې دخاورو سره خاورې شويدي ربښتيا داده چې دعزم په نوم سړنو پيل شويو کاميابو جهادي عملياتو په داسې لوړ شان او شوکت سره دا تاريخ ژوندی کړ چې دد ښمن تولې مانۍ يې ولړزولې ؛ دعزم دعملياتو په جريان کې پرد ښمن دامارت دقهرمانو مجاهدينو دتندريزو ګوزارونو په نتيجه کې دخدای په فضل دقندوس نه تر نورستانه اوله بدخشانه تر فراه او هلمنده فراخې سيمې او غونډې غونډې ولسوالۍ فتحه شوې که دانصاف په نظر وکتل شي نودا دپر ستر تاريخي فتوحات دي.

په خولې خوبه داخبره وړه خبره ښکاري چې په شمال زون کې ولسوالۍ فتحه کېږي اولويې سيمې دمجاهدينو تر واک لاندې راځي خو په حقيقت کې دا دېره لويه او نه پوائې دافغانانو بلکې دنړۍ دټولو مسلمانانو لپاره هيله ښونکې اودسترې خوښۍ خبره ده چې دامريکا په مشری کې ټول صليبي زبرځواکونه اوددوئ ګوډاګيان دې دنړۍ دترټولو عصري ټېکنالوژۍ او پرمختلفو جنګي وسايلو دشتون او سره دټولو کوښښونو دخپلې قبضې لاندې سيمې دشمېر په لحاظ دکمو او دوسايلو په لحاظ دکمزورو طالب مجاهدينو نه ونشي ژغورلای.

پدې چې ځومره زياته خوښي ښکاره شي اوداللہ تعالی ځومره زيات شکر اداشي کم دی

قابضو بهرنو ځواکونو او ددوئ ګوډاګیانو چې دهیواد شمال دځانونو لپاره مصئونه ساحه ګڼله او داسلامي امارت نفوذ یې یواځې په جنوب او لویدیځ پورې تړلو دهیواد په شمال کې دخارجي اشغالګرو او مزدور رژیم دلاس نه دګڼو سیمو او ولسوالیو وتل او دمجاهدینو لاس ته یې لوېدل دمجاهدینو هغه ستر بریالیتوب دی چې دخارجي او داخلي دښمن لوړ رتبه فوځي او ملکي مشران پرې هم په لوېدلې مورال اعتراف کوي او ښه په روښانه ټکو وایې چې دهېواد په مهمو او ستراتیژیکو سیمو دطالبانو قبضه ډېره خطرناکه ده.

دا فتوحات دومره ستر او روښانه دي چې خارجي او داخلي دښمن یې بیخي له توجیه نه عاجز دي او په نړۍ کې یې دډېرې سترې رسوایۍ سره مخامخ کړیدي؛ نورچې هیڅ ندي ورپاتې اولار لودن ترې بېخي خطادی نوددې لباره چې ځانونوته د اوړوپوزه کېږدي ددې سیمو او ولسوالیو دبېرته نیولو دروغجنې دعوې کوي چې دسیمې دوګړو له لورې ددوئ ددې دعوو دکلک تردید له امله دوئ په دې هڅو کې هم ناکامېږي.

دمجاهدینو ددې سترو فتوحاتو او ددښمن دستر شکست نه پس شنونکي ښه په زغرده وایې چې په لږې مودې کې دطالبانو دادومره سترې لاسته راوړنې ددې دلیل دی چې دبهرنو ځواکونو په مقابل کې دولس کرکه او په ګوډاګۍ اداري یې بې باوري اوج ته رسېدلې ده اوپدې خبرې کې اوس دشک ځای پاتې نه شوچې اسلامي امارت په ټول هېواد کې دولس دپراخه ملاتړ نه برخمن دی؛ که ولس مجاهدینو ته ځای ورنکړي او ترشا یې نه وي ولاړ نو څرنګه به دا دومره فتوحات وکړای شي؟

بهرني مکار دښمن په تېرو ۱۴کلونو کې دافغانانو دتجزیې ډېرې هڅې وکړې څوک به یې موافق ګڼلو او څوک به یې مخالف؛ دجنوب او ختیځ سیمې به یې خطرناکې او دشمال سمت به یې دامن سیمه ګڼله دا دافغانانو دتجزیې ډېره خطرناکه هڅه وه خوله نېکه مرغه چې له هماغه پیل نه ناکامه وه؛ افغانانو چې دتاریخ په اوږدو کې تل دخارجي دښمن په مقابل کې خپل وحدت ساتلی دی ددې سترصلیبي دښمن په مقابل کې یې هم خپل وحدت له لاسه ورنکړ او سره له ټولو کوښښونو دښمن پدې ونه توانېد چې افغانان په قومونو، ژبو او سمتونو وویشي.

داسمه ده چې پرافغانستان ديرغل نه وړاندې چې دامريکايانو سره په پنجشېرکې دوطن پلورلوترون لاسليک کېدلونو ددې وطن پلورونکوتولوترڅو دشمال سره وخودشمال عام مسلمانان پردين اووطن مين مسلمانان دي دوئ چې څرنګه دروسانو په مقابل کې خپله کرکه ښکاره کړې وه دصليبي اشغالګروپه مقابل کې يې هم خپله کرکه اومېرانه ښکاره کړه چې دادی دهمدې مېرانې په برکت اوس سترفتوحات رامنځته اوددښمن امېدونه دخاورو سره خاورې شول .

داسلامي امارت نه دولس ملاتړ او په ګوډاګي اداري دولس بې باوري اوس دومره روښانه ده چې نړۍ ته ترې هم نور سترګې پټول ناشوني دي او مجبوراً دعمل په ډګرکې پدې حقيقت اعتراف کوي چې دولس اعتماد يوائې په اسلامي امارت دی او يوائې اسلامي امارت ددې حقدار دی چې دولس نمايدګي وکړي او دافغانستان دستونزې دحل په اړه يې نظر ته رجوع وشي نو ځکه يې دسياسي دفتر مشران دپګواش او اوسلو په څېر نړيوالو کانفرنسونو ته وربلل.

دسياسي چارو دکارپوهانو په اند دنظامي ډګر ترڅنګ په ديپلوماتيک ډګر کې داسلامي امارت ډېره لويه لاسته راوړنه او ددښمن سياسي او اخلاقي شکست دی .

داسلامي امارت دداسې سياسي لاسته راوړنې پرمهال به علني دښمن او هم دلستونې مارانو پراسلامي امارت دولس او مسلمان ملت دبدګمانه کولو ډېرې هڅې کولې او دا تبليغات به يې کول چې طالبان دخپل موقف نه ټېرشول او يايې دجهادي اهدافو سره جفا وکړه،خو ددې ديپلوماتيک اوسنۍ پرمختګ سره چې يوځای نظامي ډګر هم ښه ګرم دی او دخدای په فضل لوی فتوحات رامنځته شويدي نو دوئ ددغې پوچو تبليغاتو جرأت هم ونشو کولای.

دا چې له يولوړې دبهرنو اشغالګرو او ګوډاګيانو له لورې پردې مظلوم ولس ډېر ستر وحشتونه او ظلمونه روان دي اوله بلې خوا دښمن دخپلو مکارو رسنيو پرمټ خپل ځانونه سپين بازان ګرځولي دي او نړۍ ته مجاهدين ظالمان او وحشيان معرفي کوي او پدې اړه دنړيوالو اذهان مسخ کوي اسلامي امارت دحقايقو نه دنړۍ خبرول ډېر اړين او ګټور بولي او ددې سې هر نړيوال ستېج نه دغه ګټه پورته کول دځان لپاره ښه چانس بولي او ترې ګټه پورته کوي، اسلامي امارت ته چې هروخت موکه په لاس ورغلې ده اومناسب يې ګڼلي دي نو په همدې ارادې يې په نړيوالو ياد سيمې په سطح جوړوشويو کانفرانسونو او مجالسو کې ګډون کړيدی او په راتلونکې کې به هم همدا هدف تعقيبږي.

لله الحمد چې ددښمن ټول تبليغات اوس ناکام دي ولس او مسلمان ملت سل په سلو کې مطمئن دی چې په نړيواله کچه دداسې هڅو اوسرګرميو ترشا نور هيڅ اهداف نشته طالبان دخپل موقف نه ټېرېدونکي دي ؛ نه يې دعالي اهدافو سره جفا کړيده او نه به يې وکړي ان شاءالله تعالى

د طواغيتو يو ستر شباهت!

محمد جمال خطيب

د الله جل جلاله نظام داسې جوړ دی، چې د نړۍ طاغوتان د تاریخ په مختلفو پراوونو کې سره ډېر ورته تېر شوي .یو ستر شباهت چې ان له فرعونه راد پخوا تر ننه پورې په کې زورواکان سره ورته دي، د هرې ټولنې د کبرجنو د تصویر قدرِ مشترک ګڼل کیږي.

دا مرض له غرور او "ذاتي انطواء" زیږي .ذاتي انطواء دا معنا چې یو څوک په خپل شخصي او اجتماعي ژوند کې له خپل ذاته څرخي .هر څه کې ورته خپل ځان مهم وي او دا له هر څه وړاندې د ستر نفاق نښه هم ده .الله جل جلاله د منفقانو په اړه فرمایي :{ وَطَائِفَةٌ قَدْ أَهَمَّتْهُمْ أَنْفُسُهُمْ يَظُنُّونَ بِاللَّهِ غَيْرَ الْحَقِّ ظَنَّ الْجَاهِلِيَّةِ}. یوه ډله ده ځانونه ورته ډېر مهم ښکاري، په الله جل جلاله نا حقه او جاهلي ګمانونه کوي.

د همدې بېکاره مرض پایله کې غرور او ذاتي انطواء زیږي او انسان داسې څه ځان ته غواړي او له نورو یې سلبوي، چې د ده حق نه وي او پر هغوی یې ورکړه لازمه نه وي .دا مرض هله وبایي صورت اخلي، چې کله د واک، شان او شوکت نشه سر ته وخیژي.

دا خلک د خپل واک او هیلې د پر ځای کولو لپاره تر ټولو مخکې او تر ټولو ستر جنایت دا کوي، چې حقایق مسخ کول غواړي، واقعیتونه بدلول غواړي، خو حق چرته مسخ کیږي او واقعیت چرته بدلیږي !خبرې په خپل حقیقت نه حملوي، بلکې کوښښ کوي، چې په خپل کار و زیار کې له تزویره کار واخلي.

دا کار د فرعون په سیاست او واک کې تر ټولو ډېر ښکاره دی .موسی علیه السلام دعوت ورکړ، چې ي، الله ومنه او د هغه عبادت وکړه .ده که څه هم موسی علیه السلام سره

کافي بحث وکړ، خو طبعي ده، چې د فرعون خبره ماته ده، ځکه چې خلاف العقل ده، نو يې دا کوښښ ونه کړ، چې خبرې ته دلايل وګوري، علماء وروغواړي، بلکې کوښښ يې وکړ، چې حقيقت بدل کړي.

په موسی علیه السلام يې دعوه وکړه، چې ته خو ساحر يې او بيا خلکو ته مخاطب شو، چې ای خلکو ادا دواړه ورونه ساحران دي او غواړي، چې تاسې له خپلې خاورې او وطنه وباسي .فرعون وايي :{ قَالَ لِلْمَلَإِ حَوْلَهُ إِنَّ هَذَا لَسَاحِرٌ عَلِيمٌ * يُرِيدُ أَنْ يُخْرِجَكُمْ مِنْ أَرْضِكُمْ بِسِحْرِهِ فَمَاذَا تَأْمُرُونَ} يعنې فرعون خپلې شورى ته وويل، چې سړی خو ډېر پوه ساحر دی او مطلب يې دا دی، چې له دې ځايه مو وباسي .مشوره مو څه ده؟

د فرعون دربار د ده له چاپلوسو او برېښو ډک و .هيڅا داسې مشوره ورنه کړه، چې صيب دا خلک بل څه وايي، ته يې خبره واوره، دا خبره قابل غور ده، بلکې هغوی هم په واز کومي دا خبره بدرګه کړه، نو ځکه بل ځای قرآن کريم دا خبره دوی ته منسوبوي :{ قَالَ الْمَلَأُ مِنْ قَوْمِ فِرْعَوْنَ إِنَّ هَذَا لَسَاحِرٌ عَلِيمٌ * يُرِيدُ أَنْ يُخْرِجَكُمْ مِنْ أَرْضِكُمْ فَمَاذَا تَأْمُرُونَ}.

دا د کبرجنو او زوروا کو عادت وي او همدا عادت ټول متکبرين سره تړي، چې حقه خبره نه اوري او د داعي خبره کړي.



زموږ د الله علیه وسلم همداسې وکړل. ورته د الله رسول يادوله، بلکې چې د خپلې پېموخه خبرې کړي، چې خلک تړي وا نه وړي او زور يې ختم نه شي.

ستر پیغمبر صلی مخالفینو هم کومه خبره چې کوله، هغه يې نه کوښښ يې کاوه، سرداری، د ساتلو معکوسې تعبير کوي، چې د حق معکوسه تعبير

څو ځل يې په اعلان شوي ډول رسول علیه السلام ته وفد وروا ستوه، چې ته څه غواړې؟ که مال غواړې، نو له ټولو قومونو به درته مال راټول کړو، تر ټولو مالدار به ته شې .که مشري

غواړي، مورِ ټول به په یو اتفاق تا د خپلې ساحې مشر وټاکو .که کومه ښځه دې خوښه وي، راویې ښیه، ګنې مورِ به وګرځو او د قریشو تر ټولو حسینه او مالداره ښځه به درته وکړو .

دوی ورسره په اصل خبره دلایل نه ویل، بلکې کوښښ یې کاوه، چې خپلو ناپوهانو ته وښییې، چې ګوندې دا سړی یوازې او یوازې د دوی د خدایانو توهین او کوي او دې کې یې څه چل دی .درځئ دا خبرې وریادې کړئ، که اصل مقصد یې ښکاره شي او له ستونزې خلاص شو.

رښتیا داسې نه و چې ګوندې دوی د رسول علیه السلام په مقصد نه پوهېدل، ځکه چې د دوی دا حقایق پټول هم له هوښیارۍ او زیرکتیا وو، ګنې نا پوهه او بې عقله انسان داسې تدابیر نه شي جوړولی .دوی ښه پوهېدل چې پیغمبر څه وایي، مګر د هغه وینا ورته ډېره درنه تمامېده، ځکه چې کبرجن وو، زور واکان وو، متکبر وو .دا چې الله جل جلاله د حق د اظهار فیصله کړي وي او د دوی هر چل او مکر کار نه ورکوي، دا نو د الله جل جلاله د خاص نصرت مظهر دی.

نن هم زورواکان او جابر خلک همداسې کوي او د خپلو متکبرو اسلافو په قدم ځي. کوښښ کوي، چې موضوع بدله وښییې او داسې یې معرفي کړي، چې ګوندې د مال، منصب، جاه وجلال او پردي مشن خبره ده .کوښښ یې وکړ، چې د هر طاغوت دربار ته حاضري ورکړي او د دوی په ګمان ځان له غمه خلاص کړي!!

دا د عقیدې او فکر جهاد دی او تر هغې به روان وي، چې عقیده او فکر یې ایجابوي .د چا د مشن او استخباراتي هدف خبره نه ده، ګنې څه یې ګڼئ، چې ستاسې له ټولو فشارونو او درباري حاضریو سره سره په پارلمان درننوتل؟ څه یې ګڼئ چې د کابل زړه یې درته سور اور کړ؟ څه یې ګڼئ چې عزم مو پرلپسې ولسوالۍ درنه اخلي؟ څه یې ګڼئ چې تر بل هر وخته او تر بلې هرې ورځې یې ستاسې خوب تروړلی؟

دا د دربارونو خبرې نه دي، د جګړې عوامل لرې کړئ!

دالله په نزد مجاهد له نورو خلکو نه غوره دی

قاری محب الله صافی

قال الله تعالى)فَضَّلَ اللَّهُ الْمُجَٰهِدِينَ بِأَمْوَٰلِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ عَلَى الْقَٰعِدِينَ دَرَجَةً وَكُلًّا وَعَدَ اللَّهُ الْحُسْنَىٰ وَفَضَّلَ اللَّهُ الْمُجَٰهِدِينَ عَلَى الْقَٰعِدِينَ أَجْرًا عَظِيمًا دَرَجَٰتٍ مِّنْهُ وَمَغْفِرَةً وَرَحْمَةً وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا) (1.(

الله تعالی په سر او مال سره جهاد کوونکو ته په کورکې دناستو خلکو په نسبت ډیره غټه درجه ورکړی ده. که څه هم له ټولو سره یې د جنت وعده کړی ده خو الله تعالی مجاهدینو ته په ناستو خلکو باندې ډیرلوی اجر په ذریعه فضیلت ورکړی دی. هغوی لپاره دالله له لوری نه لویی لویی مرتبې دي، بخښنه او رحمت دی او الله تعالی بخښونکې او مهربان دی.

)وروى البخاري ومُسْلِمٌ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الخُدْرِيِّ، أَنَّ رَجُلًا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ أَيُّ النَّاسِ أَفْضَلُ؟ فَقَالَ «رَجُلٌ يُجَاهِدُ فِي سَبِيلِ اللهِ بِمَالِهِ وَنَفْسِهِ» ، قَالَ ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ «مُؤْمِنٌ فِي شِعْبٍ مِنَ الشِّعَابِ يَعْبُدُ اللَّهَ رَبَّهُ، وَيَدَعُ النَّاسَ مِنْ شَرِّهِ») (2.(

بخاري او مسلم له ابو سعید خدري رضی الله عنه نه روایت کوي چې یو سړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغې او پوښتنه یې وکړه چې کوم خلک غوره دي؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هغه مؤمن چې دالله په لاره کې پخپل ځان او مال سره جهاد کوي. هغه وویل بیا څوک؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هغه سړي چې دغرونو په یوه ناوه (دره) کې ځان ته اوسیږي اودخپل رب عبادت کوي اوخلکو ته شرنه رسوي.

امام نووي رحمه الله وایي چې په حدیث کې خاصتاً په درې کې اعتزال مراد ندې بلکې مطلق ګوښه والي مراد دې اګر پخپل کور کې وي اوپه حدیث کې یې د درې یادونه څکه وکړه چې دا غالباً له خلکو نه خالي وي(3.(

رسول الله صلی الله علیه وسلم په صراحت سره ویلي دي چې جهاد له ګوشه نیشی نه غوره دی او په دی باندې د الله تعالی دا قول دلالت کوي:

)لَا يَسْتَوِي الْقَاعِدُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ وَالْمُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ) (4.(

بې له عذره ناست مومنان له هغو مجاهدینو سره برابر نه دي چه د الله په لیارکې پخپلو مالونو او ځانونو سره جهاد کوي.

الله تعالی ته جهاد له ټولو نه محبوب عمل دی

)روی الترمذي والبیهقي والحاکم عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَلَامٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَعَدْنَا نَفَرٌ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْنَا :لَوْ نَعْلَمُ أَيَّ الْأَعْمَالِ أَحَبُّ إِلَى اللَّهِ عَمِلْنَاهُ فأنزل الله عزوجل: سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفْعَلُونَ كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللَّهِ أَنْ تَقُولُوا مَا لَا تَفْعَلُونَ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِهِ صَفًّا كَأَنَّهُمْ بُنْيَانٌ مَرْصُوصٌ (5) فقرأها علینا رسول الله صلی الله علیه وسلم (6(

ترمذي، بیهقي او حاکم له عبد الله بن سلام رضی الله عنه نه روایت کوي چې هغه وویل: مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم څو اصحاب په یو ځای کې ناست وو. مونږ وویل: که چېرې مونږ پوه شو چې کوم یو عمل الله تعالی ته محبوب دی نو همغه به وکړو، نو الله تعالی دغه آیت شریف نازل کړ.

ترجمه: د اسمانونو او زمکې ټول څیزونه دیو الله پاکي بیان کړې ده او هغه په هرڅه برلاسئ او د حکمت څښتن دی. ای مومنانو! هغه څه ولې وایئ چې نه یې کوئ، د الله په نزد ډیره لویه ګناه ده چې هغه څه ووایئ چې کوئ یې نه ځکه الله تعالی یوازې هغه خلک خوښوي چې په لاره کې یې د تړلې صف په شکل جنګ کوي لکه چې دوی کلک کړای شوی دیوال وي.

له نازلیدو ورسته رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه آیت مونږ ته ولوست.

وَفِي رِوَايَةٍ أُخْرَى لِلْبَيْهَقِيِّ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَلَامٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ نَاسًا مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالُوا :لَوْ أَرْسَلْنَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَسُولًا يَسْأَلُهُ عَنْ أَحَبِّ الْأَعْمَالِ إِلَى اللَّهِ !فَلَمْ يَذْهَبْ إِلَيْهِ أَحَدٌ مِنَّا ،وَهِبْنَا أَنْ نَسْأَلَهُ عَنْ ذَلِكَ. فَدَعَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُولَئِكَ النَّفَرَ، رَجُلًا رَجُلًا ، حَتَّى جَمَعَهُمْ، وَنَزَلَتْ فِيهِمْ هَذِهِ السُّورَةُ (سبح الله...) قَالَ ابْنُ سَلَامٍ فَقَرَأَهَا عَلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلَّهَا (7(

او بیهقي له عبد الله بن سلام نه یو بل روایت داسې نقل کړی دی چې: د رسول الله صلی الله علیه وسلم له اصحابو نه څوتنو وویل: که مونږ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته خپل یو استازې لیږلی وای چې له هغه صلی الله علیه وسلم نه د هغو اعمالو پوښتنه کړې وای چې د الله ډیر خوښ دي. له مونږ نه هیڅوک د هغه صلی الله علیه وسلم خواته ورنغې، او مونږ دا غوښتل چې په دی باره کې له هغه صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړو.

بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه کسان یو یو راوغوښتل تر دې چې ټول یې سره راجمع کړل او د هغوی په باره کې (سبح الله...) سوره صف نازل شو.

ابن سلام وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم داتول بیامونږ ته ولوست.

له جهاد سره هیڅ شې نشي برابرېدلې

)روی مسلم عن أبي هريرة رضی الله عنه قال: يارسول الله ! مَا يَعْدِلُ الْجِهَادَ فِي سَبِيلِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ؟ قَالَ: «لَا تَسْتَطِيعُونَهُ» ، قَالَ: فَأَعَادُوا عَلَيْهِ مَرَّتَيْنِ، أَوْ ثَلَاثًا كُلُّ ذَلِكَ يَقُولُ: «لَا تَسْتَطِيعُونَهُ «، وَقَالَ فِي الثَّالِثَةِ: «مَثَلُ الْمُجَاهِدِ فِي سَبِيلِ اللهِ كَمَثَلِ الصَّائِمِ الْقَائِمِ الْقَانِتِ بِآيَاتِ اللهِ، لَا يَفْتُرُ مِنْ صِيَامٍ، وَلَا صَلَاةٍ، حَتَّى يَرْجِعَ الْمُجَاهِدُ فِي سَبِيلِ اللهِ »(8)

له ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې چې ما رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل: ای دالله رسوله ! له فې سبیل الله جهاد سره څه شې برابرېدلې شي؟ هغه صلی الله علیه و سلم وفرمایل: تاسې دهغه توان نلرئ.

دوه درې کرته مودا پوښتنه تکرار کړه، خو هربوځل یې همدا ویل چې طاقت یې نه لرئ؟ بیا یې وفرمایل: دالله په لاره کې دمجاهد مثال دهغه روژه دار، اولمونځ ګذار په شان دی چې مسلسل په قیام کې ولاړ دالله جل جلاله دآیتونو تلاوت کوي ترهغه پورې نه له روژو سترې کیږي نه له لمونځو، چې دالله دلارې مجاهد بهرته راشي.

)قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: دُلَّنِي عَلَى عَمَلٍ يَعْدِلُ الْجِهَادَ؟ قَالَ: «لَا أَجِدُهُ» قَالَ: «هَلْ تَسْتَطِيعُ إِذَا خَرَجَ الْمُجَاهِدُ أَنْ تَدْخُلَ مَسْجِدَكَ فَتَقُومَ وَلَا تَفْتُرَ، وَتَصُومَ وَلَا تُفْطِرَ؟» قَالَ الرَّجُلُ: وَمَنْ يَسْتَطِيعُ ذَلِكَ؟.(9) (

بخاري له ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت کړیدی چې یوسړي وویل: ای دالله رسوله ! ماته داسې یو کار وښایه چې له جهاد سره برابروي. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: زه داسې کارنه وینم چې له جهاد سره برابروي .بیا یې وفرمایل: ایاته ددې وس لرې چې کله مجاهد جهادته ولاړشي له همغه وخت نه خپل مسجد ته ننوځي او مسلسل په لمونځ ودریږي او سترې نشي. او روژې ونیسي مګر ماتې یې نکړي؟ سړي ورته وویل یارسول الله ! ددی طاقت او توان څوک لرلی شي.

داصحابو پشان خلکو ددې طاقت او توان نه درلود چې داسې یو عمل ترسره کړي چې له جهاد سره برابر ثواب ولري. ددې سره سره چې اصحابان دلوې همت اود پاکو نفسونو خاوندان وو، له دیني شهامت نه ډک وو، له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یې دصحبت په وجه اجرونه دوچند وو په هرې نیکئ کې به یې مسابقه کوله خاصتاً په جهاد کې یې او چتو مرتبو ته ځانونه رسولي وو، که هغوی له جهاد سره برابر کوم عمل ندی موندلی نو دمونږ غوندې خلکو زړونه به څنګه په لږ غوندې عملونو سره سکون ترلاسه کړي او څنګه به له زیار باستلو پرته زمونږ سترګې یخې شي سره له دې چې زمونږ په عملونو کې ریا زیاته او اخلاص پکې کم دې. اوپه زړونو کې موډول ډول سوچونه اودسیسې پرتې دي؟

ای الله ! زمونږ زړونه له دغه غفلت نه بیدار کړه. اودجهاد توفیق راپه نصیب کړه. څکه دهر خیرغوښتنه یواځې له تاڅخه کیږي. اودګناهونو دپریښودلو اونیکیو دکولو توفیق ورکوونکې یواځې ته یې.

)وَخَرَّجَ ابْنُ عَسَاكِرَ عَنْ أَبِي الْعَادِيَةِ الْمُزَنِيِّ قَالَ: سَمِعْتُ عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَهُوَ يَخْطُبُ عَلَى الْمِنْبَرِ وَيَقُولُ: يَا أَهْلَ الْمَدِينَةِ ! أَلَا تَأْخُذُونَ

بحظكم ونصيبكم من الجهاد في سبيل الله؟ ألا [illegible]

[illegible]

هغه وايي چې له عثمان بن عفان رضي الله عنه څخه مې واوربدل، هغه په منبر باندې په خطبه کې ويل اي دمدينې خلکو! ايا جهاد في سبيل الله کې خپل حصه اوبرخه نه آخلئ ايا تاسې دشام او دعراق [illegible]

په الله قسم! له تاسو نه چې څوک دالله په لاره کې [illegible] پخپل کور کې پرله پسې روژې نيسي او نه يې ماتوي او مسلسل په لمانځه ولاړ وي او نه ستړی کيږي.

اخځليکونه:

- [illegible]
- [illegible]
- [illegible]
- 4 النساء: ۹۵.
- 5 الصف: ۴
- 6 اخرجه الترمذي: ۵/ ۸۵ والبيهقي في السنن الكبرى: [illegible]
- 7 البيهقي في السنن الكبرى: ۹/ ۵۹ والحديث [illegible]
- [illegible]
- 9 اخرجه البخاري برقم: ۲۷۸۵.

دتراويحو په مينځ کې خبري يا خوراک اوڅښاک؟؟

الاستفتاء: رقم ۲۱۱۵ زموږ حافظ صاحب دهرو څلورو رکعتونو تراويحو په مينځ کې يا ددو رکعتونو په مينځ کې اوبه څښې نو په دې سره يې تراويحو ته تاوان رسيږي اوکنه؟ همدا راز ځيني خلک دتراويحو په دغه ناسته کې يوله بل سره خبري کوي تراويح خو به يې نه خرابيږي؟

الجواب حامدا ومصليا وبعد: که دعذر له امله اوبه څښې پروا نه لري اولمانځه ته هم تاوان نه رسيږي، اوکه عذر نه وي نو بيا په دې هکله دعلماؤ دوي رايې دي:

۱ =داچې دغه ډول عمل يې مبطل داجردی يعني دتراويحو ثواب يې ختم شو

۲ =اودوهم داچې دغه عمل يې منقص دثواب دی مبطل نه دی.

اوهمدغه حکم دخبرو هم دی.

په هرصورت احتياط داده چې که سخت ضرورت نه وي له دې عمل دې ډډه وکړي.

وفي الدر المختار ۲۱۱۲ شامله وطبع اخرى ۵۰۳۱۱) ولو تكلم بين السنة والفرض لا يسقطها ولكن ينقص ثوابها) وقيل تسقط (وكذا كل عمل ينافي التحريمة على الاصح) قنية.

وفي الخلاصة : لو اشتغل ببيع أو شراء أو أكل أعادها وبلقمة أو شربة لا تبطل، ولو جئ بطعام، إن خاف ذهاب حلاوته أو بعضها تناوله ثم سنن، إلا إذا خاف فوت الوقت، ولو أخرها لآخر الوقت لا تكون سنة، وقيل تكون.

وفي الشامي ۱۵۸\۵) قوله وفي الخلاصة إلخ) الظاهر أنه استدراک على ما صححه في المتن تبعا للقنية لأن جزم الخلاصة بقوله أعادها يفيد أنها تسقط بقرينة قوله بعده لا تبطل: أي لا يبطل كونها سنة فإنه يفيد أن الإعادة لبطلان كونه سنة وإلا لم تصح المقابلة تأمل.

)قوله ولو جيء بطعام إلخ) أفاد أن العمل المنافي إنما ينقص ثوابها أو يسقطها لو كان بلا عذر ،

رمضان فرصتي براي دگرگوني

عبدالخالق احسان

بر دروازه هاي رمضان :

رمضان با روشنايي، طراوت، خوبي ها و پاكيزگي هايش در شُرف آمدن است، مي آيد تا انسان ها را بر محور قوت تصميم گيري و دگرگوني در برابر سختي ها و پيروزي در مقابل مشكلات زندگي تربيه كند.

پيامبر صلي الله عليه وسلم قدوم و تشريف آوري رمضان را به اصحابش تبريک گفته و آنان را بشارت مي داد، و براي شان مي فرمود: «رمضان ماه مبارک نزد شما آمد كه خداوند روزه آن را فرض گردانيده، درين ماه دروازه هاي بهشت باز مي شود، دروازه هاي دوزخ بسته شده و شيطان ها به زنجير كشيده مي شوند. درين ماه شبي است كه از هزار ماه برتر است، كسي كه از بركات اين ماه محروم شود درحقيقت از همه فضايل محروم مانده است». احمد.

رمضان وتغيير :

تغيير نفوس افراد، امت ها و ملت ها، نياز مبرم عصر حاضر است، تغيير سنتي از سنت هاي الله متعال در جهان آفرينش به شمار مي رود. خداوند جل جلاله مي فرمايد: {إِنَّ اللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّى يُغَيِّرُوا مَا بِأَنْفُسِهِمْ} رعد.(11) خداوند حال و وضع هيچ قوم و ملتي را تغيير نمي دهد (و ايشان را از بدبختي به خوشبختي، از ناداني به داناي، از ذلت به عزّت، از نوكري به سروري، و.. و بالعكس نمي كشاند) مگر اين كه آنان احوال خود را تغيير دهند.

تغيير از وضعيت موجود به وضعيت مطلوب به تمنا و آرزو حاصل نمي شود؛ بلكه عمل پايدار، نيت خالصانه و روش استوار را مي طلبد. ماه رمضان فرصت حقيقي تغيير بوده و برنامه عملي براي اصلاح نفس ها و قلب ها و آغاز حقيقي در بناي امت اسلامي محسوب مي گردد.

رمضان ماه ايجاد تغيير و انتقال روحي و جسمي است كه اوضاع ما را اصلاح كرده و از درون تغيير مان مي دهد و تغيير مثبت اراده قوي، عزم راستين و تلاش خستگي نا پذير مي خواهد.

خداوند مي فرمايد: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ} بقره (183) اي كساني كه ايمان آورده ايد! بر شما روزه فرض شده است، همان گونه كه بر كساني كه پيش از شما بوده اند فرض بوده است، تا باشد كه پرهيزگار شويد.

اگر ماه تغيير را غنيمت ندانيم و خويشتن را دگرگون نكنيم، عمر ما ضايع مي گردد و نمي توانيم عليه تزوير و حقه بازي و بيهوده گي قيام كنيم پيامبر صلي الله عليه وسلم مي فرمايد: « كسي كه سخن دروغ و عمل فريبكارانه را ترك نكند، خداوند نيازي به ترك خورد و نوش او ندارد». بخاري و نيز مي فرمايند » :روزه حقيقي تنها ترك خورد و نوش نيست، بلكه روزه حقيقي ترك بيهوده ها و اموز لغو مي باشد؛ اگر كسي ترا دشنام داد و همراه تو بي عقلي نمود، برايش بگو: من روزه دارم» حاكم.

مهمترين دستاور دهاي تغيير در رمضان:

تسليمي در برابر حكم الله متعال، اجرا و تطبيق اوامر شريعت او تا شخص در تمام حالات زندگي اش تقوي الهي را رعايت نمايد، رمضان با برنامه هاي خدايي ويژه اش، ضامن تغيير طبيعي و مطلوب زندگي فردي و خانوادگي باشد.

يک ديگر از دستاور هاي تغيير در رمضان، دقت و التزام و تنظيم درست اوقات مي باشد؛ چنانچه همه مسلمانان را ميبيني كه بر سفره افطاري نشسته منتظر اذان اند، از خورد و نوش و همبستري خود داري مي كنند، و در حالت اداي نماز هاي فرض و نماز تراويح صفوف مرصوصي را تشكيل داده اند.

زيباترين لحظه يي تغيير در رمضان:

اين لحظه مهم و حساس، لحظه افطار است كه نبايد يک دقيقه تأخير شود؛ چنانچه رسول خدا صلي الله عليه وسلم فرمودند: «امت تا وقتي سعادتمند اند كه به افطار عجله نموده و سحري را تأخير نمايند» اين لحظه ي دلنشين روابط صميمي را بين اقشار امت و خانواده ها نهادينه مي سازد.

كامل ترين مورد تغيير در رمضان:

اين كه انقلاب هاي ملي ونتايج آن را كه نعمت الهي اند، پاس داريم؛ چون تغيير سريعي كه رونما گرديد، نشانه مدد الهي است و نيز اين را ثابت مي سازد كه اين سنت كوني در توان انسان مي باشد.

حالا در رمضان اين فرصت طلايي به ميان آمده تا ملت هاي عربي انقلاب هاي شان را حفظ كرده و آزادي شان را نصيب شوند. سالم ماندن تغييري كه ملت ها به آن تمسک جسته، انقلاب هاي شان را هميشه حفظ مي كنند و در مقابل مشكلات ثابت قدم اند، اين نتيجه كمک الله متعال است كه غرب و شرق و دانشمندان سياسي و فكري مسلمان و غير مسلمان را متحير نمود.

:

شكستاندن پرده خوف و ترس است تا ثابت شود كه قوت حقيقي در گرو پناه جستن به خداوند و مدد خواستن از اوست در مقابل اين روحيه قوي، طاغوت نمي تواند بار ديگر ملت هاي ما را برده خويش سازد و نمي تواند انواع ستم و طغيان

بر ما بقبولاند ؛ چون خداوند مي فرمايد: { وَنُمَكِّنَ لَهُمْ فِي الْأَرْضِ وَنُرِيَ فِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَجُنُودَهُمَا مِنْهُم مَا كَانُوا يَحْذَرُونَ} قصص(6) و ايشان را در سرزمين (مصر) مستقر گردانيم و سلطه و حكومتشان دهيم ، و بر دست مستضعفان ، به فرعون و هامان و لشكريانشان چيزي را بنمايانيم كه از آن در هراس بودند .

رمضان ماه تغيير و اصلاح امت:

روزه از بزرگترين شعائر اسلامي است كه همه امت مسلمه با تمام دولت ها ، مذاهب، زبان ها وعرف هاي شان به آن سهيم اند طوري كه تمام امت در جهان اسلام اتفاق نظر دارند كه روزه ماه رمضان فرض بوده و از اركان اسلام مي باشد. در رمضان تشويق و ترغيب زيادي براي دادن زكات وجود دارد كه دادن زكات سهم فعالي در مداواي مشكلات بيكاري و ارتكاب جرايم دارد ؛ چنانچه كه فقر جهاني را ريشه كن مي سازد. آمار نشان مي دهد كه بيشتر از يک ميليارد و صد ميليون فقير و تنگدست در جهان بشري وجود دارد. در رمضان صدقه فطر است كه همه مسلمانان پرداخت مي كنند تا تكافل اجتماعي حقيقي تحقق يابد. در بيشتر از 130 آيه قرآني و صدها احاديث نبوي به انفاق و مصرف كردن مال براي مسلمان و غير مسلمان ترغيب شده است.

رمضان امت اسلامي را به استقلال فرا مي خواند تا در مقابل هجوم جهاني شدن كه انسان ها را به دوري از اساسات اخلاقي مي كشاند، مقاومت كرده و امت ويژه ي باشند ؛ چون امت اسلامي صبغه و نماي بخصوصي دارد. خداوند مي فرمايد: {صِبْغَةَ اللهِ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللهِ صِبْغَةً وَنَحْنُ لَهُ عَابِدُونَ} بقره(138) (خداوند ما را با آئين توحيدي و ايمان راستين زينت داده است و) اين رنگ و زينت خدا است و چه كسي از خدا (ميتواند (زيباتر بيارايد و بپيرايد ؟ و ما تنها او را ميپرستيم.

در اخير برخي پيروزي هاي امت اسلامي را در درازناي تاريخ در ماه رمضان ياد آور مي شويم:

آغزوه بدر رمضان سال دوم هجري

آفتح مكه رمضان سال هشتم هجري

آفتح اندلس به رهبري طارق بن زياد در 28 رمضان 92 هجري قمري آواقعه عين جالوت در 15 رمضان 658 هجري كه مغول ها شكست خوردند.

آپيروزي ما بر صهيونست هاي غاصب در دهم رمضان 1383 هجري قمري

اين همه پيروزي ها مطابق وعده پروردگار جهانيان است كه مي فرمايد: {وَكَانَ حَقّاً عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِينَ} روم(47) و همواره ياري مؤمنان بر ما واجب بوده است.

ما اگر در رمضان خويشتن را تغيير دهيم به نصرت خداوند نزديكتريم {وَيَقُولُونَ مَتَى هُوَ قُلْ عَسَى أَن يَكُونَ قَرِيباً} اسراء(51) و مي گويند : چه زماني اين (معاد) خواهد بود ؟ بگو : شايد كه نزديک باشد .

د روژې لومړۍ لسیزه

د رحمتونو د وربښت ورځې

حبیب الله زیار

د روژې مبارکه میاشت په دې برخو ویشل شوې ده، چې لومړیو لسو ورځو ته یې د رحمتونو لسیزه وایي
د روژې د لومړیو لسو ورځو د رحمتونو ښایست په همدې کې دې چې پدې کې د برکتونو او
نیکمرغیو لپاسه نور برکتونه وي.

مسلمانان پدې پوه دي چې روژه یو روحاني فرصت دې، مګر رحمتونه په حقیقت کې د مسلمانانو لپاره څه معنی لري؟

د الله تعالی یو نوم الرحمان دې، یعنې ډیر زیات رحم کونکې، او مسلمانان چې هر کار کوې نو د الله دغه نوم پکې یادوي. نو دا به کومه د حیرانتیا خبره نه وي چې رحمتونه په هغه میاشت کې ډیر راځرګند شې کومې ته چې الله خپله میاشت ویلې ده.

په یو قدسي حدیث کې الله تعالی فرمایي:

اې د آدم زویه، تر هغه چې ته له ما غوښتنه کوې او په ما تکیه کوې، زه تاته بخښنه کوم او هغه څه چې تا کړي زه یې بد نه ګڼم. ای د آدم زویه، که ستا ګناهونه د اسمان تر وریځو ورسیږي، او بیا هم ته له ما بخښنه وغواړې، نو زه به درته بخښنه وکړم. ای د آدم زویه، که ته پرته لدې چې له ما سره شریک ونیسې ماته له دومره ګناه سره راشې چې دا ټوله زمکه به پرې ډکه شي نو زه به درته بیا هم بخښنه وکړم. (البانې دغه حدیث د منلو ور(صحیح) ګرځولې)

ډیر مومنان به پدې اړه ډیر وارخطا وي چې روژې ته پداسې حال کې ننوځي چې ډیر ګناهونه په پوهه او غلطي. ورنه شوي. خو سره لدې هم الله تعالی ورته د بخښنې وعده ورکوي. او دا هم ورته راپه یادوي چې له شرک څخه ځان وساتي.

په پورته ذکر شوي حدیث کې الله تعالي مونږ ته دا رایادوي چې هغه جلاجلاله الرحمان او الرحیم یعني ډیر زیات مهربان او رحم کونکي دي. د الله په رحمت کې راتاویدل او د جنت غوښتنه خو هغه څه دي چې هر مسلمان یې له الله تعالی څخه غواړي او د هغه جلاجلاله له عذاب څخه ویره کوي. الله تعالی فرمایي:

قُلْ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا مِن رَّحْمَةِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ (الزمر ۵۳)

ووایه، ای زما هغو بنده ګانو چې پر خپلو نفسونو مو تیري کړي، د الله تعالی له رحمت څخه مه نا امیده کیږئ. یقینا الله ټول ګناهونه بخښي. او هغه په ریښتیني ډول بخښونکي او مهربان دي.

دعا او ذکر د الله تعالی د رحمت کیلیګاني دي

د مسلمانانو لپاره تر ټولو غوره لاره چې د الله عبادت پکې وکړي دا ده چې په لومړیو لسوورځو کې پداسې حال کې چې د جنت دروازې خلاصې او د دوزخ دروازې بندې دي او د الله د بنده ګانو لپاره د الله نه د رحمت د غوښتو ښه وخت او موقع ده، دوي دې الله تعالی ته د رحمت دعاګاني او اذکار کوي، او الله تعالی هیڅکله هم له خپلې وعدې نه اوړي. یوه ډیره ښه دعا دا هم ده:

وَقُل رَّبِّ اغْفِرْ وَارْحَمْ وَأَنتَ خَيْرُ الرَّاحِمِينَ (المومنون ۱۱۸)

او ووایه ای زما ربه! بخښنه وکړه او رحم وکړه، بیشکه ته غوره رحم کونکې یې.

دغه راز الله تعالی فرمایي:

فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ وَاشْكُرُوا لِي وَلَا تَكْفُرُونِ (البقره ۱۵۲)

تاسو ما یاد ساتئ زه به تاسو یاد ساتم او زما شکر پرځای کړئ او ناشکري مه کوئ.

دا یقینا یوه غوره یادونه ده چې تل د الله تعالی څخه د مهربانۍ او رحمت دعا وغواړو، فرق نکوي که زمونږ غوښتنه هر څومره ورو او یا هم کمزوري وي او یا که مسلمانان په هر څومره مشکلاتو کې اخته وي. بنده ګان باید هیڅکله هم د الله تعالی له رحمت څخه نهیلي نه شي.

روژه پخپله یو رحمت دي

د اسلام دیو بنا په ډول د روژې نیول خپله یو رحمت دي. په روژه کې مسلمانان د ښه صحت لرونکي وي او له معنوي اړخه ډیر قوي کیږي. مسلمانان په روژه کې په ډیرو کمو خوړو هم شکر وباسي او د هغه چا په حال خبریږي چې له دوي لږ لري او یا هم دومره بیوزله وي چې د روژه ماتې لپاره ورته د اړتیا ور خواړه هم نه پیدا کیږي.

روژه د مسلمانانو لپاره یو چانس دي چې په هغه څه شکر وباسي چې الله ورکړي، او د هغه چا له حاله خبر شي چې له دوي یې حال خراب او له ډیرو مشکلاتو سره مخ وي.

مګر الله تعالی لدی هم د زیات شي وعده کړیده، هغه فرمایي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ (البقره ۱۸۳)

اې مومنانو روژه پرتاسي فرض شوې لکه څرنګه چې په تیرو امتونو فرض شوې وه، ښایې چې تاسو پرهیزګاره شی.

یقینا روژه د مسلمانانو لپاره د الله یو تر ټولو غوره مال دی. ده چې خپلو بنده ګانو ته یې ورکړي او د روژې دغه ټول برکات او رحمتونه به مونږ هلته لاسته راوړي وي چې په صحیح توګه او لکه څرنګه چې لازمه ده د الله تعالی بنده ګي وکړو.

روژه ونیسه او د رحمتونو په دې دور کې له الله وغواړه

د روژې لمړۍ لس ورځې لکه څرنګه چې مخکې یادونه وشوه د رحمتونو د ورښت ورځې دي او الله تعالی خپل بې انتها رحمتونه په خپلو ټولو هغو بنده ګانو وروي چې ښه عملونه کوي او د نیکو عملونو بدله په څو برابره زیاته ورکوي او حتی الله تعالی پدې ورځو کې هغه چاته چې غافله او بد عمله دي او په صدق توبه وباسي بخښنه کوي. الله تعالی پدې میاشت کې د مسلمانانو زړونه پاکوي او هغوي ته په صحیح او ښه ډول د الله تعالی د عبادت کولو لار ورښایي.

الله تعالی فرمایي:

وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ (الذاریات ۵۶)

او ما (الله) نه دي پیدا کړي پیریان او انسانان مګر د عبادت لپاره.

روژه خو یقینا ډیر فضیلت لري او یو بهتري یې په دې کې هم ده چې الله وایي روژه زما ده رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: الله تعالی فرمایي: د ادم د زوی هر عمل د خپل ځان لپاره دي غیر له روژې څخه، روژه زما لپاره ده او زه به یې بدله (روژه نیونکي) ته ورکوم. په حقیقت کې د روژه دار د خولې بوي الله تعالی ته د مښکو له بوي څخه غوره دي بخاري.

پدې ډول بې اندازې اجرونه او ثوابونه به د روژې په جریان کې ټولو هغو خلکو ته ورکول کیږي چې یوازې د الله تعالی عبادت وکړي او په اخلاص توبه وباسي.

د سید التابعین

حسن بصري (رح) ژوند ته لنډه کتنه

حمدالله دانشمند

د حسن بصري (رح) د پلار نوم ابوالحسن یسار د زید بن ثابت (رض) مریی وو، او د مور نوم یې (خیرة) دامّ سلمې (ام المؤمنین رضي الله عنها) مینځه وه چې د ده مبارک پلار (ابوالحسن یسار) ور سره له اعتاق وروسته د عمر (رضي الله عنه) د خلافت په دور کې واده وکړ.

حسن بصري (رح) په مدینه منوره کې په کال (۲۱ ه- سپوږمیز) کې، د یاد خلیفه (رض) د خلافت په وروستو کې وزېږېد، د ژوند لومړی پړاو یې په «وادي القری» نومي ځای کې بشپړ کړ.

حسن بصري (رح) د علم، زهد، تقوی، شجاعت، او فصاحت تر څنګ د هر ښه صفت او لوړو کمالاتو ویاړ لاره، چې نوموتو او مخکښو علماؤ یې په اړه بېلا بېلې ستاینې کړې، د ده مبارک و دې ستر مقام ته د رسېدو (۲) لامله په ګوته شوې:

لومړی: ده د ام المؤمنین "ام سلمې" (رض) په مبارکو شیدو وده کړي.

دویم: امیر المؤمنین "عمر" فاروق (رض) و ده ته دا دعا کړي «اللهم فقهه فی الدین، و حببه الی الناس،» ژباړه: اې الله (ج) ته و ده (حسن بصری [رح]) ته په دین کې پوهه ور په برخه کړه، او خلکو ته یې ور دوست کړه، له "ابوعمرو الشباب" (رح) نه د ده په سند نقل شوی، وایې: «ام سلمې (رض) به د ده مور) خیره) د یو کار لپار واستوله ده به ژړل، هغې مبارکې به په خپل تي اراماوه، کله به یې "صحابه کرمو" (رض) ته ور ویست هغوی (رض) به ورته د برکت دعا وکړه، یوه ورځ یې و عمر (رض) ته ور ویست، هغه مبارک ورته د "دیني پوهي "... دعا وکړه،. «

نوموړي د "ابن الجزري" په قول قرائت په "حطان بن عبدالله الرقاشي"، "ابو العالیه" او "زید بن ثابت" (رض) تر سره کړ. د نوموړي روایت له عمران بن حصین، مغیرة بن شعبة، عبد الرحمن ابن سمرة، نعمان بن بشیر، ابن عباس، عمرو بن تغلب، معقل بن یسار، انس بن مالک او نورو ډېرو صحابه وونه ثابت دی، له دې نه هم ډېرو روایت کړی.

حسن بصري (رح) نوموتی خطیب، د ډیر نرم زړه خښتن وو،

نبي علیه السلام مبارک به د جمعې د خطبې پر مهال د ونې یو وچ ډډ (لرګي) ته تکیه وهله، کله چې خلک ډېرشو نو علیه السلام مبارک و فرمایل: «ځما لپاره یو منبر تیار کړی، چې کله هغه مبارک منبر ته د خطبې لپاره بالا شو یاد لرګی و علیه السلام مبارک ته په ژړا شوانس (رض) وایې: څه په مسجد کې وم ژړایې ما په مسجد کې اوربده، تر هغو یې ژړل چې نبي علیه السلام ور ښکته شو، او په غېږ کې یې ونیو بیا قرار شو. «

حسن بصري (رح) چې به دا حدیث بیانوه د ه مبارک به وژړل بیا به یې وویل » : اې د الله (ج) بندګانو! وچ لرګی نبي علیه السلام ته ژاړي ورنه د ویصال او ملاقات غوښتنه کوي، نو تاسو خو هرو مرو باید نوموړی مقام خپل کړئ. «

نور بیا...

ماخذ: خلاصه له (سیر اعلام النبلا ۴/ ۵۸۵) او (معجم حفاظ القران ۱/ ۸۰(

قریب ته صدقه ورکول افضل دی او که مجاهد ته؟

قریب ته صدقه ورکول افضل دی او که مجاهد ته؟

پوښتنه یو تن وایې زما قریبان مساکین دي آیا له قریبانو سره مرسته کول بهتر دي او که له مجاهدینو سره؟ احمد الله خادم

الجواب: له مجاهدینو سره مرسته کول له تصدق[خیرات] سره سره مالي جهاد هم دی، کله چې په یوه اسلامي ملک باندي کفار یرغل وکړي نو په مسلمانانو باندي چې بدني جهاد فرض ګرزي همداسې مالي جهاد هم فرض دی،

همدا راز مجاهدینو ته دمال په ورکړه سره دنړۍ تولو مسلمانانو ته نفع رسیږي ، ځکه څومره چې دمجاهدینو مرسته کیږي هغومره مجاهدین له مسلمانانو څخه دفاع کولی شي.

همدا راز که یو تن نه خپله جهاد ته ځي او نه دمجاهدینو مالي مرسته کوي ،او نه دهغوئ دکورونو ساتنه کوي داسې تن په منافقانو کې ګڼل کیږي او سخت ګنهګار دی.

فی السیر الکبیر ۱/۲۷ أن الصرف إلی فقراء المجاهدین أولی من الصرف إلی غیره م لان فیه معنی الصدقة والجهاد وإیصال منفعة ذلک إلی جمیع المسلمین بدفع أذی المشرکین عنه مبقوته وفیه أن ترک الجهاد وترک إعانة المجاهد والخیانة للمجاهد فی أهله لاتجتمع إلافی نافق اھ

(جنګي جنايتونه) جون

سيدسعيد

دروان (۲۰۱۵،ز) کال د جون د مياشتي په ۴مه نيټه د ننګرهار ولايت د اچين ولسوالۍ په پخي خوړ سيمه کي د يو ملکي هيوادوال (غلام نبي) په مازدا موټر يرغلګرو ډرون حمله کړې، په حمله کي نوموړی شهيد شوی او موټر يې ويجاړ شوی دی.

د جون په ۴مه د نورستان ولايت دوانت وايګل ولسوالۍ بيله سيمه کي داخلي عسکرو يو قومي مشر (حاجي عبدالبصير) د طالبانو سره داړيکو درلودو په تور شهيد کړی دی.

د جون په ۴مه د پروان ولايت د سياه ګرد ولسوالۍ په رحيم خيل سيمه کي د داخلي عسکرو د هاوان مرمۍ دواده په مراسمو لګېدلې ده، چې له کبله يې درې ماشومان شهيدان شوي او پنځه تنه ژوبل شوي دي.

د جون په ۵مه د خوست ولايت د علیشيرو ولسوالۍ په بتي سيمه کي د يرغلګرو ځواکونو د ډرون په برید کي پنځه ديرش تنه ولسي هيوادوال شهيدان او يو شمېر نور ټپيان شوي دي، د يادي شوې پېښې د څرنګوالي په اړه ويل شوي چې هغه مهال رامنځته شوه چې په سيمه کي يو قومي مشر وفات شوی ؤ، تر دفن کيدلو وروسته يې خلک پلي اوموټرو کي خپلو کورنو ته په لاره ووچې پر دوو موټرو باندي د يرغلګرو بې پيلوټه الوتکي برید وکړ چې له املې يې يا ده شوې ولسي مرګ ژوبله رامنځته شوې ده. د خوست ولايت د کوچي قبيلو مخورو دغه پېښه په سختو ټکو وغندله او د عاملينو د محاکمې غوښتنه يې وکړه، دوی هغه اوازې چې په پېښه کي طالبان وژل شوي په ټينګه رد کړه او زياته کړه چې په دغه حمله کي وژل شوي او ټپيان شوي ټول ملکي وګړي دي.

همدا راز د جون په ۵مه د غزني ولايت د مرکز مربوط په نوغي کلي باندي داخلي عسکرو هاوانونه اورولي، هاوانونه په سيمه کي د رحمت الله پرکور لګيدلي، د نوموړي په کور کي د واده مراسم ووچې له همدې املې يې پراخه مرګ ژوبله رامنځته کړې ده، د عيني شاهدانو په وينا چې د توپخانې په ياد شوي برید کي اووه تنه ملکي هيوادوال (احمد دشير محمدزوی، ذکی الله او رفيع الله د علم الدين زامن، ميرزاخان د عبدالرحمن زوی، اميرمحمد دشيرآغا زوی، سميع

الله او اخترمحمد) شهيدان شوي او دوه تنه نور ژوبل شوي دي.

د جون په ۵مه د بدخشان ولايت د جرم ولسوالي په فرغامنج سيمه کي عسکرو يو ملکي وګړي شهيد کړی دی.

دجون په ۷مه رسنيو داسي خبرونه خپاره کړل چي د غزني ولايت دقره باغ ولسوالي په جرګنه، کاکا کلا او اکبر کلا سيمو کي اربکيانو د خلکو شنه فصلونه او باغونه له منځه وړي، او دوه سوه کورنۍ يې له سيمي څخه کډه کولو ته اړيستلي دي،خلکو رسنيو ته ويلي چي کوم وخت طالبان پر اربکيانو برید وکړی،اربکيان دخپلو توپکو خولې پر دوی وروګرځوي او ولسي وګړي په ننبه کوي.

د جون په ۸ مه د پکتيکا ولايت د نګه ولسوالي په ورسکي سيمه کي داخلي عسکرو د طالبانو سره ترجګړې وروسته ديرش تنه ولسي وګړي د بنديانو په توګه له ځان سره وړي دي.

د جون په ۸مه د غزني ولايت د واغز ولسوالي په سعادت کلا کلي کي د ځايې عسکرو دثقيله وسلو په ډزو کي يوه ښځه شهيده او دوې نجونې زخميانې شوي دي.

دجون په ۹مه د بادغيس ولايت د غورماچ ولسوالي د محمدخان کاريز په سيمه کي دداخلي عسکرو د توپخانې په برید کي يو ملکي سړی شهيد شوی او يوه ښځه ټپي شوې ده.

دجون په ۱۳مه د هرات ولايت دشندنډ ولسوالي په زوال سيمه کي د داخلي عسکرو په ډزو کي نهه تنه ولسي وګړي وژل شوي او پنځلس نفره ژوبل شوي دي. دهرات ولايتي شورى پخواني غړي تور محمد ظريفي ويلي چي امنيتي ځواکونو بې له خبرني د خلکو پر کورونو هاوانونه اورولي دي ، د پيښې په غبرګون کي ولسي وګړي د شيندنډ ولسوالي مخ ته را غونډ شوي وو او د دغې فاجعې د عاملينو دژر ترژره محاکمې غوښتنه يې کوله .

دجون په ۱۳مه د کونړ ولايت د وتپور ولسوالي په قرا سيمه کي ديرغلګرو د ډرون په برید کي دري تنه ولسي هيوادوال (معلم عبدالقدوس او دوه تنه لاروي) شهيدان شوي دي.

د جون په ۱۴مه د کندوز ولايت د امام صاحب ولسوالي په تاشګذر سيمه کي د ځايې عسکرو د هاوان مرمۍ پر يو کور لګيدلې،په يادشوي کو رکي څلور تنه کاريګر په کار بوخت وو چي توله په دغه برید کي شهيدان شوي دي.

دجون په ۱۴مه د غزني ولايت د قره باغ ولسوالي په شا غولي سيمه کي د داخلي عسکرو دهاوان په ډزو کي دوې ښځې شهيداني شوې او د يوې ښځې په شمول دري کسان ژوبل شوي دي،د غزني دولايتي شورى غړی عصمت الله جامرادوال هم رسنيو ته ويلي چي ذکر شوی ولسي زيان د اردو د ډزوله املې رامنځته شوی دی.

دجون په ۱۴مه دفراه ولايت د پشترود ولسوالي په مربوطاتو کي دکورنيو عسکرو د هاوان په ډزو کي يوه ميرمن شهيده شوې او يوه ښځه او سړی ژوبل شوي دي.

دجون په ۱۴مه دفراه ولايت د ګلستان ولسوالي په مربوطاتو کي دداخلي عسکرو د هاوان په ډزو کي دوې ميرمني او دري سړي ژوبل شوي دي.

دجون په ۱۴مه دزابل ولایت د مرکز (قلات) اړوند سیجان کلي کې د کورنیو عسکرود هاوان په برید کې د یوه کور دوه ځوانان شهیدان شوي او یو نفر زخمي شوی دی.

د جون په ۱۵مه د کاپیسا ولایت د نجراب ولسوالۍ په افغانیه سیمه کې د کورنیو عسکرو دهاوان په برید کې دوه تنه ولسي وګړي شهیدان شوي ،یو تن ژوبل شوی او ګڼ کورونه زیانمن شوي دي.

دجون په ۱۲مه دغوروولایت دشینکوټ ولسوالۍ په نورک سیمه کې داخلي عسکرو وروسته له هغه چې رینجرموټر یې د مځکنې ماین ښکار شودولسي خلګو لس کورونه سوځولي دي.

دجون په ۱۷مه د زابل ولایت د شاجوی ولسوالۍ د ګاجوی په سیمه کې داخلي عسکرو پر دوی د یوې چاودنې څخه وروسته ګڼ ولسي خلګ وهلي او پنځه تنه یې بندیان کړي دي.

د جون په ۱۹مه د زابل ولایت د شاجوی ولسوالۍ په بازارکې اربکیانو یو ملکي وګړی چې دموټرسایکلونو مستریخانه یې کوله شهید کړی دی.

د جون په ۲۰ مه د کونړ ولایت د مروړې ولسوالۍ په مانوګي کلي کې د داخلي عسکرو د توپخانې په حمله کې یو ماشوم شهید شوی او درې کوچنیان ټپیان شوي دي.

د جون په ۲۳ مه د کندوز ولایت د چهاردرې ولسوالۍ د سرک بالا په خان رسول سیمه کې یرغلګرو پر یو مسجد دډرون په حمله کې اته تنه ماشومان چې د قران شریف په زده کړه بوخت وو شهیدان او ټپیان کړي دي.

د جون په ۲۷ مه د فاریاب ولایت د ګرزیوان ولسوالۍ په مردیان سیمه کې د ځایې عسکرو دهاوانونو په برید کې څلور کورنه تخریب شوې او یوه ښځه پکې ژوبله شوې ده.

دجون په ۲۸ مه د کونړ ولایت د غازي اباد ولسوالۍ په جلاله سیمه کې د اردو عسکرو له طالبانو سره تر ننښتي وروسته دولسي وګړو یو ټونس ډوله موټر په نښه کړی دی، د عیني شاهدانو په وینا په دغه برید کې درې تنه ملکي هیوادوال شهیدان شوي دي.

دجون په ۲۸ مه د دایکندي ولایت د اجرستان ولسوالۍ په سیدخیلو سیمه کې د کورنیو عسکرو د هاوان په ډزو کې یوه ښځه شهیده شوې او دوه نفره ټپیان شوي دي.

دجون په ۲۹مه د ارزګان ولایت د دهراود ولسوالۍ په مزارکلي کې د داخلي عسکرو دهاوان یوه مرمۍ پر یو کور لګیدلې چې له املې یې د ښځو او کوچنیانو په ګډون دولس تنه ولسي وګړي ژوبل شوي دي.

مأخذونه:[بي بي سي راډیو ،ازادي= ،افغان اسلامي اژانس ،پژواک ،خبریال ویبپانه ،لراوبر= ،نن تکی اسیا=اوبینوا=]

دافغانستان اسلامي امارت

د سیاسي فعالیتونو په اړه

د رهبري شورا اعلامیه

ټولو ته معلومه ده چې اسلامي امارت د خپلو چارو د پرمخ بیولو لپاره څانګړي اداري تشکیلات لري، چې هره اداره ور سپارل شوي کارونه، د اسلامي امارت له تګلارې او اصولو سره سم پرمخ وړي، او دا هم واضحه ده چې اسلامي امارت د سیاسي چارو لپاره د سیاسي دفتر په نامه تشکیل لري، چې تر اسلامي امارت پورې د اړونده ټولو داخلي او خارجي سیاسي چارو مسولیت ور سپارل شوی، له کوم وخت راهیسي چې سیاسي دفتر جوړ شوی له هغه را په دیخوا بل هېڅوک د دې صلاحیت نه لري چې د اسلامي امارت د مشرتابه یا هم سیاسي دفتر له اجازې پرته د اسلامي امارت په استازیتوب له چا سره د سیاسي چارو په اړه لیده کاته وکړي، که داسې څه شوي وي او یا له دې وروسته کېږي، هغه یو شخصي تصرف دی، چې په هېڅ ډول د اسلامي امارت استازیتوب نشي کولی .

د اسلامي امارت رهبري شورا.

۱۴۳۶/۹/۷هـ ق

۱۳۹۴/۳/۴هـ ش- 24/6/2015م

په روژه کې دې د ځان لپاره هدف ټاکلې؟

ژباړه: وحید الله

د ارزښتناک ژوند د لرلو لپاره په ژوند کې د هدف ټاکل او هغې ته د رسیدو لپاره هڅې کول اړین دي. هغه انسان خپل عمر د باد په خوله ورکوي چې پخپل ژوند کې د ځان لپاره موخې ونلري او د هغوی د لاسته راوړو په موخه زیار و نه باسي. دا خبره د ټولو انسانانو په اړه ریښتنې ده که هغه مسلمان وي یا کافر. مګر د مسلمان لپاره دا ډیره ارزښتناکه موضوع ده چې د خپل ژوند تر ټولو مهم هدف یې د الله(ج) د رضا حاصلول او د جنت لاسته راوړل وي.

ځکه نو ریښتنی مسلمان باید پخپل ژوند کې د ځان لپاره هدف ولري. البته د ژوند په دواړو مرحلو کې، د پوره ژوند هدف او د هرې هغه دقیقې لپاره هدف کوم چې دی یې د ځمکې پر سر تیروي.

هیڅوک لدې انکار نشي کولای چې انسان د یوه ټاکل شوي هدف لپاره پیدا شوی، د هغه هدف لپاره کوم چې الله پاک یې پدې توګه بیانوي (ما ندي پیدا کړي جنیات او انسانان مګر دا چې زما عبادت وکړي) (سوره الذاریات ۵۵)

الله(ج) خپلو بندګانو ته هر وخت موقع او فرصت ورکوي تر څو دوی د الله پاک لوري ته ستانه شي. چې یو له هغوی نه د روژې میاشت ده تر څو مسلمانان په نومورې میاشت کې خپل نیک اعمال زیات او د ګناهونو څخه لاس واخلي، چې پدې توګه دوی ته د جنت د لاسته راوړلو زمینه برابره شي.

روژه هغه میاشت ده په کومه کې چې الله پاک د نیکو کړنو بدله دوه چنده ورکوي او همدارنګه د روژې میاشت پر شیطان باندې د غالبیدو تر ټولو ښه چانس دی. نو د ځان لپاره هدف وټاکه او د هغې د لاسته راوړلو لپاره زیار وباسه . پدې میاشت کې داسې هدف وټاکه چې د دوزخ له اوره د وژغورې او د الله(ج) د رحمت وړ دې وګرځوي. نومورې هدف ته کولای شې په لاندې توګه ځان ورسوې.

د روژې په نیولو سره:

په روژه کې دا د ځان لپاره هدف وټاکه چې د ټولو هغه شیانو څخه به ځان ساتې له کومو چې الله(ج) منع کړی یې. نو د خیانت، درواغو، غیبت، غصې .... نه ځان وساته د روژې لپاره دغه درې کرنې ډیرې مشهورې دي.

۱- د خوړلو، څښلو او مقاربت نه ځان ساتل.

۲- له ګناهونو څخه د سترګو، غوږنو، ژبې، لاسونو، پښو .... ساتل

۳- زړه د بلې هرې مشغولتیا نه ساتل او یوازې د الله پاک یادول.

اوس نو کوم شیان دي چې تا الله(ج) ته ورنژدې کوي او یاده شوې دریمه کړنه درته محیا کوي.

د شپې لمونځ:

دا د ځان لپاره هدف و ګرځوه چې کم تر کمه به ۸،۲ رکعاته د تهجد لمونځ کوې. هیڅ عذر ته اجازه مه ورکوه چې تا د نوموړې کار څخه منعه کړي.

قرانکریم:

دا هم د ځان لپاره خپل هدف و ټاکه چې کم تر کمه په روژه کې باید یو ارد قرانکریم ختم وکړې. که د قرانکریم په لوستلو کې مشکل لرې نه یې شې لوستلای نو غوږ ورته ونیسه چې کولای شې دا کار د رادیو او یا نورو وسایلو له لارې وکړې.

خپلوي پالل:

د روژې په میاشت کې باید د خپلو خپلوانو سره راشه درشه زیاته کړې، البته د هغو خپلوانو سره چې د ژوند مصروفیتونو ته د هغوی نه لرې کړې یې. د دې چارې تر سره کولو لپاره یوه اندازه پیسې بیلې کړه شاید ته وکړای شې د ۱۰۰ روپیو په مصرف سره ځان خپلو خپلوانو ته ورنژدې کړې چې پدې توګه د الله(ج) رضا هم لاسته راوړل کیږي.

صدقه:

د خپلو پیسو یوه اندازه دې د صدقې لپاره بیله کړه او د الله پاک په نوم یې مصرفوه. دا دې له یاده ونه وزي چې هر نیک عمل ته په روژه کې دوچنده اجر ورکول کیږي.

حضرت محمد(ص) فرمایي: د صدقې په ور کړې سره ځان د دوزخ له اوره وستاتی (تبراني) که چرې دا د ځان لپاره ورځنی هدف نشې ټاکلی درته ستونزمن وي نو په ۱۰ ورځو کې د صدقې لپاره پیسې بیلوه او بیا یې یوه ورځ د الله(ج) په نوم ورکوه.

ذکر:

خپله ژبه د الله(ج) په یاد لمده وساته د ذکر په واسطه ځان الله پاک ته ورنژدې کړه کوم شی چې کول یې ډیر اسانه او اجر یې ډیر زیات دی.

دعا:

په هر حالت کې ریښتنی مسلمان باید د مؤمنانو نوموړې سلاح (دعا) استعمال کړي. په روژه کې ډیره دعا کوی ځکه چې په نوموړې میاشت کې مسلمان د عبادت په وجه الله(ج) ته ورنژدې وي او دعا یې قبلیږي. او دا هم له یاده مه باسه کومه دعا چې د زړه له خلاصه وشي الله پاک یې بې ځوابه نه پریږدي.

نو د روژې په میاشت کې خپلې دنیوي مشغولتیاوې کمې کړه او آخرت ته پام وکړه ترڅو ځان د دوزخ لـه اوره وژغورې. په یاد شویو تکو عمل کول ډیر آسانه دي د هغه چا لپاره چې الله(ج) آسانه کړي وي.

دروسيې او لوېديځ روانه سړه جګړه

او پر سيمه يې اغېزې

په ۲۰۱۴ کال کې د اوکراين له بحران سره ډېرې سياسي څېړونکو د روسيې او لوېديځ په تېره بيا اروپا ترمنځ د دويمې سړې جګړې په اړه تبصرې وکړې او نړۍ يې ډيوې نوې سړې جګړې پر خوا تللې وبللې. د اوکراين بحران لاهم نه دی ختم شوی او د روسيې -امريکا او لوېديځ اړيکې هم نه دي عادي شوې. په همدې حالت کې د روسي ولسمشر ولاديمير پوتين له تازه څرګندونو او بيا دغو څرګندونو ته د ناټو او امريکا له ځوابونو داسې ښکاري چې د روسيې -لوېديځ کړکيچ به نور هم ژور شي او دا نوې (دويمه) سړه جګړه به نور هم زور واخلي.

د دې ترڅنګ د روانې مياشتې (جون) پر ۲۴مه او ۲۵مه په بلجيم کې د ناټو د دفاع وزيرانو غونډه هم وشوه، چې د روسيې، اروپا او افغانستان په تړاو پکې خبرې وشوې. دا چې نړۍ د ډيوې بلې سړې جګړې پر خوا روانه ده، د دغې نوې سړې جګړې شاليد څه دی او د روسانو او اروپا ترمنځ د امريکو دغه کړکېچن پراوبه پر سيمې او نړۍ او په تېره بيا افغانستان څه اغېزې وښندي.

د قضيې شاليد په ۱۹۱۷ کال کې په روسيه کې د کمونستانو له انقلاب سره د لوېديځ پانګوال نظام له يوه کمونست رقيب نظام سره مخ شو او بيا له دويمې نړېوالې جګړې وروسته په رسمي توګه د شوروي او لوېديځ ترمنځ "لومړی" سړه جګړه پيل شوه، چې په نړيواله کچه يې د ژوند پر ډېرې برخو اغېزې وښندلې. اروپا او امريکا د شوروبانو او د کمونستانو د پراخېدونکي نظريې پر خلاف په ۱۹۴۹ کال کې په اروپا کې د ناټو سازمان جوړ کړ او د دغه سازمان په پنځمه ماده کې راغلي وو» :په يوه برېد، پر ټولو برېد دی «!

د دې ترڅنګ د امريکا ولسمشر ټرومين د خپل دکترين له مخې په آسيا او اروپا کې د کمونيزم نظريې حصار غوښت او وروسته بيا د "آيزن هاور" په دوره کې امريکا د منځنۍ ختيځ او سوېلي آسيا هېوادونو سره يوځای د سيټو او سېنټو په ټرونونو کې ننوت. دغو

تر ونونو پر شوروي څه اغېزه ونه ښندله خو کله يې چې پر افغانستان يرغل وکړ، د شوروي حيثيت ته يې زيان ورساوه او د نړۍ دېرې هېوادونه د افغان مجاهدينو تر شا ودرېدل چې له کبله يې شوروي له افغانستانه وتلو ته اړ شو.

نوې سړه جګړه په ۱۹۸۹ کال کې چې کله شورويان له افغانستان څخه ووتل، نو په اروپا او منځنۍ آسيا کې د خپلواکۍ غوښتونکو، په افغانستان کې د دوی د پوځي، سياسي او ډيپلوماتيکي ماتې او خپلو اقتصادي ستونزو له کبله بالآخره شوروي اتحاد منحل شو. د شوروي اتحاد په منحل کېدو سره په ختيزه اروپا او منځنۍ آسيا کې يو شمېر هېوادونو خپلواکي تر لاسه کړه او د نړۍ پاملرنه يې د ځان په لور ورجلب کړه.

که څه هم په دغو هېوادونو کې يو شمېر واکمنان د شوروي اتحاد همغه پخواني کمونستان وو، چې په ځينې ځايونو کې د هغوی په لرې کېدو باندې د لوېديځ او روسيې تر منځ اختلافات راپورته شول او وروسته بيا دغه اختلافات په بحرانونو او جګړو واوښتل.

په ۲۰۰۳ او ۲۰۰۴ کال په جورجيا او اوکراين کې د روسي- پلوو پر خلاف پاڅونونه پيل شول، چې د ګلاب او نارنجي انقلابونو په نامه ياد شول. دغو پاڅونونو روسي پلوي واکمنان ګوښه کېدو ته اړايستل او له کبله يې د روسيې او لوېديځ اړيکي ورځ تر بلې کړکيچني شوې. په ۲۰۰۳ کال چې په جورجيا کې لوېديځ پلوی حکومت راغی نو د جورجيا او د روسيې تر منځ د «ابخازيه» او «سوبلي اوزيتي» په سيمو لانجې پيل شوې. په ۲۰۰۸ کال کې دغه لانجې اوج ته ورسېدې او روسيې پر جورجيا يرغل وکړ چې له کبله يې د ابخازيې سيمې خپلواکي اعلان کړه.

همدا راز په ۲۰۰۴ کال کې په اوکراين کې روس -پلوي مشر "وېکتر يانوکووېچ" تاکنې وګټلې؛ وروسته بيا خلکو د تاکنو د پايلو پر خلاف نارنجي پاڅون پيل کړ، چې له کبله يې د اوکراين ستر ې محکمې د بياتاکنو پرېکړه وکړه او په دويم ځل تاکنو کې لوېديځ پلوي "وېکتور يوشېنکو" بريالی شو او په دې توګه د روسيې او لوېديځ اړيکي خرابې شوې؛ ځکه پوتين لوېديځ پر دې تورناوه چې د يانوکووېچ د بريا پر ضد پاڅونونو ته د لوېديځ له خوا لمن وهل شوې ده.

په ۲۰۱۰ کال کې بيا تاکنې وشوې او د ځل روس پلوي وېکتر يانوکووېچ يو ځل بيا واک ته ورسېد او د هېواد بهرنۍ سياست يې پر ناپېيلتوب متکي کړ. دغه حکومت له ۲۰۱۰ څخه تر ۲۰۱۳ کال پورې له اروپايي اتحاديې او روسيې سره ښې اړيکې درلودلې، خو کله چې وېکتر يانوکووېچ له اروپايي اتحاديې سره د ملتيا تړون پر سر خبرې اترې پيل کړې او خبره يوازې لاسليک ته پاتې شوه، نو وېکتر يانوکووېچ د ماسکو د فشار له کبله په دغه تړون

لاسلیک ونه کړ، چې له املې یې په اوکراین کې د یانوکوویچ پر خلاف پاڅونونه پیل شول او بیا په ۲۰۱۴ کال کې په یوه انقلاب بدل شول.

د ۲۰۱۴ کال په تاکنو کې لویدیځ پلوي سوداګر پوروشینکو واک ته ورسېد او په جون میاشت کې یې له اروپایي اتحادیې سره د ملتیا تړون لاسلیک کړ؛ خو د شوروي پلوي یانوکوویچ په لړې کېدو او له اروپایي اتحادیې سره د تړون له کبله د اوکراین په ختیزه برخه کې پاڅونونه پیل شول او د روسیې یرغل ته لاره پرانیستل شوه، چې له کبله یې وروسته د کریمیا روس‌نژاده سیمه د یوې ټولپوښتنې له لارې د روسیې برخه وګرځېده.

لویدیځ د اوکراین په قضیه کې تل د روسیې پر کړنو نیوکې کړې دي او ماسکو یې د دغه هر څه عمده لامل بللی دی. له همدې کبله یې له تېرو دولسو میاشتو راهیسې پر روسیې سخت بندیزونه هم لګولي دي او خپلې اړیکې یې تر دېره حده له روسیې سره منجمدې کړې دي. د دې تر څنګ روسیه له لویدیځ سره د سوریې او ایران په قضیه کې هم اختلافات لري.

د روسیې ګواښ او دلویدیځ غبرګون

اروپا ته د امریکا د دفاع وزیر سفر: د پوتین د تازه څرګندونو پر ضد د امریکا دفاع وزیر ایشتن کارتر، اروپایي هېوادونو ته سفرونه وکړل. په دغو سفرونو کې تر ټولو مهم دا وو، چې امریکا به له دوو کلونو وروسته بیا اروپا ته خپلې وسلې ولېږدوي. په دې ترڅ کې د ایستونیا، لیتونیا، لاتیویا، بلغاریا، رومانیا او پولېنډ چارواکو د امریکایانو د وسلو کوربه‌توب منلی دی. ویل کېږي چې امریکا به اروپا ته دیوه غوندې د اړتیا وړ اندازه وسلې ولېږدوي.

د ناټو غبرګون: په اوکراین کې له یوه کال راهیسې د اختلافاتو، جګړو او د پوتین د وروستیو څرګندونو چې روسیه به ۴۰ قاره‌ویشتونکي توغندي په خپل اتومي سلاکوټ کې شامل کړي، تر دېره حده اروپا پارولې ده. د روسیې د دغو کړنو په غبرګون کې ناټو په پولېنډ کې د پوځي عملیاتو تمرینات پیل کړي او د جون په ۲۴ او ۲۵ نېټه یې د دفاع وزیرانو غونډه هم وشوه، چې پکې د اوکراین، روسیې او افغانستان په تړاو خبرې اترې وشوې. په دغه غونډه کې پرېکړه وشوه، چې ناټو به د خپل غبرګون ځواک پوځي قطعې د سرتېرو شمېره له ۱۳ زرو څخه ۴۰ زرو ته لوړه کړي، همدارازه به خپلې اتومي وسلې هم نوې کړي.

د دې تر څنګ به ناټو په شپږو اروپایي هېوادونو کې د ناټو وړې وړې قوماندانۍ هم جوړوي، چې تر دېره به د ختیزې اروپا په بلغاریا، ایستونیا، لاتویا، لیتونیا، پولېنډ او رومانیه کې وي. دا حالت په ښکاره توګه د سړې جګړې د سیناریو ښودنه.

پر سیمه او نړۍ د پیل شوې سړې جګړې اغېزې:

که څه هم امریکایان ځانونه د "دویمې" سړې جګړې له پیلېدو څخه ژغوري او په همدې موخه یو ځل د امریکا ولسمشر اوباما وویل، چې دا نوې سړه جګړه نه ده، بلکې دا د روسیې له خوا د اوکراین خوښه نه منل دي. د امریکا دفاع وزیر هم اروپا ته په سفر کې ورته خبره کړې، چې دوی د سړې جګړې پیلول نه غواړي؛ خو له دغو ډیپلوماتیکو احتیاطونو سره سره، د روسیې او لویدیځ ترمنځ نوې سړه جګړه په یوه غیر رسمي بڼه پیل شوې ده.

اوسمهال روسیه او لویدیځ په سړه جګړه کې سره بوخت دي؛ خو له روسیې وراخوا دغه سړه جګړه سوریې، ایران، اوکراین، ختیزې اروپا او منځنۍ آسیا ته هم غځېدلې ده. روسیې په ملګرو ملتونو کې د بشار الاسد پر خلاف د لویدیځ قراردادونه ویټو کړل او ایران ته یې د Antey-۲۵۰۰ هوایي دفاع سیستم پلورلو وړاندیز کړی. په اوکراین کې یې د کریمیا سیمه راخپله کړې او په ختیځه اروپا کې یې هم له ناټو سره رقابت پیل شوی دی. همدا راز نوې سړه جګړه به له یوې خوا په سیمه کې د وسلو پر سر رقابت پیدا کړي او له بلې خوا که چېرې نړۍ بیا سره ووېشل شوه، ښایي کورنۍ جګړې هم زیاتې شي. ځکه د پوتین وروستۍ څرګندونې چې دوی به ۴۰ لویه وچه ویشتونکي توغندي په خپل اتومي سلاکوټ کې شامل کړي، اروپا او امریکا پارولې دي. امریکا هم د پوتین د دې خبرې په غبرګون کې په اروپا کې له خپل یوه پوځي غونډ سره د ټانکونو او نورو تجهیزاتو د ځای پرځای کولو تابیا کوي او په بل اړخ کې ناټو هم د غبرګون -ځواک قطعې د سرتېرو شمېره له ۱۳ زرو څخه ۴۰ زرو ته لوړه کړې او هڅه کوي، چې خپلې اتومي وسلې نوې کړي. د دې ترڅنګ به په اروپا کې شپږ وړې وړې قوماندانۍ هم جوړوي. دغه هر څه په سیمه په تېره بیا په اروپا کې د وسلو رقابت رامنځته کوي او له کبله به یې په هر هېواد کې د وسلو لوی شرکتونه نور هم ځواکمن شي. دغه د وسلو لوی شرکتونه به بیا په اوږده مهال کې د نړۍ پر امنیت هم ژوره اغېزه وښندي.

که په اروپا کې همدا شان د روسیې او اروپایي ټولنې ترمنځ سړه جګړه او اړودوړ روان وي، نو دا به د اروپا په اقتصادي حالت ژوره اغېزه وښندي. د بیلګې په ډول په ۲۰۱۴ کال کې د اوکراین صنعتي وده شل سلنه او اقتصادي پرمختګ یې ۱۰ سلنه راښکته شوی دی. د ایکانومېسټ د یوې څېړنې له مخې د سړې جګړې تر پای پورې د نړۍ تقریباً ۱۸ سلنه خلکو د کورنیو جګړو ناخوالې لیدلې وې، ځکه د سړې جګړې یوه لوري به له یوه مخالف او بل لوري به له بل مخالف څخه ملاتړ کاوه او په دې توګه په نورو هېوادونو کې نیابتي او کورنۍ جګړې روانې وې؛ خو د سړې جګړې له

ختمېدو سره نړۍ د سړې جګړې د پړاو په پرتله کمې کورنۍ جګړې ولیدلې؛ ځکه دا ځل مخالف ملاتړ کوونکي نه وو.

د دې ترڅنګ دغې سړې جګړې روسیه او چین له یو بل سره نور هم نږدې کړل. البته که روسیه غواړي، چې چین یې په دغه سړه جګړه کې ملګری وي، نو باید د چین په سویلي سمندر کې له بیجینګ څخه ملاتړ وکړي.

که څه هم امریکا او روسیې له تېرې یوې لسیزې راهیسې اختلافات لرلي دي؛ خو له د دغو اختلافاتو سره سره بیا هم دواړو هېوادونو په یو شمېر ډګرونو -لکه په افغانستان کې - له یو بل سره همکارۍ کړې دي. خو دغې نوې سړې جګړې د امریکا او روسیې ترمنځ د همکارۍ په ډګرونو هم اغېزه ښندلې او روسیې یو څه موده وړاندې د ناټو پر مخ اکمالاتي لاره هم بنده کړه.

پای

(د ستراتیژیکو څېړنو مرکز)

د دغو نسخو په کومک کولای شئ چئ د څو ناروغیو اعلاج په خپله او په کور دننه وکړئ.

۱ - د سخت سر درد له پاره مڼه سپینه کړئ او څه مالګه ورباندې واچوئ سحر یې په نهاره وخورئ د سر درد څخه به خلاصی پیدا کړئ.

۲ - د ګیس د علاج له پاره د کاشوغې څلورمه برخه دوړو سوډا په یو ګیلاس اوبو کې واچوئ او ویې څښئ.

۳ - د خولې د بدېدو له پاره د یوې کېله او لږ څه شات سره ګډ کړئ او د خولې زخمي شوي ځایونه پورې کړئ. انشاالله ښه به شي.

۴ - اوچت فشار چې له وجې یې هر کس په دې دور کې تنګ کړی دی، د یوې کاشوغې امله پوډرو سره یو ځای په یو ګیلاس کې وڅښئ او فشار مو عادي کړئ.

۵ - د غاښونو د صفایي له پاره دوړو سوډا، لږه مالګه او لیمو سره ګډ کړئ او بیا ورباندې د برش پواسطه غاښونه پاک کړئ: د غاښونو له درد څخه به خلاص یی.

معضلهء خونین، برما،

و بی چارگی، سازمان همکاری اسلامی،

(حبیبی سمنگانی)

سازمان همکاری اسلامی" در سنهء نوزده صد و شصت و نه میلادی یعنی چهل و شش سال قبل از امروز به صفت بزرگ ترین نمائندهء کشورهای اسلامی بنیان گذاری شد ، این سازمان با داستن پنجاه و هفت عضو در چهر قارهء جهان دومین بزرگ ترین سازمان بین المللی در جهان پنداشته می شود ، این سازمان که در واکنش به حملهء یهودیان بر مسجد بیت المقدس تاسیس شد ادعا دارد که برای دفاع از یک و نیم ملیارد مسلمانان جهان می کوشد ، دفتر مرکزی این سازمان در شهر ساحلی "جده" در عربستان سعودی قرار دارد .

نام این سازمان در زبان انگلیسی " آرگنائزیشن آف اسلامک کوآپریشن" است که مخفف آن در الفبای انگلیسی "او آی سی "میگردد ، عجیب یک اتفاق است که "او آی سی" یک جملهء مستقل در زبان انگلیسی نیز است که به معنای "اوه ، من می بینم" می باشد ، و این جمله در هنگام یک حادثه از روی تعجب گفته می شود و یا هم در دوران خشم از روی تهدید استعمال می گردد ، چنانکه در زبان دری نیز در حالت غضب گفته می شود "من ترا خواهد دیدم" ، امروز بدون شک "او آی سی" یعنی مخفف "سازمان همکاری اسلامی" نیز جز همان دو معنای جملهء انگلیسی دیگر مفهومی ندارد ، حاصل اینکه اگر امروز واژهء "او آی سی" را به زبان آورده شود هیچ کسی معنای "سازمان همکاری اسلامی" را اخذ نمی کند بلکه لازم این معنی را که صرف تعجب کردن و نگریستن است درک می کند ، زیرا از روز نخست تا اکنون این سازمان جز "تعجب کردن و نگریستن" هیچ گامی در صحنهء عمل نبرداشته است.

مثلا در طی پانزده سال گذشته یعنی از آغاز قرن بست و یک میلادی تا این ساعت چه روزهای تلخی نبوده است که در کشورهای مسلمان نشین نگذشته باشد ، از فلسطین ، افغانستان ، عراق ، شام ، سودان ، لیبیا تا یمن تحولات خونین و سنگین رخ داد که باعث قتل و معلول و آواره شدن ملیون ها مسلمان شد و و لیکن این سازمان درین مدت روح فرسا ساکت بماند ، بیش از صد ملیون مسلمان در کشورهای غیر اسلامی همچون چین ، روسیه و هند و کشورهای اروپای و امریکای بی جا تعزیر شدند و از انجام دهی فرامین بنیادی دین اسلام منع

کرده شدند و این سازمان همچنان سکوت بر لب بماند ، امروز صد ها هزار مسلمانان روهنگیای در برما نه صرف اینکه حق شهروندی محروم میگردند بلکه با اجبار از کشور رانده می شوند و آن ها برای سر پناه آشیانه ئ ندارند ، حتی اگر به امید کشور مسلمان نشین بنگلا دیش و یا اندونیزیا در بحر سفر می کنند رژیم های مستبد این دو کشور نمی گذارند این آوارگان بی خاک و وطن از کشتی های کوچک و پر خطر فرود آمده در سواحل بنگلا دیش و اندونیزیا سکونت بکنند ، لهذا نا گزیر اند هر نوع شکنجه ء وحشیانه ء بودای ها را متقبل شده تا آخرین رمق حیات درمیان شعله های آتش بسوزند و لیکن این بار نیز " سازمان همکاری اسلامی " جز نگریستن دیگر کاری انجام نداد.

سازمان فوق الذکر معمولاً هر سه سال بعد نشست سربراهان کشورهای مسلمان نشین را دائر میکند و می تواند قبل از سه سال نیز نشست اضطراری برپا بکند ، چنانکه در سالهای " نوزده صد و نود و هفت میلادی " ، " دو هزار سه میلادی " و " دو هزار و پنج میلادی " سه نشست اضطراری برگزار نمود ، آیا این سازمان نمی تواند برای حل یابی معضله ء مسلمانان روهنگیای یک تجمع اضطراری تشکیل بدهد ؟ و لیکن سوال اینست آیا آخرین نشست اضطراری که ده سال قبل درباره ء حل بحران فلسطین و عراق صورت گرفته بود مثمر و منتج واقع شد ؟ هرگز نه .....پس چگونه توقع داشته باشیم که اگر (فرضاً) یک نشست سربراهان صورت پذیر گردد در زندگانی مسلمانان برما یک تحول مثبت و حیات بخش خواهد آورد ، به همگان عیان است به دلیل بی اعتمادی و نا باوری بزرگ که درمیان اعضاء این سازمان وجود دارد هرگز به یک اتفاق نمی رسند ، بلی اتفاق که درد های مسلمانان روهنگیای را مداوای شافی بکند.

بدون تردد ، چنانکه دولت مردان رژیم کشورهای مسلمان نشین از سرمایه ء دین پروری و مسلمان دوستی محروم اند همچنان زمام داران این سازمان نیز از درد های بیکران مسلمانان جهان نابلد اند ، بلکه واشگاف باید گفت این سازمان جز چند ساختمان مجلل ، چند دانشگاه ، یک اندازه پول خیراتی و صد ها دیپلمات آسوده خاطر دیگر چه در اختیار دارد ؟ بلی ، این اختیار را نیز دارد که کشوری را به عضویت سازمان سرفراز بکند و عضویت کشوری دیگری را معطل بکند ، و لیکن در برابر کشور " برما " که نه خواهان شمولیت در این سازمان است و نه هم هراس از معطل شدن دارد این " سازمان بی چاره " چه کرده می تواند ؟

بخت الرحمن بخت

ارناوډ فان ډورن چي د هايلنډ اوسيدونکي دي هغه کس دي چي د رسوالله صلی الله عليه وسلم په اړه يې فيلم جوړ کړي او دغه فيلم کي يې د رسول الله صلی الله عليه وسلم په اړه سپکي خبري کړي وي.

نوموړي وايي کله چي مي د رسول الله صلی الله عليه وسلم په خلاف فيلم جوړ کړ او دغه فيلم مي ننداري ته وړاندي کړ، دنړۍ په ګوټ ګوټ کي د مسلمانانو له سختي غصي او کرکي سره مخامخ شوم دنړۍ مسلمانانو باندي دغه فيلم ډير بد اثر وکړ.

ارناوډ وايي کله چي مي د مسلمانانو له لوري په دومره لوړه کچه باندي زما دفيلم په مقابل کي مخالفت او غضب تر سترګو شو، لږ فکر مي وکړ او سوچ يو وړم څه لامل دي چي مسلمانان و رسول الله صلی الله عليه وسلم ته په دومره درناوي قائل دي او د هغه و شخصيت ته د بې احترامي په مقابل کي هر ډول سربښندني ته حاضر دي نوموړي وايي دمسلمانانو قهر او غضب دی ته اړ کړم چي د اسلام په اړه مطالعه وکړم، د مسلمانانو مسجد ته لاړم هلته مي په خپله ژبه باندي ژباړل شوي قران شريف اود سيرت کتابونه وموندل، کله چي مي دقران شريف مطالعه پيل کړه را باندي يې ډير اثر وکړ مطالعه دومره خوندوره وه چي دنوور کتابونو کتل او لوستل مي ورته پريښودووايي هغه اياتونه چي پر ما باندي يې ډير اثر وکړ او زما په ژوند کي يې انقلاب را وست هغه د سوره النساء له ۳۶ بيا تر ۴۰ پوري اياتونه وو، نوموړي وايي دغو اياتونو له قران شريف سره دومره مينه او محبت را زيات کړ چي شپه او ورځ به مي قران شريف لاس کي وو، زړه مي غوښتو چي چيري لاړ شم کوم مسلمان عالم پيدا کړم او سمدستي د شهادت کلمه ووايم، نوموړي وايي مسجد ته به ور تلم مسلمانان به مي ليدو لمنځونه به يې کول زما سره د اسلام ددين په اړه څه نور سوالونه هم پيدا شوي وو تر څو دغو سوالونو ته جواب پيدا کړم او د اسلام په حقيقت او څرنګوالي باندي نور هم پوه شم، ددغو سوالونو دجوابونو دپوښتلو لپاره دمسجد له امام سره کښيناستم، دمسجد امام صاحب د سيرت او قران شريف په څنګ کي څه نور ديني کتابونه هم راکړو چي ددغو کتابونو په مطالعه کولو سره زما دټولو سوالونو جواب وشو او ددرو مياشتو مطالعي او دمسجدونو د ائمه وو ناستي دي ته تيار کړم چي د شهادت کلمه ووايم او مسلمان شم.

فان ډورن وايي زما د ژوند تر ټولو مهم او نه هيريدونکي پيښه زما د مسلمانيدو صحنه ده نوموړي وايي کله چي مي د شهادت کلمه ويله داسي احساس

مي کاوو چې کوم کس زما پر اوږو لاسونه ایښي راته وایي ته اوس مسلمان شوي، وایي ډیر مي وژړل او د ژوند دغه صحنه به مي هیڅکله هیره نشي.

د اهتدیت بالقرآن له یوې شبکې سره د خبرو پر مهال نومورې وویل د اسلام او مسلمانانو په خلاف د حزب العربیه (د ازادي دګوند) چې د اسلام او مسلمانانو په خلاف ګوند دي غړی وم، زمونږ دنده داوه چې خلګو ته اسلام ناوړه دین څرګند کړو او وایی وېره وو چې اسلام د وېرې او وحشت دین دي، نو دغه لامل وو چې چې د فتني په نامه مو فیلم جوړ او د فیلم نوم مو عربي کیښود تر څو خلګو ته واضح کړو چې په عموم کي ټول عرب اهل فتنه دي.

نومورې وایي د فیلم له وړاندې کولو وروسته چې کله د نړۍ ټولو مسلمانانو د فیلم مخالفت وکړ زه یې دي ته اړ ایستم چې لږ فکر وکړم، څومره خلګ مي خفه کړو د څومره زیات شمیر خلګو قهر او غوصه مي را وپاروله.

فان ډرون وایی د فیلم په خلاف د مسلمانانو غم او غوصې راته دا احساس راکړ چې یاره دا څرنګه کیدای شي چې زه دي صحیح او ۱.۲ ملیارډ خلګ دي خطاوي.

ډرون وایی قران العظیم الشان یې لاړښود دي، او خلګو ته مي داوینا ده چې یواځې هغه اسلام باندې دي بسنه او اکتفا نکوي چې د اعلان او سیاسي ځیرو له لوري وړاندې کیږي، که څوک غواړي چې ریښتیا د اسلام په حقیقت پوه شي د اسلام مطالعه دي پیل کړي او د اسلام له ریښتینو عالمانو سره دي ناسته پاسته اختیار کړي.

دليلة القدر د شپې نښې

: عن عبادة بن صامت رضي الله عنه ان سئل رسول الله صلى الله عليه وسلم عن ليلة القدر فقال في رمضان في العشر الاواخر فانها في ليلة وتر في احدى وعشرين اوثلث وعشرين او خمس وعشرين اوسبع وعشرين او تسع وعشرين او آخر ليلة من رمضان من قامها ايمانا واحتسابا غفر له ماتقدم من ذنبه ومن امارا تها انها ليلة بلجة صافية ساكنة ساجية لا حارة ولا باردة كان فيها قمرا ساطعا ولا يحل لنجم ان يرمي به تلك الليلة حتى الصباح ومن امارا تها ان الشمس تطلع صبيحتها لاشعاع لها مستوية كانها القمر ليلة البدر وحرم الله على الشيطان ان يخرج معها يومئذ.(۱)

ژباړه: عباده بن صامت رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه د قدر د شپې پوښتنه وکړه رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وویل: دغه شپه د روژې د میاشتې په آخرو لسو شپو کي پر طاق، طاق تاریخ باندې ده څوک چې په دغه شپه د ایمان او ثواب په نیت عبادت وکړي نو تېر ګناهونه به یې ټوله وبخښل سي. نښاني یې دادي چې دغه شپه روښانه، پراخه او پاکه شپه ده ارامه شپه ده میانه ده نه ډیره یخه ده او نه ډیره ګرمه ده ګویا (د انوارو د اوربدو) په وجه سپوږمۍ صفا ده په دغه شپه کي به په شیطانانو پسې ستوري نه ویشتل کېږي او د دغه شپې نښاني دادي چې لمر د دغه شپې په سهار د پلوشو پرته راخیږي برابر لکه د څوارلسم سپوږمۍ. او په دغه سهار د لمر ختو په وخت کي الله جل جلاله شیطانان د راختو څخه منعه کړي. (په خلاف د نورو ورځو چې شیطانان د لمر ختو سره را پورته کېږي)

آثار و علایم خون در شناسایی مجرمین

و نظریات علمای اسلامی در این زمینه

محمد عثمان (علمی)

در کنار شواهد و مدارک دیگر برای دریافت آثار و علایم جرمی در محل حادثه مانند، (نشانها و آثار انگشت، ناخونها، آثار پا، جراب، موهای بجامانده، وغیره) یکی هم آثار و لکه های خون است که اکثر محققین به آن برمیخورند و از این نوع شواهد و مدارک در کشف و شناسایی مجرمین کمک میگیرند. اینک در رابطه با آثار و علایم خون به شما خوانندگان محترم بطور فشرده معلومات داده و نقش علمای اسلام را در این رابطه برای شما بیان خواهیم کرد.

یکی از آثار و علایم بسیار مهم در جنایاتیکه حیات انسان دران تحت تهدید قرار گرفته باشد آثار و علایم خون است .خون یک مایع سرخ رنگ بوده که متشکل از محلول نمکی یعنی پلازما (Plasma) وعناصر حجروی میباشد که این عناصر حجروی از کرویات سرخ ایروسیت(Erythrocyte) و کرویات سفید لوکوسیت (Leycocyst) ترکیب یافته، است. سیروم خون ماده شفاف وزرد رنگی است که پس از حادثه یک جرح وبعد از تشکیل لخته خون از آن جدا میگردد . از سیروم در امتحانات گروپ خون استفاده خوبی بعمل میآید .

این ماده خون در عضویت انسان وحیوان وظایف عمده را از قبیل رسانیدن اکسیجن از شش ها به تمام انساج بدن وهم انتقال مواد غذایی از امعاء بالاخره طرح مواد اضافی مضره وجود مثل تیزاکاربن از داخل انساج واعضاء طرح کننده چون گرده وشش ها به عهده دارد.

از نظر تحقیقات جنایی این ماده از اهمیت زیاد برخوردار است، در گذشته که خون شناسی (سرولوژی) انکشاف نکرده بود مردم به آن اهمیتی قایل نبودند، اولین کسی که درین رابطه خدمات اساسی ومهم انجام داد دانشمند المانی بنام اولین هوت(Uhlenhuth) بوده که بتاریخ ۱۹۰۹میتودی را بغرض تفریق انواع خون ومخصوصا خون انسان وحیوان کشف نمود، وبر اساس آن در المان درواقعه قتل یک طفل قاتل مذکور به طریقه اولین هوت از روی خون شناسایی گردید. اول اوادعا کرد که خون از حیوان است اما بعد از تشخیص درلابراتوار معلوم شد که خون قاتل است. تا سال ۱۹۰۰ هنوز گروپ خون مشخص نشده بود، درهمین سال لندشتاینر (Lindeshtainer) کشف نمود که انسانها هر کدام دارای گروپ خون متفاوت است.

خوشبختانه علمای اسلام از بدو پیدایش دین مبین اسلام به این امر توجه داشته اند، وبرای اثبات مسائل جرمی از اثار خون استفاده نموده اند. درزمان خلافت عمر فاروق (رضی الله عنه (دونفر آمده وهر کدام ادعای میراث

نمودند وهریک همدیگر را متهم میکردند که فرزند واقعی پدر نیست. شاهد هم نداشتند، امیر المومنین گفت بدون شاهد مشکل است، بعد روبطرف عماربن یاسر (رضی الله عنه) نموده گفت که چه باید کرد؟ بهتر است درین رابطه نزد علی (رضی الله عنه) وجعه مراجعه صورت گیرد زیرا اصحاب درمورد ایشان همدیگر را خطاب نموده میگفتند، (اقضاکم علی) درقضاوت ازهمه بهتر حضرت علی (رضی الله عنه) است عمار رض گفت: که خداخیرت بدهد چیزی را که فراموش کرده بودم یادم آوردی. این دونفر را نزد علی (رضی الله عنه) ببر، وقضیه را برای اوبیان کن.

حضرت عمار میگوید آن دو نفر را نزد حضرت علی (رضی الله عنه) بردم قبل ازآنکه ازدروازه علم وارد شوم فرمود :این دونفر را به دارالشرع ببروخودنیز تشریف آورد. به آن دونفر فرمود راست بگویید؟ درمیان شما دونفر چه کسی فرزند واقعی شخص است؟ هردوادعا کردند که پسر سلبی وحقیق شخص اند. فرمود قبر پدر شما کجاست؟ آنها نشانی قبر را دادند، بیکی ازآنها فرمود: این قبر را باز کن، واستخوان ازآن بیرون آور! وقتی استخوان را آوردند، حضرت علی (رضی الله عنه) به حجام (کسی که ازرگ خون میکشد) امر کرد ازهردوخون بگیرد، سپس خون هردورا دردوظرف ریخت واستخوان راتکه نموده ودرهردوظرف یک پارچه ازآنرا گذاشت، وروی هردو ظرف سرپوش گذاشت .بعد ازساعتی سرپوش را برداشت.وحاضرین دیدند که دریک ظرف استخوان تمام خون را جذب کرده واستخوان پرازخون شده است، ودرظرف دیگر استخوان وخون کاملا جدا هستند، وباهم آمیخته نشده اند. حضرت علی (رضی الله عنه) بیکی ازآنها فرمود : اگر توپسر حقیقی وسلبی این بودی خون تودراستخوان اوجذب میشد. بعد ازآن مال را دراختیارشخصی قرارمیدهد که خونش را استخوان کاملا جذب کرده بود. درین وقت عمر (رضی الله عنه) فرمود: خداوند مرا اززندگی بدون شما حفظ کند، ای ابوالحسن.

در این قضیه جالب چیزهای بسیارعجیب به چشم میخورد، یکی اینکه روایت نسبی وخونی که بین فرزند وپدراست حتی بعد ازمرگ دراستخوان پوسیده پدر باقی میماند. و پدر میتواند با استخوانهای پوسیده خویش نیزپسرخودرا بشناسد، خون اورا همان قسمیکه فرزند خودرا درزندگی به آغوش میگیرد ومحبت میکند، سبحان الله همینکه اسلام میگوید، مرگ پایان حیات نیست، دراین قضیه به چشم دیده میشود، اگرمرگ پایان حیات باشد، وباآن تمام روابط ازهم جدا شود، دیگر چطورمیتوان قبول نمود که استخوانهای پوسیده پدرخون پسرخودرا میشناسد واورا به آغوش میکشد سبحان الله همان قسمیکه اسلام انسان را بعد ازعبادت خداوند (جل جلاله) متوجه خدمت والدین میسازد در اینجا ثابت میشود که این روابط عمیق است.

مجاهده! داستا عزم ته سلام

(محمود غازي)

له څه وخت راهيسي چي مجاهدينو د عزم عملياتو عزم کړی او عزم يې عملا پيل کړی يرغلګر او داخلي دښمن يې د خورا ډيرو ځاني، مالي، لوژيستيکي، ترانسپورتي، روا ني او سياسي زيانونو په ګرداب کي ايسار کړی دی، د عزم توپاني څپود هيواد په ډيرو برخو کي د اردو، پوليسو او پيټرا ييس خپلو ملېشو پوستې، سمځي او کوډلې ګروپي کړې او په لويو ښارونو او آن کابل کي يې دهيواد پلورونکو د عيش ونوش قصرونه چپه کړل.

عزم په شمال او جنوب، ختيځ او لوېديځ کي له ډيرو پراخو سيمو څخه د دښمن دفساد، ګمراهۍ، غلامۍ او لوټمارۍ کرغيړن ګيلم ورټول کړ، شريعت يې پکي قايم کړ او د خوريدلي ملت د سر او مال حفاظت يې تضمين کړ.

عزم چي د روان کال د رجب المرجب د مياشتي په ۲مه چي د ثور له ۴مي سره سمون خوري سهار وختي د الله اکبر په ملکوتي نعرو سره پيل شو په لومړی ورځ يې پر يرغلګرو ځواکونو او د هغوی د ګټمو دمدافعينو او چوپړمارو پراډو او پټنځايونو باندي ۳۲۷ بريدونه ترسره کړل، د عزم په دوهمه او دريمه ورځ ميډيا کي د دښمن ساندي، ژړاوي، د مرستي او سقوط سقوط ناري شوې.

د عزم د مبارکو عملياتو مخه په کابل کي هم ونه نيول شوه چي د اشغالګر دښمن ترفضايې او هوايې ځارلاندي دی او د مځکنۍ امنيتي پوښتنې په لومړی درجه کي قرار لري، پر پليس هوټل بريد ډير خارجيان د مرګ په خوب بيده کړل، حتيل ميلمستون يا ګټس هاوس تر اورلاندي ونيول شو، د کابل هوايې ډګر نظام قراول کي فدايې بريدنيوا کګرو ته درنه مرګ ژوبله واړوله، د عدليې وزارت د موټرو په تم ځای کي استشهادي بريد په فساد کي غرق ظالم ځارنوالان په خپله سزا ورسول، دارګ دروازه کي چاودنه وشوه، او د اسلامي قوانينو، ملي

نوامیسو ،ارضي تمامیت او استقلال د پلور پر مارکیټ چي دوی ورته ولسي جرګه وایي زیان اړونکی هېښونکی بریدونه وشو ، دې بریدونو دښمن ته وښوده چي که هر څومره سمیټي دیوالونه او د خاورو بوجونه پرځان ورتاو کړي د ملت له قهر او انتقام څخه به خلاص نشي.

د عزم عملیاتو د ثقل مرکز تراوسه لا کندوز ولایت دی ،عزم د کندوز ولایت له شپیته سلني څخه د کابل د لاسپوځي رژیم پاته شوني جارو کړل، د امام صاحب، دښت ارچي او چهاردرې ولسوالۍ یې په بشپړه توګه فتحه کړې، دیري نوري سیمي یې ولکه کړې او دښار تر دروازو پوري مجاهدین ورسیدل د ګورتېپې او تلاوکه ستراتیژیکي سیمي یې ونیولې او لاهم مجاهدین د پرمختګ په حال کي دي .

په ټول شمال کي د عزم له پیله د فتحو لړۍ همداسي په جم و جوش سره ورانه ده، په بغلان کي مجاهدینو ګڼي سیمي د دښمن څخه پاکي کړې، په سرپل کي یې دښمن پر ګوندو کړ، د بدخشان جرم او ورودوج کي یې د ګډ حکومت د اردو ، پولیسو او اربکي ملېشو ګڼ تعرضونه پر شا وتمبول او یمګان ولسوالي یې د ډیرو غنیمتونو سره مکمله ونیوله ، په فاریاب کي یې د ګڼو سیمو ترڅنګ د چهلګزي ولسوالي فتحه کړه ،په بادغیس کي یې دجوند ولسوالۍ تر یو مخیزې نیونې سربیره په نورو ولسوالیو کي هم ډیري سیمي ترخپلي سلطې لاندې راوستلې.

د غزني دناوې ولسوالي چي له تېرو لسو کلونو راهیسي د اسلامي امارت د امن سپین توغ پکي رپاند وو، ګډ حکومت یې د نیولو په موخه د سلهاوو ټانګونو او مختلفو محابوي نقلیه وسایطو په بدرګه د بیرته نیولو عملیات پیل کړل، خو د مجاهدینو دتېینګ عزم له امله مختوري شول ، اتلو مجاهدینو د غزني ولایت د ډیرو پراخو سیمو پر نیولو سربیره د خوږیانو ولسوالي هم په بشپړه توګه فتحه کړه.

عزم په مرکزي افغانستان کي هم دښمن دشکست او شرمندګۍ وکندې ته ورټېل واهه، د دایکنډي په مختلفو ولسوالیو کي قهرمانو مجاهدینو د کرایې عسکرو ګڼي پوستې ونیولې او د ګیزاب ولسوالۍ د سمیټي ودانۍ پرته ټوله سیمه یې فتحه کړه ،دارزګان ولایت په خاص ارزګان، چارچینو ، دهراود ،چوره،اونورو ولسوالیو کي یې ډیري زیاتي سیمي د دښمن له ناپاک وجود څخه پاکي کړې او دامن سپین توغ یې پرې ورپاوه ، د غور ولایت د شینکوټ ،تېوره ، دولینه او نورو ولسوالیو ګڼي سیمي یې تر جهادي پوښتنې لاندې راوستلې او دښمن یې

سرکوب کړ.
هلمند کې غښتلو مجاهدینو د کجکي ولسوالۍ ۹۰ سلنه فتحه کړه ،موسی کلا کې یې د ولسوالۍ تر بازاره سیمه ونیوله ،سنګین کې یې دښمن اړ کړ چې یوازې د ولسوالۍ په ودانۍ کې د ژوند وروستۍ سلګۍ وهي، په ګریشک، نوزاد او مارجه کې دښمن نه هیریدونکي ضربې وخوړلې.
په پکتیا، پکتیکا او خوست کې عزم داردو او پولیسو ډیرې پوستې لاهو کړې او مجاهدینو پراخې سیمې تر خپل ګورت لاندې راوستلې.
په کونړ، لغمان او نورستان کې دښمن نامراده شو، د مجاهدینو د ځپلو ډیرې دسیسې یې نه یوازې داچې خنثی شوې، بلکې ډیرې سیمې یې لاهم له لاسه ورکړې او دسر اومال دروانه زیانونه ورته ورسیدل.
د کندهار په میانشین، خاکریز، غورک او میوند کې یو په بل پسې د کرایې جګړه مارو پوستې ونیول شوې او مظلوم هیوادوال یې له شر او شوره خلاص شول.
د کاپیسا او پروان په ګنو سیمو کې سر سپارلو مجاهدینو دښمن ته د سر په کاسه کې اوبه ورکړې اوپاته شونو ته یې دا درس ورکړ چې د کافرانو ملګري به هرو مرو دشکست او ذلت سره مخ کیږي.

عزم د هرات په شنډلۍ، چشت شریف او نورو کې دښمن ته وښوده چې د پردیو د ګټو ساتونکي د هیواد داصیلو بچیانو مخ ته نه شي تم کیدلای.
عزم یرغلګر دښمن او داخلي غلامانو ته یې د امیر المؤمنین (حفظه الله) د هغې وینا عملي مصداق وښود چې د یرغل په پیل کې ویلي ووچې: «وسلې که مرګ کولای شي ،خو مرګ ګرځولای نه شي» نن دښمن د سر په سترګو وینې چې لوړ پوړې او تیټ پوړې جګړه مار یې په وینو کې لت پت وروستۍ سلګۍ وهي او یایې د ماینونو په انفجارونو کې د توته توته شوي بدن غړي راټولوي.
هو ! ددې اټل واقعیت څخه څوک سترګې نشي پټولای چې دښمن که هرڅومره په وسلو مجهز وي خو نه د حق د لښکرو مخه پرې نیولای اونه هم له خپله ځانه مرګ پرې ګرځولای شي.
سرسپارلي مجاهد دبهرنې او کورنې مجهز دښمن پر ضد د عزم عزم وښود او نړیوالو ته یې په اثبات ورسوله چې که د مادیاتو له پلوه کمزورې دي، خو معنویات یې دومره قوي دي چې شیطاني لښکري یې په وړاندې که هرڅومره په پرمختللو وسلو اونوې تیکنالوژۍ سمبالي هم وي نشي تم کیدلای.

ددعوت ،ارشاد،جلب اوجذب کمیسون

دجون د میاشتي راپور

د پکتیا ولایت د خمکنو ولسوالی په نوزي سیمه کې د دښمن په ګزمه وسلوال برید وشو چې عسکرو ته یې مرګ ژوبله واوښته. ۲۱-۰۶-۲۰۱۵

احمدابا کې په رینجر چاودنې ۲ پولیس وژلي

د پکتیا ولایت د احمدابا ولسوالی په مرکزي سیمه کې د پولیسو رینجر موټر په ماین والوزول شو، د چاودنې له امنه موټر تخریب شو او ۲ پولیس یې ووژل شول. ۲۱-۰۶-۲۰۱۵

پکتیا مرکزته نژدې پولیس په درازګوف قتل شو

د پکتیا ولایت مرکز ته نژدې په تیره سیمه کې یو پولیس په درازګوف وویشتل شو چې ځای په ځای ووژل شو. ۲۱-۰۶-۲۰۱۵

پکتیا مرکزته خبره ماین د ۳ عسکر وژوندواخیست

د پکتیا ولایت ګردیز بازار ته نژدې د مزدوري اردو په رینجر موټر چاودنه وشوه، په چاودنه کې ۳ تنه عسکر مړه، ۲ عسکر ژوبل شول او رینجر تخریب شو. ۲۱-۰۶-۲۰۱۵

پکتیا مرکزته نژدې ماین د جاسوسي اداري ۳ ګاز مندان وژلي

د پکتیا ولایت مرکز ګردیز کې په اصطلاح د ملي امنیت رینجر موټر په ماین والوزول شو، په چاودنه کې موټر په پوره ډول تخریب شو، ۳ تنه امنیتي کارمندان قتل او ۲ ټپیان شول. ۲۲-۰۶-۲۰۱۵

پکتیا مرکزته نژدې په پوسته برید، ۲ پولیس ووژل شول

د پکتیا ولایت مرکز ګردیز ته خبره په ساده کلا سیمه کې د پولیسو په پوسته برید وشو چې په مهال یې ۲ پولیس ووژل شول. ۲۲-۰۶-۲۰۱۵

احمدابا کې چاودنې ۱ پولیس ووژړه

د پکتیا ولایت د احمدابا ولسوالی په پیروز خېلو سیمه کې په پیپو پولیسو چاودنه وشوه چې له املې یې ۱ پولیس ووژل شو. ۲۳-۰۶-۲۰۱۵

احمدخېلو کې په کاروان بریدوشو

د پکتیا ولایت د احمدخېلو ولسوالی په دوام سیمه کې په کاروان برید ترسره شو، په برید کې اټانګ تخریب شو او د مرګ ژوبلې کره شمېره نه ده څرګنده شوې. ۲۴-۰۶-۲۰۱۵

پکتیا مرکزته نژدې برید او چاودنه کې ۴ پولیس ووژل شول

د پکتیا ولایت مرکز ته نژدې په ابراهیم خېلو سیمه کې د پولیسو په پوسته برید وشو چې ۲ تنه پکې ووژل شول، همدارازپه میانو کلا سیمه کې د پولیسو په ګزمه چاودنه وشوه چې له املې یې ۲ تنه قتل او ۲ ژوبل شول. ۲۴-۰۶-۲۰۱۵

پکتیا مرکزته نژدې ماین د ۴ عسکر وژوندواخیست

د پکتیا ولایت مرکز ګردیز ته نژدې په شیخانو سیمه کې د مزدوري اردو په پلي ګزمه چاودنه وشوه او له املې یې ۴ تنه عسکر ځای په ځای ووژل شول. ۲۵-۰۶-۲۰۱۵

لجه منګل کې په ګزمه بریدوشو

د پکتیا ولایت د لجه منګل ولسوالی مرکز ته نژدې د مزدوري اردو په ګزمه برید ترسره شو. په برید کې اټانګ تخریب شو او د مرګ ژوبلې شمېره نه ده څرګنده شوې. ۲۵-۰۶-۲۰۱۵

په زرمت کې په ګزمه برید، ۳ عسکر ووژل شول

د مورچل وږمۍ

استشهاد

منیب

استشهاد مو د سپېڅلې مینې راز دی
داسې عشق دی جهان ګوټي نه بې نیاز دی

دا د عصر سومنات به رانسکور کړي
دغه توره د مکمود ده دغه عقل د ایاز دی

فدایي اشنا ختلای موټر بم ته
په ټپوس پسې وتلای ښکاري باز دی

د شهیدو اسوېلو بدل به واخلي
د ثاقب دستوري څنګ ته یې پرواز دی

د غلیم په کور به خپور د ویر ټغر کړي
د اسلام کور ته رڼا ده خو صلیب ته دغم ساز دی

دا نیمګړې دنیا ګۍ پرې څه پوهیږي
دا د خدای لخوانه مونږ ته لوی اعزاز دی

اې «منیبه» پام چه پاتې ترېنه نشې
مینه وپاله په وینې دا د عشق د بڼ آواز دی

قرباني او کامیابي

سید الهام

قرباني او کامیابي سره پیدا کړل
څو مره ښه ګل او سپرلي سره پیدا کړل

دا چي یو په بل پسې په دین ستي شول
دې مینو ابدي سره پیدا کړل

چي په کلک عزم زلمی له کوره ووت
بس رقیب او خپل مرګي سره پیدا کړل

پوه شه لنډ شول ورته درست اوږده مزلونه
عبادت توان او ځواني سره پیدا کړل

خدای خبر چي یې ماغزه نور په قرار شي
د غلیم سر او لرګي سره پیدا کړل

مودې وشوې سره ورک یو لا الهامه!
کړه دعا که مو خالي سره پیدا کړل

رمضان

هاشمی

داسې چې روح مې سپین ثواب له رمضانه اخلي
غزل مې ځل له پلوشو نه د سبحانه اخلي

تر عرشه رسي یې هغه شېبه آواز د دوعا
چې یوه کجوره د افطار له دسترخوانه اخلي

هلته دانې شي د تسبو ورته ډیوې د لارې
دلته یې ګوتې چې له زړه عشق له یزدانه اخلي

همدا یې وخت دی که پرې څوک خپل ګناهونه مینځي
جام د زم زمو له هر توري د قرآنه اخلي

چې د یوه پرېوتي لاس واخلي او پورته یې کړي
لکه د غرونو هومره اجر به پرېمانه اخلي

خوب وینم زه چې ډېر په وجد باندې ثنا وایمه
او هر تکبیر مې یو اندام له تور شیطانه اخلي

چې مېږتون مو شي تر پښو لاندې هم ژاړو ورته
خو دلته ډېر دي چې تل ځان له بل انسانه اخلي

غزل

تسل

ستا دمیني هسک بام او بلی ته مې ځینه اېښې
خیال مې لکه پیر د زړه په ولو کې چمبه اېښې

مینه لکه دنګ چنار ختل ورته خطر لري
ته لکه خارو په دنګ چنار کې دې مورچه اېښې

والوزي راوالوزي د زلفو یاغي زاڼې دې
نه راځي د ځمکي خواته ما ورته لینده اېښې

پام کوه زړګی ده او زړګی ده اربکی نه ده
څنګه دې پر لار د انتقام ورته ډبه اېښې

ستا د کلیوالو سترګو شوبلې په ګزمه راشي
ما لکه طالب راکټ د صبر ته اوږه اېښې

مینه پښتنه ده او ته هم په پښتنو کې یې
ځکه نو تسل درته غزله پښتنه اېښې

غزل

بشیر وصال

اوس مو دژوند هره قصه ترښاره ورسیده
پرون چې نه تله نن هغه ترښاره ورسیده

اوس دي په ډول او سینګار نه وهي نوري ګوتي
چې دکیږ دی ګوچۍ شپنه ترښاره ورسیده

ساروان راتم کړی کاروان دلته لږ معتل غوندی کړی
بیړه په کار نه ده چې شپه ترښاره ورسیده

شپیلۍ وهه ګونګه دی مشه ګوتي تاندي ساته
شپونکیه مسته دي تپه ترښاره ورسیده

دورګ بابا ناري سوري یې هرچا اوریدلي
یتیمه تله هرچالیده ترښاره ورسیده

مین زړګی ته تسلي څوک ورکولی نه شي
که د دار ستره فلسفه ترښاره ورسیده

دوصل تنده ماتوي څي ترکوثره خلګ
دوصال ښکلي صاعقه ترښاره ورسیده

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالي په سورکي سیمه کې د مزدوري اردو په ګزمه برید ترسره شو، د برید په مهال ۳ تنه عسکر ووژل شول او ۴ نور عسکر مرګونې ټپیان شول. ۲۰۱۵-۰۶-۲۵

احمدابا کې په عسکرو ماین وچاودید

د پکتیا ولایت د احمدابا ولسوالي په مچلفو سیمه کې په اربکیانو چاودنه وشوه چې له امله یې ۲ عسکر ژوبل شول. ۲۰۱۵-۰۶-۲۵

خمکنو کې د دښمن ۴ پوستې فتحه شوې

د پکتیا ولایت د خمکنو ولسوالي په حکیم زیو سیمه کې د دښمن په پوستو تصفیوي عملیات ترسره شول او په ترڅ کې یې ۳ پوستې فتحه شوې، په پوستو کې ۴ عسکر ټپیان شول او نور وتښتېدل. ۲۰۱۵-۰۶-۲۵

جاني خپلوولسوالي، په ودانۍ برید وشو

د پکتیا ولایت د جاني خپلوولسوالي په ودانۍ برید ترسره شو، د برید له امله د دښمن ته د اوښتې زیان په اړه معلومات نشته. ۲۰۱۵-۰۶-۲۵

احمدابا کې په ګزمه برید وشو

د پکتیا ولایت د احمدابا ولسوالي په مچلفو سیمه کې د دښمن په ګزمه برید ترسره شو. د برید له امله دښمن ته د اوښتو تلفاتو په اړه شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۲۰۱۵-۰۶-۲۶

احمدخپلو کې په ټانک چاودنې ۱ عسکر وژل

د پکتیا ولایت د احمدخپلو ولسوالي په ستو سیمه کې د مزدوري اردو ټانک په ماین والوزول شو، په چاودنه کې ټانک پوره تخریب شو او ۱ عسکر یې خپل ژوند له لاسه ورکړ. ۲۰۱۵-۰۶-۲۶

لجه منګل کې په پوسته برید وشو

د پکتیا ولایت د لجه منګل ولسوالي په اړونده سیمه کې د دښمن په پوسته برید ترسره شو چې پولیسو ته پکې مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۵-۰۶-۲۶

په زرمت کې ۲ ټانکونه او ۲ رینجر تخریب شول

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالي اړونده سیمه کې د عمومي سرک په سر د دښمن په پوځي کتار برید ترسره شو، د برید په مهال ۲ ټانکونه، ۲ رینجر تخریب شول او ۴ عسکر وته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۵-۰۶-۲۷

په زرمت کې په قطار برید، ۳ عسکر ووژل شو

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالي په سورکي سیمه کې د مزدوري اردو په کتار برید ترسره شو. په برید کې ۳ عسکر وژند له لاسه ورکړ او ۲ نور ټپیان شول. ۲۰۱۵-۰۶-۲۷

سیدکرم کې رینجر په ماین والوزول شو

د پکتیا ولایت د سیدکرم ولسوالي په چینو سیمه کې د مزدوري اردو په رینجر چاودنه وشوه. د چاودنې له امله رینجر تخریب او ۳ عسکر ژوبل شول. ۲۰۱۵-۰۶-۲۷

خمکنو کې ۱ لوی کلي فتحه، ۳ عسکر قتل او ۱ ونیول شول

د پکتیا ولایت د خمکنو ولسوالي په حکیم زیو او موزدي سیمو کې مجاهدینو د دښمن په مرکزونو عملیات پیل کړل چې په پای کې یې دواړه سیمې په بشپړه توګه فتحه شوې. په برید کې ۳ عسکر ووژل شول او ۲ ژوندي نیول شوي، په دې سربیره ۱ رینجر موټر هم تخریب شو، مجاهدینو د دښمن په مراکزو کې ۲ دهشکې، ۶ میله پیکا، ۱ موټر سایکل، ۵ موټره د هاوان، راکټ او پیک مرمۍ او ګڼ نور مهمات غنیمت کړل. ۲۰۱۵-۰۶-۲۷

پکتیا مرکزته نژدې رینجر په ماین واوښت

د پکتیا ولایت مرکز ته نژدې په تیره سیمه کې د پولیسو رینجر موټر په ماین والوزول شو. د چاودنې له امله رینجر تخریب شو او ۳ عسکر پکې ټپیان شول. ۲۰۱۵-۰۶-۲۸

لجه منګل کې ۲ عسکرو ژوند له لاسه ورکړ

د پکتیا ولایت د لجه منګل ولسوالي په خیرتي سیمه کې د مزدوري اردو په ګزمه برید وشو چې په مهال یې ۲ عسکر ووژل شول. ۲۰۱۵-۰۶-۲۸

احمدابا کې په پولیسو برید وشو

د پکتیا ولایت د احمدابا ولسوالي په مچلفو سیمه کې په پولیسو برید ترسره شو. په برید کې د اوښتې مرګ ژوبلې کره شمېره نه ده څرګنده شوې. ۲۰۱۵-۰۶-۲۸

پکتیا مرکزته خپرمه ماین موټر ویجاړ او ۲ قومندان ووژړه

د پکتیا ولایت مرکز ته خپرمه په عبدالله کلا سیمه کې د پوستې د قومندان (معادن) په سرف موټر درنه چاودنه وشوه، د چاودنې له امله قومندان خای په خای ووژل شو او موټر هم په بشپړه توګه ویجاړ شو. ۲۰۱۵-۰۶-۲۸

خمکنو کې ۵ عسکرو ژوند له لاسه ورکړ

د پکتیا ولایت د خمکنو ولسوالي په اته خپلو سیمه کې د مزدوري اردو له عسکرو سره نښته ترسره شوه. په نښته کې ۵ عسکرو خپل ژوند له لاسه ورکړ او ۲ نور ټپیان شول. په نښته کې ۱ مجاهد شهید او ۲ ټپیان شول. ۲۰۱۵-۰۶-۲۹

احمدابا کې ۴ پولیسو ته مرګ ژوبله واوښته

د پکتیا ولایت د احمدابا ولسوالي په مچلفو سیمه کې په پولیسو برید وشو چې ۱ پولیس پکې قتل او ۲ نور ټپیان شول. ۲۰۱۵-۰۶-۲۹

لجه منګل کې په ګزمه برید وشو

د پکتیا ولایت د لجه منګل ولسوالي په لیږي خوله سیمه کې د دښمن په ګزمه برید وشو چې عسکرو ته پکې مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۵-۰۶-۲۹

احمدابا کې په ګزمه بريد ترسره شو

د پکتيا ولايت د احمداب ولسوالي په مچلفو سيمه کې په ګزمه برید ترسره شو، په برید کې ۱ رينجر تخريب شو او د مرګ ژوبلې شمېره نه ده څرګنده شوې. ۲۰۱۵-۰۶-۲۹

پکتيا مرکزته څېرمه ماين د مزدوري اردو ۴ استادان ووژل

د پکتيا ولايت مرکز ګردیز ښار ته نژدې د کابل د عمومي سرک تر څنګه د مزدوري اردو د استادانو په جيپ موټر درنه چاودنه وشوه، له امله يې موټر په بشپړه توګه تخريب شو او په دې سربېره ۳ تنه استاذان قتل او ۳ نور ټپيان شول. ۲۰۱۵-۰۶-۲۹

خمکنو کې ۱۷ عسکرو خپل ژوند له لاسه ورکړ

د پکتيا ولايت د خمکنو ولسوالي په بوټانو او ګولېرای سيمو کې د دښمن له عسکرو سره خونړی نښته وشوه، په اوږدمهاله نښته کې د دښمن ۱۷ تنه عسکر ووژل شول او ۱۰ نور مرګوني ټپيان شول. په نښته کې ۱ مجاهد شهيد او ۵ ټپيان شول. ۲۰۱۵-۰۶-۳۰

پکتيا مرکزته نژدې پي پيلوته الوتکه رانسګوره شوه

د پکتيا ولايت مرکز ته څېرمه په څېړي سيمه کې د اشغالګر و عسکرو پي پيلوته الوتکه را ولوېده او په بشپړه توګه ويجاړه شوه. ۲۰۱۵-۰۶-۳۰

خمکنو کې ۸ عسکر ووژل شول

د پکتيا ولايت د خمکنو ولسوالي په بوټانو او ګولرای سيمو کې د دښمن له عسکرو سره نښته ترسره شوه، په نښته کې ۸ عسکر ووژل شول او ۲ نور ټپيان شول، په جګړه کې ۲ مجاهدين شهيدان او ۲ ټپيان شول. ۲۰۱۵-۰۶-۳۰

پکتيکا

اور ګون کې په ګزمه بريدوشو

د پکتيکا ولايت د اور ګون ولسوالي په امبروان کاريز سيمه کې په ګودا کيو عسکرو برید وشو. په برید کې ۳ عسکر ټپيان شول او نور له سيمې وتښتېدل. ۲۰۱۵-۰۶-۰۱

سرحوضه کې په پوسته برید، ۳ عسکر ووژل شول

د پکتيکا ولايت د سرحوضې ولسوالي په پرا و سيمه کې د دښمن په پوسته برید وشو، د يرید په مهال ۳ عسکر قتل او ۲ نور ژوبل شول. ۲۰۱۵-۰۶-۰۲

يوسف خېلو کې په پوسته برید، ۲ عسکر ووژل شول

د پکتيکا ولايت د يوسف خېلو ولسوالي په مشخېلو سيمه کې د دښمن په پوسته او پوستې ته په راروانو کومکي عسکرو برید وشو، په برید کې ودانی ته په زيان اوښتو علاوه ۳ عسکر قتل او ۶ نور ټپيان شول، په نښته کې ۳ مجاهدين سرسرکي ټپيان شول. ۲۰۱۵-۰۶-۰۲

اور ګون کې په قرارګاه بريدوشو

د پکتيکا ولايت د اور ګون ولسوالي شيخانو کلي ته نژدې د مزدوري اردو په قرارګاه برید وشو چې په مهال يې د دښمن ته تلفات واوښتل. ۲۰۱۵-۰۶-۰۴

سرحوضه کې ماين رينجر ويجاړ او ۴ عسکر ووژل

د پکتيکا ولايت د سرحوضې ولسوالي په پرا و سيمه کې د مزدوري اردو رينجر موټر په ماين والوت، په چاودنه کې موټر په بشپړه توګه له منځه لاړ او پکې ناست عسکر ۴ تنه قتل او ۳ نور ژوبل شول. ۲۰۱۵-۰۶-۰۴

سرحوضه کې په ګزمه او پوسته برید ونه، ۴ عسکر ووژل شول

د پکتيکا ولايت د سرحوضې ولسوالي په کوتنې سيمه کې د دښمن په ګزمه برید وشو چې په مهال يې ۲ عسکر قتل او ۳ نور ژوبل شول، په دې سربېره مجاهدينو ۱ کلاشنکوف او ۲ چانتې غنيمت کړې. په عيني وخت کې په پرو سيمه کې د مزدوري اردو په پوسته هم برید ترسره شو چې د دښمن ته پکې تلفات واوښتل. ۲۰۱۵-۰۶-۰۶

نګه کې ۱۰ عسکر قتل او قوه نه ماتې سره مخ شوه

د پکتيکا ولايت د نکې ولسوالي کې د صدق، اندل خېلو او جنت خېلو سيمو کې د دښمن په عملياتي قوه وسلوال برید ونه ترسره شول، د جګړې په ترڅ کې ۱۰ تنه عسکر ووژل شول، ۸ نور مرګوني ټپيان شول او يو شمېر وسلې او مهمات هم غنيمت شول. ۲۰۱۵-۰۶-۰۷

سرحوضه کې په رينجر چاودنې ۴ عسکر ووژل

د پکتيکا ولايت د سرحوضې ولسوالي په کوتنې سيمه کې د مزدورو عسکرو په رينجر چاودنه وشوه، په چاودنه کې موټر تخريب او پکې ناست عسکر ۳ تنه قتل او ۲ نور ژوبل شول. ۲۰۱۵-۰۶-۰۷

نګه کې ۶ رينجر تخريب او ۱۳ عسکر ووژل شول

د پکتيکا ولايت د نکې ولسوالي په ورسکې سيمه کې د مزدوري اردو په ګزمه وسلوال برید ترسره شو، د برید په ترڅ کې د دښمن ۱۳ عسکرو خپل ژوند له لاسه ورکړ او ۱۴ نور يې مرګوني ټپيان شول. د جګړې په مهال د دښمن ۶ رينجر موټر وويشتل شول چې په مکمل ډول تخريب شول. له دې علاوه ۳ پيک، ۲ کلاشنکوف، ۲ غټي او ۳ وړې مخابرې او ګڼ نور مهمات مجاهدينو غنيمت کړل، خبر ښيي له جګړې وروسته د دښمن عسکرو ۳۰ تنه کليوال له ځان سره بندين بوتلل، په جګړه کې ۲ مجاهدين ټپيان او ۱ د شهادت لوړ مقام ته ورسېد. ۲۰۱۵-۰۶-۰۸

جاني خېلو کې په ۲ پوستو برید ونه وشول

د پکتیکا ولایت د جاني خپلو ولسوالی په خنجکو سیمه کې د اربکیانو او په عیني حال کې په خزانه سیمه کې د پولیسو په پوسته برید ترسره شو، د بریدونو له امله دښمن ته د اوښتو تلفاتو په هکله دقیق معلومات نشته. ۰۸-۰۶-۲۰۱۵

اورګون کې په ګزمو بریدونه وشول

د پکتیکا ولایت د اورګون ولسوالی په پیرکوتو او شیخانو سیمو کې د مزدوري اردو په ګزمو بریدونه ترسره شول، د بریدونو په ترڅ کې د اوښتي مرګ ژوبلې کره شمېره نه ده څرګنده شوې. ۱۰-۰۶-۲۰۱۵

یوسف خپلو کې پوسته په هفتادپنج وویشتل شوه

د پکتیکا ولایت د یوسف خپلو ولسوالی په میس سیمه کې د پولیسو پوسته د هفتادپنج په ۵ مرمیو دقیق وویشتل شوه چې له امله یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۱۰-۰۶-۲۰۱۵

خیر کوټ کې په رینجر چاودنې ۳ پولیس ووژل

د پکتیکا ولایت د خیر کوټ ولسوالی په سیګانه سیمه کې د پولیسو په رینجر موټر چاودنه وشوه، د چاودنې له امله د رینجر په تخریبېدو سربېره ۳ پولیسو خپل ژوند له لاسه ورکړ او ۲ نور ټپیان شول. ۱۲-۰۶-۲۰۱۵

جاني خپلو کې اربکي قتل. وسله او موټر سایکل یې غنیمت شو

د پکتیکا ولایت د جاني خېمو ولسوالی په حکم کلي کې په اربکیانو برید وشو چې په مهال یې د سردار په نوم یو تن اربکي ووژل شو، د اربکي کلاشنکوف، چانټه، مخابره او موټر سایکل مجاهدینو غنیمت کړل. ۱۲-۰۶-۲۰۱۵

چاربران کې پوسته فتحه او ۱۹ عسکر قتل شول

د پکتیکا ولایت د چاربران ولسوالی په سپینه سیمه کې د دښمن په ۲ پوستو بریدونه وشول او په پای کې یې یوه پوسته په بشپړه توګه فتحه شوه، په برید کې ۵ عسکر ووژل شول او ۲ نور ټپیان شول، په نښته کې ۲ مجاهدین شهیدان او ۴ نور ټپیان شوې، وروسته سیمې ته د دښمن نور عسکر او اربکیان د مرستې په موخه راغلل چې د مجاهدینو له خوا پرې وسوال برید او د ۴ مایندونو درنې چاودنې وشوې، چاودنو د دښمن ۴ رینجر موټر تخریب کړ او یوکې ناست عسکر یې ۶ تنه قتل او ۴ نور ټپیان کړل، په دې سربېره په مخ مخ جګړه کې د اربکیانو قومندان عبدالغفار او ۸ تنه اربکیان ووژل شول او ۴ نور ټپیان شول. ۱۲-۰۶-۲۰۱۵

ګومل کې چاودنه ۲ موټر تخریب او ۵ پولیس ووژل

د پکتیکا ولایت د ګومل ولسوالی په بندر سیمه کې د سرحدي پولیسو په ګزمه درنې چاودنې وشوې، د چاودنو له امله ۲ رینجر موټر تخریب شول، په دې سربېره ۵ پولیس قتل او ۴ نور ټپیان شول. ۱۳-۰۶-۲۰۱۵

سرحوضه کې ماین ۲ عسکر ووژل

د پکتیکا ولایت د سرحوضې ولسوالی په کوتني سیمه کې د ماین چاودنې ۲ تنه د مزدوري اردو عسکر ووژل او ۳ نور عسکر یې ټپیان کړل. ۱۲-۰۶-۲۰۱۵

یحیی خپلو کې ۲ عسکر ووژل شول

د پکتیکا ولایت د یحیي خپلو ولسوالی په ګناوي سیمه کې د مزدوري اردو په ګزمه برید وشو چې په مهال یې ۲ عسکر ووژل شول. ۱۷-۰۶-۲۰۱۵

پکتیکا مرکزته نژدې ماین قومندان او ۴ عسکر ووژل

د پکتیکا ولایت مرکز ښارنې ته نژدې په سي سیمه کې د سپیشل فورس عسکرو رینجر موټر په ماین والوزول شو، په چاودنه کې موټر پوره تخریب شو، قومندان عبدالولي او ۴ تنه عسکر ووژل شول او ۲ ټپیان شول. ۱۸-۰۶-۲۰۱۵

شکین کې په ګزمه برید وشو

د پکتیکا ولایت د شکین ولسوالی په انګوراده سیمه کې د سرحدي پولیسو په ګزمه برید وشو چې په مهال یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۱۸-۰۶-۲۰۱۵

اومنه کې ماین د ۲ اربکیانو ژوند واخیست

د پکتیکا ولایت د اومني ولسوالی په شرف الدین سیمه کې په اربکیانو چاودنه وشوه چې له امله یې ۲ تنه ووژل شول. ۱۹-۰۶-۲۰۱۵

ګومل کې په کاروان برید. ۵ موټر تخریب او ۱۲ عسکر ووژل شول

د پکتیکا ولایت د ګومل ولسوالی په خنګله سیمه کې د دښمن په کاروان برید ترسره شو، د برید په مهال د کاروان په یو موټر چاودنه هم وشوه، په برید او چاودنه کې ۱۲ عسکر ووژل شول، ۱۰ تنه نور مرګونې ټپیان شول، په دې سربېره ۵ موټر تخریب شول، مجاهدینو د جګړې په مهال ۲ کلاشنکوفونه غنیمت کړل، د دښمن په ډزو کې ۱ مجاهد د شهادت لوړ مقام ته ورسید. ۲۱-۰۶-۲۰۱۵

خیر کوټ کې اربکي مجاهدینو سره یو ځای شو

د پکتیکا ولایت د خیر کوټ ولسوالی په سیګانه سیمه کې یو اربکی له ګوداګي اداري راجلا او له مجاهدینو سره یو ځای شو. ۲۱-۰۶-۲۰۱۵

سرحوضه کې ماین د ۲ عسکرو ژوند واخیست

د پکتیکا ولایت د سرحوضې ولسوالی په پرا او سیمه کې د مزدروي اردو په پلي ګزمه چاودنه وشوه، چاودنې ۲ عسکر ووژل او ۲ نور عسکر یې ټپیان کړل. ۲۳-۰۶-۲۰۱۵

یحیی خپلو کې پوسته په هفتادپنج وویشتل شوه

د پکتیکا ولایت د یحیی خپلوولسوالی په متخپلوسیمه کې د دښمن پوسته د هفتادپنج په ۵ مرمیو دقیق وویشتل شوه چې له امله یې دښمن ته مرګ ژوبله او مالي زیان واوښت. ۲۳-۰۶-۲۰۱۵

خیر کوټ کې اربکي قتل. وسله او موټر سایکل یې غنیمت شو

د پکتیکا ولایت د خیر کوټ ولسوالی په پاینده خپلوسیمه کې کې ۱ اربکی

محمدامین ووژل شو او کلاشنکوف او موټرسایکل یې مجاهدینو غنیمت کړ. ۲۰۱۵-۰۶-۲۳

زیړوک کې کمپاین په هفتادپنج وویشتل شو

د پکتیکا ولایت د زیړوک ولسوالۍ په اړونده سیمه کې د دښمن کمپاین د هفتادپنج په ۴ مرمیو دقیق وویشتل شو چې دښمن ته پکې تلفات واوښتل. ۲۰۱۵-۰۶-۲۵

سروبي کې په پوسته بریدو شو

د پکتیکا ولایت د سروبي ولسوالۍ په زړې کلا سیمه کې د دښمن په پوسته برید ترسره شو. د برید په ترڅ کې دښمن ته مرګ ژوبله او مالي زیان واوښت. ۲۰۱۵-۰۶-۲۷

جاني خېلو کې اربکی مجاهدینو سره یو ځای شو

د پکتیکا ولایت د جاني خېلو ولسوالۍ په جلالزو سیمه کې یو اربکی (عبدالولي) له مجاهدینو سره یو ځای شو. ۲۰۱۵-۰۶-۲۹

شکین کې ۴ موټر تخریب او ۸ عسکر ووژل شو

د پکتیک ولایت د شکین ولسوالۍ په انګوراډه سیمه کې د دښمن له عسکرو سره هغه مهال خونړۍ نښته وشوه، چې د دښمن عسکرو د مجاهدینو په مرکز چاپه ووهله، په نښته کې ۸ عسکر ووژل شول او ۵ نور ټپیان شول، په دې سربېره ۴ پوځي موټر تخریب شول، په نښته کې ۴ مجاهدین ټپیان او ۲ د شهادت لوړ مقام ته ورسېدل، انالله وانا الیه راجعون. ۲۰۱۵-۰۶-۲۹

اورګون کې ۲ عسکرو ژوند له لاسه ورکړ

د پکتیکا ولایت د اورګون ولسوالۍ په شیخانو سیمه کې د مزدوري اردو ۲ عسکر د وسلوال برید په ترڅ کې ووژل شول، په برید کې ۳ نور عسکر ټپیان شول. ۲۰۱۵-۰۶-۳۰

ننګرهار

جلال آباد کې فدایي بریدونه د لسهاوو تنو پولیس او مهمو نظامي چارواکو په وژلو پای ته ورسیدل

د ننګرهار ولایت په امنیه قومندانۍ په داسې حال کې فدایي بریدونه ترسره شول چې ددې قومندانۍ د د تروریزم په ریاست کې د بهرنیو مشاورینو په ګډون مهمه امنیتي غونډه هم روانه وه، برید د یوتن فدایي مجاهد (مؤمن خان ننګرهاري) لخوا د منفجره موادو څخه د ډک موټر په انفجار ورکولو سره پیل شو، چې په مخ کې یې ټول شته امنیتي موانع له منځه لاړل او ۳ تنه نور فدایي مجاهدین (عرفان الله ننګرهاري، محمدسلیم لوګري او عبیدالله غزنوي) امنیه قومندانۍ ته ننوتل او په دښمن یې څپونکي بریدونه پیل کړل، په بریدونو کې د معلوماتو په اساس ۱۶ تنه پولیس، د تروریزم ریاست اړوند کارمندان، استخباراتي کارکونکي، بهرني مشاورین او له بهر څخه برید کونکي عسکر مړه او ۳۰ تنه نور ژوبل شول. د برید په پای کې د اسلامي امارت ټول ۴ تنه فدایي مجاهدین هم د شهادت لوړ مقام ته ورسیدل. تقبلهم الله. ۲۰۱۵-۰۶-۰۱

ننګرهار کې د ګډ دښمن په ګزمه بریدو شو

د ننګرهار ولایت د نازیانو او غني خېلو ولسوالیو تر منځ سیمه کې د ګډ دښمن په ګزمه برید وشو او ۳ تنه عسکر پکې ټپیان شول. ۲۰۱۵-۰۶-۰۱

مهمندره کې په پوسته برید، ۱ پولیس ووژل شو

د ننګرهار ولایت په مهمندره ولسوالۍ کې د پولیسو په پوسته برید وشو چې ۱ پولیس پکې قتل او ۳ نور ژوبل شول. ۲۰۱۵-۰۶-۰۱

سرخرود کې په پولیسو بریدو شو

د ننګرهار ولایت د سرخرود ولسوالۍ په باغوانیو سیمه کې په پولیسو برید ترسره شو چې په مهال یې ۲ پولیس ټپیان شول. ۲۰۱۵-۰۶-۰۱

خیوه کې رینجر په ماین والوت

د ننګرهار ولایت د خیوې ولسوالۍ په شګي عبدالخېلو سیمه کې د مزدوري اردو رینجر موټر په ماین والوزول شو، د چاودنې له امله رینجر تخریب شو او د مرګ ژوبلې شمېره نه ده څرګنده شوې. ۲۰۱۵-۰۶-۰۲

خیوه کې په رینجر چاودنې ۱ عسکر وواژه

د ننګرهار ولایت د خیوې ولسوالۍ په شګي سیمه کې د مزدوري اردو رینجر موټر په ماین والوزول شو، په چاودنه کې موټر پوره تخریب شو، ۱ عسکر ووژل شو او ۲ ټپیان شول. ۲۰۱۵-۰۶-۰۲

مهمندره کې په پوسته برید، ۱ پولیس ووژل شو

د ننګرهار ولایت د مهمندرې ولسوالۍ په هزارناو سیمه کې د دښمن په پوسته برید وشو چې په مهال یې ۱ پولیس قتل او ۲ نور ژوبل شول. ۲۰۱۵-۰۶-۰۲

سرخرود کې په قوه بریدو شو

د ننګرهار ولایت د سرخرود ولسوالۍ په شمشپور سیمه کې د دښمن په قوه برید ترسره شو او دښمن ته پکې تلفات واوښتل، د برید په پای کې عسکر له سیمې په شا وتښتېدل. ۲۰۱۵-۰۶-۰۴

اچین کې بې پیلوټه الوتکې ۱ ملکي وګړی شهید کړ

د ننګرهار ولایت د اچین ولسوالۍ په پخي خوړ سیمه کې د اشغالګرو عسکرو بې پیلوټه الوتکې د غلام نبي په نوم د یو کلیوال په موټر بمبار وکړ چې له امله یې نوموړی شهید او موټر یې تخریب شو، انا لله وانا الیه راجعون. ۲۰۱۵-۰۶-۰۴

سرخرود کې په پوسته برید، ۲ پولیس ووژل شول

د ننګرهار ولایت د سرخرود ولسوالي په شمشپور سیمه کې د پولیسو پوسته د مجاهدینو تر برید لاندې راغله، په برید کې ۲ پولیس قتل او ۳ نور ټپیان شول. ۲۰۱۵-۰۶-۰۵

چپرهار کې په کاروان برید، قومندان او ۳ عسکر ووژل شول

د ننګرهار ولایت د چپرهار ولسوالي په سري کلا او شعیب سیمو کې د مزدوري اردو، پولیسو او اربکیانو په کاروان وسلوال برید ترسره شو، د جګړې په ترڅ کې اربکي قومندان بختیر چې د سرخرود ولسوالي اوسېدونکی وو او ۳ تنه عسکر ووژل شول او ۱۰ نور مرګونې ټپیان شول. په دې سربېره ۲ رینجر موټر هم پوره تخریب شول. ۲۰۱۵-۰۶-۰۵

سرخروه کې پوسته تر برید لاندې راغله

د ننګرهار ولایت د سرخرود ولسوالي په فتح اباد سیمه کې د دښمن په پوسته برید ترسره شو او دښمن ته یې تلفات واوښتل. ۲۰۱۵-۰۶-۰۶

غني خېلو کې په ۲ پوستو برید، ۲ عسکر ووژل شول

د ننګرهار ولایت د غني خېلو ولسوالي په فرض او په ۲۷مه ویاله سیمه کې د ګوډاګیو عسکرو په پوسته برید ونه وشول، په برید ونو کې ودانیو ته په زیان اوښتو سربېره ۲ عسکر قتل او د اربکي قومندان خنجر په ګډون ۳ نور ژوبل شول. ۲۰۱۵-۰۶-۰۶

مهمنده کې پوسته تر برید لاندې راغله

د ننګرهار ولایت د مهمندې ولسوالي په هزارناو سیمه کې د دښمن په پوسته برید وشو، په برید کې ۴ تنه پولیس ژوبل شول. ۲۰۱۵-۰۶-۰۸

پچیراګام کې په ټانک چاودنې ۲ عسکر ووژل

د ننګرهار ولایت د پچیراګام ولسوالي په تورابد سیمه کې د مزدوري اردو په ټانک درنه چاودنه وشوه، د چاودنې له امله ټانک تخریب شو او یو نیست عسکر ۲ تنه قتل او ۲ ټپیان شول. ۲۰۱۵-۰۶-۰۹

شیرزادو کې ۶ عسکر وژوند له لاسه ورکړ

د ننګرهار ولایت د شیرزادو ولسوالي په اړونده سیمه کې له پولیسو او اربکیانو سره نښته ترسره شوه، په نښته کې ۶ عسکرو خپل ژوند له لاسه ورکړ او ۳ نور ټپیان شول، د دښمن په متقابلو ډزو کې ۱ مجاهد ټپي شو. ۲۰۱۵-۰۶-۰۹

پچیراګام کې چاودنو ټانک تخریب او ۲ عسکر وژلې

د ننګرهار ولایت د پچیراګام ولسوالي په دوسرکه سیمه کې د مزدوري اردو ټانک په ماین والوزول شو، د چاودنې له امله ټانک تخریب شو او یو نیست عسکر قتل او ۳ نور ټپیان شول، دغه راز په تورابد سیمه کې د مزدوري اردو په پلي ګزمه ماین وچاودې چې له امله یې ۱ عسکر ژوند له لاسه ورکړ او ۳ نور ژوبل شول. ۲۰۱۵-۰۶-۰۹

خوګیانو کې په ټانک چاودنې ۳ عسکر وژلې

د ننګرهار ولایت د خوګیانو ولسوالي په سوی ټانک سیمه کې د مزدوري اردو په ټانک چاودنه وشوه، په چاودنه کې ټانک په پوره ډول تخریب او یو نیست عسکر ۳ تنه قتل او بل ژوبل شو. ۲۰۱۵-۰۶-۰۹

پچیراګام کې ۱ رینجر تخریب او ۱ عسکر ووژل شو

د ننګرهار ولایت د پچیراګام ولسوالي په لاندې صبر سیمه کې د مزدوري اردو په ګزمه برید وشو چې په مهال یې ۱ عسکر قتل او ۲ نور ژوبل شول، په دې سربېره ۱ رینجر موټر هم تخریب شو. ۲۰۱۵-۰۶-۱۰

حصارک کې پوسته فتحه او ۱۵ اربکیان ووژل شول

د ننګرهار ولایت د حصارک ولسوالي په داودکلا سیمه کې د اربکیانو پوسته تر برید لاندې راغله چې له لږ مقاومت وروسته فتحه او بیا په بشپړه توګه وسوزول شوه، په پوسته ۵ تنه اربکیان ووژل شول. ۲۰۱۵-۰۶-۱۰

مهمنده کې ۱ ټانک تخریب او ۱ پولیس ووژل شو

د ننګرهار ولایت دمهمندې ولسوالي د هزارناو هوټلونو ته نژدې د لوبې لارې په سر د دښمن په عسکرو برید ترسره شو، په برید کې ۱ ټانک تخریب شو او له دې علاوه ۱ پولیس قتل او ۲ نور ټپیان شول. ۲۰۱۵-۰۶-۱۰

بتي کوټ کې په پوسته برید، ۱ اربکي ووژل شو

د ننګرهار ولایت د بتي کوټ ولسوالي په فارم سي سیمه کې د اربکیانو په پوسته برید ترسره شو چې په مهال یې ۱ اربکي قتل او ۲ نور ټپیان شول. ۲۰۱۵-۰۶-۱۰

خوګیانو کې ۶ پولیس مجاهدینو سره یو ځای شول

د ننګرهار ولایت دخوګیانو ولسوالي کې ۶ تنه پولیس بزرګ د لعل، لوګر، اعوذبالله، یوسف، نورعالم او بشرمل له ګوډاګي اداري راجلا شول. ۲۰۱۵-۰۶-۱۰

خوګیانو کې په پوسته برید وشو

د ننګرهار ولایت د خوګیانو ولسوالي په وزیر و سیمه کې د دښمن پوسته د مجاهدینو تر برید لاندې راغله، په برید کې ۳ عسکر ټپیان شول. ۲۰۱۵-۰۶-۱۰

حصارک کې پوسته فتحه، ۸ اربکیان قتل او ۱ ژوندی ونیول شول

د ننګرهار ولایت د حصارک ولسوالي په داودکلا سیمه کې د اربکیانو پوسته د مجاهدینو تر برید لاندې راغله چې له لږ مقاومت وروسته فتحه او بیا په بشپړه توګه وسوزول شوه، په پوسته کې ۸ تنه اربکیان ووژل شول او د قومندان علي شاه په ګډون ۱۵ نور مرګونې ټپیان شول او ۱ اربکی ژوندی ونیول شو، له دې علاوه ۸ کلاشنکوفونه، ۲ پیکا، ۲ راکټ او یو شېر نور مهمات غنیمت شول. ۲۰۱۵-۰۶-۱۰

سرخروه کې ۱ رینجر تخریب او ۱ عسکر ووژل شو

د ننګرهار ولایت د سرخرود ولسوالي په خیرابادسیمه کې د پولیسو په ګزمه برید وشو چې په مهال یې ۱ پولیس قتل او ۴ نور ټپیان شول، په دې سربیره ۱ رینجر موټر هم تخریب شو. ۱۲-۰۶-۲۰۱۵

ګامه کې ۴ پولیسو ژوندنه لاسه ورکړ

د ننګرهار ولایت د کامې ولسوالي په اخند کلي کې د پولیسو په ګزمه برید ترسره شو، د برید په مهال ۳ پولیس قتل او ۵ نور ژوبل شول، د دښمن په ډزو کې ۲ مجاهدین ټپیان شول. ۱۳-۰۶-۲۰۱۵

غني خېلو کې په پوسته د لاسي بمونو برید وشو

د ننګرهار ولایت د غني خېلو ولسوالي په مارکو بازار سیمه کې په پوسته د لاسي بمونو برید وشو چې له امله یې ۲ پولیس ټپیان شول. ۱۳-۰۶-۲۰۱۵

خیوه کې په ۲ پوستو برید، ۳ عسکر قتل او ټپیان شول

د ننګرهار ولایت د خیوې ولسوالي په کندې سیمه کې د دښمن په ۲ پوستو برید ونه وشول چې په مهال یې ۱ عسکر قتل او ۲ نور ژوبل شول. ۱۸-۰۶-۲۰۱۵

حصارک کې ۱۰ عسکر مجاهدینو سره یو ځای شول

د ننګرهار ولایت په حصارک ولسوالي کې ۱۰ تنه عسکر او پولیس د جلب او جذب کمیسیون د دعوت په پایله کې د اسلامي امارت په حقانیت پوه او له ګوډاګي اداري راجلا شول. په عسکرو کې عیسی خان، سیداغا، شیرخان، حمیدګل، نصرت، شفیق، جیلاني، حیات الله، افضل او روزي خان شامل دي. ۱۹-۰۶-۲۰۱۵

بهسود کې په اشغالګرو د لاسي بم برید وشو

د ننګرهار ولایت د بهسود ولسوالي د اکمالاتي بیس په سیمه کې په پلیو امریکایي عسکرو د لاسي بم برید برید وشو، په برید کې د اوښتي سړک ژوبلي شمېره نه ده څرګنده شوې. ۲۶-۰۶-۲۰۱۵

پچیراګام کې ۴ پولیسو ته مرګ ژوبله اوښتې

د ننګرهار ولایت د پچیراګام ولسوالي په دوسر که سیمه کې د پولیسو په ګزمه برید وشو چې ۲ پوسیس پکې ټپیان شول او نور وتښتېدل، په عیني وخت کې په سرحدي پولیسو درنه چاودنه هم وشوه چې له امله یې ۱ تن قتل او بل ژوبل شو. ۲۸-۰۶-۲۰۱۵

غني خېلو کې د ولایتي شورا عرستیال ووژل شو

د ننګرهار ولایت د غني خېلو ولسوالي په مارکو بازار سیمه کې د ولایتي شورا مرستیال معین شاه ووژل شو. ۳۰-۰۶-۲۰۱۵

کونړ

سرکانو کې د دښمن په کاروان برید ترسره شو

د کونړ ولایت د سرکانو ولسوالي په ناوي سیمه کې د دښمن په موټریز کاروان وسلوال برید ترسره شو، یاد کاروان کې د دښمن ګڼ شمېر عسکر د نواپاس سرحدي سیمې ته انتقالېدل چې د مجاهدینو تر برید لاندې راغلل، په برید کې دښمن ته تلفات واوښتل خو په هکله یې کره شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۰۱-۰۶-۲۰۱۵

اسمار کې پوسته تر برید لاندې راغله

د کونړ ولایت د اسمار ولسوالي په ډمبرو سیمه کې د دښمن په پوسته د مجاهدینو تر برید لاندې راغله، په برید کې د اوښتي زیان په هکله شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۰۱-۰۶-۲۰۱۵

نارۍ کې په پوسته برید وشو

د کونړ ولایت د نارۍ ولسوالي په شامګل سیمه کې د دښمن پوسته د مجاهدینو تر برید لاندې راغله، په برید کې د اوښتي زیان په اړه شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۰۱-۰۶-۲۰۱۵

نارۍ کې پوسته په دهشګه ویشتل شوه

د کونړ ولایت د نارۍ ولسوالي په شیګل سیمه کې د دښمن په پوسته د دهشکې برید ترسره شو، د برید په مهال دښمن ته د اوښتي مرګ ژوبلې شمېره نه ده څرګنده شوې. ۰۱-۰۶-۲۰۱۵

وټه پور کې په بیس او پوسته برید، ۲ عسکر ووژل شول

د کونړ ولایت د وټه پور ولسوالي په مرکزي بیس او د لاچې په پوسته وسلوال برید ترسره شو، د برید له امله ودانیو ته په زیان اوښتو سربیره ۲ عسکر ووژل شو. ۰۱-۰۶-۲۰۱۵

سرکانو کې په ۲ پوستو برید ونه وشول

د کونړ ولایت په سرکانو ولسوالي کې د خنجر په پوسته برید وشو، په برید کې د اوښتي زیان په اړه دقیق معلومات نشته، په عیني وخت کې د یو دې ولسوالي په آهنګرانو سیمه کې هم د دښمن په پوسته برید ترسره شو، په برید کې دښمن ته د اوښتو تلفاتو په هکله شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۰۱-۰۶-۲۰۱۵

دانګام کې په سرحدي کندک برید وشو

د کونړ ولایت د دانګام ولسوالي په اړونده سیمه کې په سرحدي کندک برید ترسره شو چې دښمن ته یې مرګ ژوبله او اوښته. ۰۱-۰۶-۲۰۱۵

سرکانو کې په ۲ پوستو برید، ۲ عسکر ووژل شول

د کونړ ولایت د سرکانو ولسوالي په نواپاس سیمه کې او د خنجر په پوستو وسلوال بریدونه ترسره شول، د بریدونو له امله د نواپاس په پوسته کې ۱ عسکر ووژل شو او بل ټپي شو، دغه راز په خنجر پوسته کې هم ۱ عسکر ووژل شو. ۰۲-۰۶-۲۰۱۵

اسمار کې په بیس توغندیز برید ترسره شو

د کونړ ولایت په اسمار ولسوالي کې د دښمن په بیس ۴ توغندي وار شول چې په تاکلي هدف ولګېدل، د عیني شاهدانو په وینا د برید له امله ۳ عسکر ټپیان شول او د بیس په ودانی کې اور ولګېدل او دښمن ته پکې درانه مالي تلفات واوښتل. ۲۰۱۵-۰۶-۰۲

مانۍ کې پوسته تر برید لاندې راغله

د کونړ ولایت د مانۍ ولسوالي په کندګل سیمه کې د دښمن په پوسته برید ترسره شو، د برید له امله د اوښتي زیان په اړه شواهد نه دي تر لاسه شوي. ۲۰۱۵-۰۶-۰۳

چپه دره کې په پوسته برید وشو

د کونړ ولایت د چپه دري ولسوالي په سینزیو سیمه کې د اربکیانو په پوسته برید وشو چې اربکیانو ته پکې تلفات واوښتل. ۲۰۱۵-۰۶-۰۳

مانۍ کې پوسته تر برید لاندې راغله

د کونړ ولایت د مانۍ ولسوالي په کندګل سیمه کې د دښمن په پوسته برید ترسره شو، په برید کې د اوښتي زیان په اړه دقیق معلومات نشته. ۲۰۱۵-۰۶-۰۴

کونړ مرکز ته نژدې په پوسته برید وشو

د کونړ ولایت د مرکز اسعدابا د اروند په شګې سیمه کې د دښمن په پوسته برید ترسره شو، په برید کې د اوښتي زیان په اړه دقیق معلومات نشته. ۲۰۱۵-۰۶-۰۴

کونړ مرکز ته څېرمه په پوسته برید وشو

د کونړ ولایت مرکز اسعدابا د ته نژدې په ساګې سیمه کې د دښمن په پوسته برید ترسره شو، په برید کې د اوښتي زیان په اړه معلومات نه دي تر لاسه شوي. ۲۰۱۵-۰۶-۰۴

خوکي ولسوالي په ودانۍ او ۲ پوستو برید وشو

د کونړ ولایت د خوکي ولسوالي په ودانۍ او ورته نژدې ۲ پوستو د هاوان او زیکویک په شمول د سپکو او درنو وسلو برید وشو چې دښمن ته پکې درانه تلفات واوښتل. ۲۰۱۵-۰۶-۰۴

دانګام کې په کنډک او پوسته برید وشو

د کونړ ولایت د دانګام ولسوالي په اړونده سیمه کې په کنډک او د کاندو په پوسته وسلوال برید ترسره شول چې له امله یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۲۰۱۵-۰۶-۰۵

چپه دره کې په ۳ پوستو برید وشو

د کونړ ولایت د چپه دري ولسوالي د ترنیک، کره نل او برجي ګاني په پوستو وسلوال برید ترسره شول، په برید کې د اوښتي زیان په اړه شواهد نه دي تر لاسه شوي. ۲۰۱۵-۰۶-۰۵

دانګام کې پوسته تر برید لاندې راغله

د کونړ ولایت د دانګام ولسوالي په انګیر و سیمه کې د دښمن پوسته د مجاهدینو تر برید لاندې راغله، په برید کې د اوښتو تلفاتو دقیق معلومات نشته. ۲۰۱۵-۰۶-۰۵

اسمار کې په پوسته برید، ۲ عسکر ووژل شول

د کونړ ولایت د اسمار ولسوالي په شال سیمه کې د دښمن په پوسته برید ترسره شو، په برید کې ۲ عسکر ووژل شول او ودانۍ ته هم زیان واوښت. ۲۰۱۵-۰۶-۰۵

سرکانو کې په ۲ پوستو برید وشو

د کونړ ولایت د سرکانو ولسوالي په ناوي کې په مانو کنډو سیمو کې د دښمن په ۲ پوستو برید ونه ترسره شول، په برید ونو کې دښمن ته تلفات واوښتل خو په اړه یې شواهد نه دي تر لاسه شوي. ۲۰۱۵-۰۶-۰۶

اسمار کې په پوسته برید وشو

د کونړ ولایت د اسمار ولسوالي د دمیر پوسته د مجاهدینو تر برید لاندې راغله. په برید کې ۱ عسکر ټپي شو او ودانی هم پوره زیانمنه شوه. ۲۰۱۵-۰۶-۰۶

شیګل ولسوالي په ودانۍ د درې ځله برید وشو

د کونړ ولایت د شیګل ولسوالي په ودانۍ برید ترسره شو، په برید کې دښمن ته تلفات واوښتل خو په هکله یې شواهد نه دي تر لاسه شوي. ۲۰۱۵-۰۶-۰۶

چپه دره کې په ۲ پوستو برید ونه وشول

د کونړ ولایت د چپه دري ولسوالي په برجي کاني او ترنیک سیمو کې د دښمن په ۲ پوستو برید ونه ترسره شول، په برید ونو کې دښمن ته د اوښتي زیان په هکله شواهد نه دي تر لاسه شوي. ۲۰۱۵-۰۶-۰۶

مروره کې په اربکیانو ماین وچاوډبد

د کونړ ولایت د مروري ولسوالي په لاهور ډاګ سیمه کې په اربکیانو ماین وچاوډبد چې ۳ تنه اربکیان یې ټپیان کړل. ۲۰۱۵-۰۶-۰۷

سرکانو کې په ۳ پوستو برید، ۲ پولیس ووژل شول

د کونړ ولایت د سرکانو ولسوالي په ناوي سیمه کې د دښمن په ۳ پوستو برید ونه ترسره شول، په برید ونو کې ۲ سرحدي پولیس ووژل شول او ودانیو ته هم پوره زیانونه واوښتل. ۲۰۱۵-۰۶-۰۷

سرکانو کې په ۳ پوستو برید ونه وشول

د کونړ ولایت په سرکانو ولسوالي کې د ماشم اربکي، خنجر پوسته او د پولیسو په پوسته وسلوال برید ونه وشول او دښمن ته پکې تلفات واوښتل. ۲۰۱۵-۰۶-۰۸

مروره کې په پوسته د درز کوف برید، ۱ عسکر ووژل شو

د کونړ ولایت د مروري ولسوالي د غاخي کنډو په پوسته د درز کوف برید وشو چې ۱ عسکر پکې ووښتل شو او ځای په ځای ووژل شو. ۲۰۱۵-۰۶-۰۸

ګرګل کې په کاروان برید، ۲ رینجر تخریب او ۱۲ عسکر ووژل شول

د کونړ ولایت د نورګل ولسوالي په پتنک سیمه کې د دښمن په موټرېز کاروان وسلوال برید ترسره شو، په برید کې ۲ رینجر موټر تخریب او ۱۲ عسکر ووژل شول، د دښمن په متقابلو ډزو کې ۲ مجاهدین ټپیان شول. ۰۸-۰۶-۲۰۱۵

ماڼوګي کې په بیس برید وشو

د کونړ ولایت د ماڼوګي ولسوالي اروند ډاري په بیس وسلوال برید ترسره شو، د برید له امله د اوښتي زیان په اړه دقیق معلومات نشته. ۰۸-۰۶-۲۰۱۵

سرکانو کې پولیس په درازکوف قتل شو

د کونړ ولایت د سرکانو ولسوالي په ناوي سیمه کې اسرحدي پولیس په درازکوف وویشتل شو چې ځای په ځای ووژل شو. ۰۸-۰۶-۲۰۱۵

نارۍ کې پوسته تر برید لاندې راغله

د کونړ ولایت د نارۍ ولسوالي په انچګل سیمه کې د دښمن پوسته تر برید لاندې راغله، په برید کې ودانی ته زیان واوښت او د مرګ ژوبلې په اړه شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۰۸-۰۶-۲۰۱۵

دانګام کې سرحدي کنډک په هشتاددوویشتل شو

د کونړ ولایت د دانګام ولسوالي په اړونده سیمه کې د سرحدي پولیسو کنډک د هشتاددوتر برید لاندې راغی، د برید له امله د اوښتو تلفاتو په هکله شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۰۹-۰۶-۲۰۱۵

وټه پور کې پوسته تر برید لاندې راغله

د کونړ ولایت د وټه پور ولسوالي په پیروني سیمه کې د مزدوري اردو په پوسته برید ترسره شو. د برید له امله ودانی ته زیان واوښت او د مرګ ژوبلې کره شمېره نه ده څرګنده شوې. ۰۹-۰۶-۲۰۱۵

دانګام کې په پوسته برید ترسره شو

د کونړ ولایت د دانګام ولسوالي په کناتو سیمه کې د دښمن په پوسته برید وشو. د برید له امله ودانی زیانمنه شوه او د مرګ ژوبلې په اړه تر اوسه پورې دقیق معلومات نشته. ۰۹-۰۶-۲۰۱۵

سرکانو کې په ۲ پوستو بریدونه وشول

د کونړ ولایت د سرکانو ولسوالي د قلاسر په پوسته او په خنجر پوسته وسلوال بریدونه ترسره شول، د بریدونو له امله دښمن ته د اوښتو تلفاتو په اړه دقیق معلومات نشته. ۰۹-۰۶-۲۰۱۵

مروره کې په پوستو بریدونه وشول

د کونړ ولایت د مروري ولسوالي په مورګام سیمه کې د دښمن په پوستو بریدونه ترسره شول، د بریدونو له امله د اوښتو تلفاتو په اړه شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۱۰-۰۶-۲۰۱۵

سرکانو کې ماین رینجر تخریب او ۸ عسکر ووژل شول

د کونړ ولایت د سرکانو ولسوالي په قلاسر سیمه کې پوستې ته نژدې د مزدوري اردو رینجر موټر په ماین والوزول شو. په چاودنه کې موټر پوره تخریب شو او ۸ تنه عسکر یې ووژل شول. په عیني وخت کې د دښمن په ۳ پوستو هم بریدونه ترسره شول چې ۱ تن عسکر یې قتل او ګڼ نور ټپیان شول. ۱۰-۰۶-۲۰۱۵

ماڼوګي کې په ۸ پوستو بریدونه وشول

د کونړ ولایت د ماڼوګي ولسوالي په کنډګل سیمه کې د دښمن په ۸ پوستو بریدونه وشول، په بریدونو کې ودانی ته په زیان اوښتو سربېره ۱ عسکر قتل او بل ټپي شو. ۱۰-۰۶-۲۰۱۵

سرکانو کې په پوسته برید، ۱ عسکر ووژل شو

د کونړ ولایت د سرکانو ولسوالي په اړونده سیمه کې په خنجر پوسته برید وشو چې په مهال یې ۱ عسکر ووژل شو. ۱۰-۰۶-۲۰۱۵

ماڼوګي ولسوالي، په ودانی برید وشو

د کونړ ولایت د ماڼوګي ولسوالي په ودانی وسلوال برید وشو چې له امله یې دښمن ته زیان واوښت. ۱۰-۰۶-۲۰۱۵

دانګام کې پوسته تر برید لاندې راغله

د کونړ ولایت د دانګام ولسوالي په هنګرو کورونو سیمه کې د دښمن په پوسته برید ترسره شو. په برید کې دښمن ته او اوښتو تلفاتو په اړه شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۱۰-۰۶-۲۰۱۵

ماڼوګي کې له دښمن سره نښته وشوه

د کونړ ولایت د ماڼوګي ولسوالي په کنډګل سیمه کې د دښمن له عسکرو سره نښته ترسره شوه، په نښته کې دښمن ته د اوښتي زیان په هکله شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۱۱-۰۶-۲۰۱۵

څوکي کې پوسته تر برید لاندې راغله

د کونړ ولایت د څوکي ولسوالي په پتن سیمه کې د دښمن پوسته د مجاهدینو تر برید لاندې راغله، د برید له امله دښمن ته د اوښتي زیان په اړه شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۱۱-۰۶-۲۰۱۵

سرکانو کې پوسته تر برید لاندې راغله

د کونړ ولایت د سرکانو ولسوالي په قلاسر سیمه کې د دښمن پوسته د مجاهدینو تر برید لاندې راغله، په برید کې د اوښتي زیان په اړه شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۱۲-۰۶-۲۰۱۵

وټه پور کې عسکر په درازکوف قتل شو

د کونړ ولایت دوتۀ پور ولسوالی په مناګي سیمه کې یو عسکر په دراز کوف وویشتل شو چې ځای په ځای ووژل شو. ۱۲-۰۶-۲۰۱۵

نرنګ کې پوسته تر برید لاندې راغله

کونړ ولایت د نرنګ ولسوالی په شیګلي سیمه کې د دښمن په پوسته برید وشو، په برید کې عسکر و ته مرګ ژوبله واوښته خو کره شمېره یې نه ده څرګنده شوې. ۱۲-۰۶-۲۰۱۵

سر کانو کې په ګزمه برید وشو

د کونړ ولایت د سرکانو ولسوالی مرکز ته نژدې په اربکیانو برید وشو چې په ترخ کې یې ۱ اربکی ټپي شو. ۱۲-۰۶-۲۰۱۵

اسمار کې په ګزمه برید وشو

د کونړ ولایت د اسمار ولسوالی په شال سیمه کې د مزدوري اردو په ګزمه برید تر سره شو، په برید کې د اوښتي زیان په اړه معلومات نه دي تر لاسه شوي. ۱۳-۰۶-۲۰۱۵

مانوګي ولسوالي په ودانۍ برید وشو

د کونړ ولایت د مانوګي ولسوالي په ودانۍ وسلوال برید تر سره شو، د برید له امله ودانۍ ته زیان واوښت او د مرګ ژوبلې کره شمېره نه ده څرګنده شوې. ۱۳-۰۶-۲۰۱۵

وتۀ پور کې بې پیلوټه الوتکې ۳ کلیوال شهیدان کړل

د کونړ ولایت دوتۀ پور ولسوالی په قرا سیمه کې د امریکایي عسکرو بې پیلوټه الوتکې په عاموخبکو بمبار کړی چې له امله یې یو د مکتب معلم عبدالقدوس او ۲ لارویِ شهیدان شول. ۱۳-۰۶-۲۰۱۵

سر کانو کې غونډه په هشتاد دوو ویشتل شو

د کونړ ولایت د سرکانو ولسوالی مرکز ته نژدې د مزدوري اردو غونډه په هشتاددو وویشتل شو چې ۲ عسکر پکې ټپیان شول او ودانی هم زیانمنه شوه. ۱۳-۰۶-۲۰۱۵

سر کانو کې پوسته تر برید لاندې راغله

د کونړ ولایت د سرکانو ولسوالی په ناوي سیمه کې د دښمن پوسته د مجاهدینو تر برید لاندې راغله، په برید کې د اوښتي زیان په اړه شواهد نه دي تر لاسه شوي. ۱۳-۰۶-۲۰۱۵

سر کانو کې په ۲ پوستو برید ونه وشول

د کونړ ولایت د سرکانو ولسوالی په خنجر او دیرقاني په پوستو وسلوال برید ونه وشول چې له امله یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۱۴-۰۶-۲۰۱۵

سر کانو کې په پوسته برید، ۲ پولیس ووژل شول

د کونړ ولایت د سرکانو ولسوالی په ناوی سیمه کې د دښمن په پوسته برید وشو، په برید کې ۲ تنه سرحدي پولیس ووژل شول او ودانی هم زیانمنه شوه. ۱۴-۰۶-۲۰۱۵

څوکی کې ۱ رینجر تخریب او ۱ عسکر ووژل شو

د کونړ ولایت د څوکی ولسوالی، په بابرو سیمه کې د مزدوري اردو په ګزمه برید وشو، د برید په مهال ۱ عسکر قتل او ۵ نور ټپیان شول، په دې سربېره ۱ رینجر موټر هم تخریب شو. ۱۴-۰۶-۲۰۱۵

څوکی کې په رینجر چاودنې اربکی قومندان ووژړه

د کونړ ولایت د څوکی ولسوالی بیس ته نژدې د اربکیانو په رینجر موټر چاودنه وشوه، په چاودنه کې اربکی قومندان حبیب ووژل شو، ۶ اربکیان ټپیان شول او رینجر یې تخریب شو. ۱۴-۰۶-۲۰۱۵

سر کانو کې په بیس برید، ۲ عسکر ووژل شول

د کونړ ولایت د سرکانو ولسوالی ودانی ته نژدې په بیس د سپکو او درنو وسلو برید تر سره شو، د برید له امله ۱ رینجر تخریب او په دې سربېره ۲ عسکر قتل او بل ټپي شو. ۱۵-۰۶-۲۰۱۵

څوکی کې پوسته په هشتاد دوو ویشتل شوه

د کونړ ولایت د څوکی ولسوالی په ترناب سیمه کې د دښمن پوسته په هشتاد دو ویشتل شوه. د برید له امله د اوښتي زیان په هکله شواهد نه دي تر لاسه شوي. ۱۵-۰۶-۲۰۱۵

مروره کې په پوسته برید وشو

د کونړ ولایت د مروري ولسوالی په ورسک سیمه کې د اربکیانو په پوسته برید وشو چې دښمن ته پکې زیان واوښت. ۱۵-۰۶-۲۰۱۵

څوکی کې په پوسته برید وشو

د کونړ ولایت د څوکی ولسوالی په کټو کلا سیمه کې د دښمن په پوسته برید وشو، په برید کې د اوښتي زیان په اړه شواهد نه دي تر لاسه شوي. ۱۵-۰۶-۲۰۱۵

ناړۍ کې په سرحدي کنډک برید وشو

د کونړ ولایت د ناړۍ ولسوالی په بریکوټ سیمه کې د سرحدي پولیسو په کنډک برید تر سره شو چې په مهال یې ۱ پولیس ټپي شو او ودانی هم زیانمنه شوه. ۱۵-۰۶-۲۰۱۵

سر کانو کې ۱ عسکر ووژل شو

د کونړ ولایت په سرکانو ولسوالی کې د خنجر پوستې مخې ته ۱ مزدور عسکر ووژل شو چې ځای په ځای یې ساه ورکړه. ۱۵-۰۶-۲۰۱۵

سر کانو کې په پوستو برید ونه وشول

د کونړ ولایت د سرکانو ولسوالی په یرقاني سیمه او د خنجر په پوسته وسلوال برید ونه وشول او دښمن ته پکې تلفات واوښتل. ۱۲-۰۶-۲۰۱۵

دانګام کې پوسته تر برید لاندې راغله

د کونړ ولایت د دانګام ولسوالي په آهنګرو سیمه کې د دښمن پوسته تر برید لاندې راغله، په برید کې د اوښتي زیان په اړه شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۱۲-۰۶-۲۰۱۵

سر کانۍ کې په ۴ پوستو بریدونه وشول

د کونړ ولایت د سرکانۍ ولسوالي په ناوی سیمه کې د دښمن په ۴ پوستو بریدونه وشول چې په مهال یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۱۲-۰۶-۲۰۱۵

سر کانۍ کې پوسته تر برید لاندې راغله

د کونړ ولایت د سرکانۍ ولسوالي په مسلم اباد سیمه کې د دښمن پوسته د مجاهدینو تر برید لاندې راغله، په برید کې د اوښتي زیان په اړه شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۱۲-۰۶-۲۰۱۵

دانګام کې کنډک په هشتادو وویشتل شو

د کونړ ولایت د دانګام ولسوالي په اړونده سیمه کې د سرحدي پولیسو کنډک په هشتادو وویشتل شو چې پولیسو ته پکې مرګ ژوبله واوښته. ۱۲-۰۶-۲۰۱۵

چپه دره کې پوسته تر برید لاندې راغله

د کونړ ولایت د چپه دري ولسوالي په کندي سیمه کې د دښمن په پوسته برید ترسره شو، په برید کې د اوښتي زیان په اړه دقیق معلومات نشته. ۱۷-۰۶-۲۰۱۵

مروره کې ۵ پوستې فتحه او ۱۳ عسکر ووژل شول، ډیره وسله غنیمت شوه

د کونړ ولایت د مروري ولسوالي مورګام سیمه کې د دښمن په پوستو پراخ تعرضي بریدونه ترسره شول، د بریدونو په ترڅ کې له دښمن څخه ۵ پوستې ونیول شوې، ۱۳ عسکر ووژل شول او ګڼ شمیر نور تپیان شول، همدا راز له دښمن څخه ۲ ټانکونه ۳ میله دهشکې، یو میل هاوان، ۱۲ میله سپکه وسله او ډیر مهمات په غنیمت ونیول شول. په جګړه کې ۳ تنه مجاهدین هم شهیدان ۲ تنه تپیان شول. تقبلهم الله. ۱۷-۰۶-۲۰۱۵

د کونړ د استخباراتو په ریاست د توغندیو برید ۴ کارمندان ووژل

د کونړ ولایت مرکز اسعداباد کې د دښمن د استخباراتو په ریاست او ښاروالي باندې ۴ توغندي وتوغول شول چې په تاکلي هدف ولګېدل او له امله یې د استخباراتي اداري ۴ تنه کارمندان ووژل شول. ۱۷-۰۶-۲۰۱۵

سر کانۍ کې ۲ عسکر په درازکوف قتل شول

د کونړ ولایت د سرکانۍ ولسوالي په قلاسر سیمه کې ۲ عسکر په درازکوف وویشتل شول چې دواړه ځای په ځای ووژل شول. ۱۷-۰۶-۲۰۱۵

سر کانۍ کې پوسته تر برید لاندې راغله

د کونړ ولایت د سرکانۍ ولسوالي په خنجر پوسته او په مسلم اباد سیمه کې او د ماشم اریکې په پوستو بریدونه ترسره شول چې ودانیو ته یې پوره زیان واوښت او د مرګ ژوبلې شمېره نه ده معلومه شوې. ۱۷-۰۶-۲۰۱۵

مانوګي کې په پوسته برید وشو

د کونړ ولایت د مانوګي ولسوالي د کندګل په سیمه کې د دښمن په پوسته برید ترسره شو، په برید کې د اوښتي زیان په اړه دقیق معلومات نشته. ۱۷-۰۶-۲۰۱۵

کونړ مرکز ته خبره په ۴ پوستو بریدونه وشول

د کونړ ولایت مرکز اسعداباد ته نژدې په شګي سیمه کې د دښمن په ۴ پوستو بریدونه ترسره شول، په بریدونو کې دښمن ته مالي او ځاني زیان واوښت خو په هکله یې شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۱۷-۰۶-۲۰۱۵

سر کانۍ کې په ۲ پوستو بریدونه وشول

د کونړ ولایت د سرکانۍ ولسوالي په نواپاس سیمه کې د دښمن په ۲ پوستو بریدونه وشول چې دښمن ته پکې مرګ ژوبله واوښته. ۱۷-۰۶-۲۰۱۵

مروره کې د دښمن تعرضي برید په شاوتمبول شو

د کونړ ولایت په مروره ولسوالي کې د دښمن عسکرو د مورګام او کړکنډو مفتوحه سیمو د بیرته لاسته راوړلو په موخه تعرضي بریدونه وکړل چې له سخت مقاومت سره مخ شول، په نښته کې د دښمن عسکرو ته درنه مرګ ژوبه او مالي تلفات واوښتل او په پای کې د ولسوالي ودانۍ ته وتښتېدل. ۲۰-۰۶-۲۰۱۵

مروري ولسوالي په ودانۍ د هاوان برید وشو

د کونړ ولایت د مروري ولسوالي په ودانۍ د هاووان برید وشو، د برید له امله ودانۍ زیانمنه شوه او د مرګ ژوبلې په اړه شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۲۰-۰۶-۲۰۱۵

مروره کې په ګزمه برید وشو

د کونړ ولایت د مروري ولسوالي په ورسک سیمه کې د مزدوري اردو په ګزمه برید ترسره شو، دبرید په ترڅ کې ا زغروال ټانک تخریب شو او د مرګ ژوبې کره شمېره نه ده څرګنده شوې. ۲۰-۰۶-۲۰۱۵

مروري ولسوالي په ودانۍ برید وشو

د کونړ ولایت د مروري ولسوالي په ودانۍ وسوال برید ترسره شو چې له امله یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۲۱-۰۶-۲۰۱۵

مانوګي کې پوسته تر برید لاندې راغله

د کونړ ولایت د مانوګي ولسوالي په ردیش سیمه کې د دښمن پوسته د مجاهدینو تر برید لاندې راغله، په برید کې د اوښتي زیان په اړه شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۲۱-۰۶-۲۰۱۵

نورګل کې په موټر چاودنې ۱ عسکر ووژه

د کونړ ولایت په نورګل ولسوالي کې د مزدور و عسکرو رینجر په مین والوزول شو، په چاودنه کې رینجر تخریب، ۱ مزدور عسکر ووژل شو او ۲ عسکر تپیان شول. ۲۲-۰۶-۲۰۱۵

مروره کې د دښمن تعرضي برید په شاوتمبول شو

د کونړ ولایت د مروري ولسوالي په ورسک سیمه کې د دښمن عسکرو په مجاهدینو تفرقي برید وکړ چې له سخت مقاومت سره مخ شول او په پای کې له سیمې وتښتېدل،وروسته عسکرو په ماڼو کلي باندې د درنو وسلو ډزې وکړې چې له امله یې ۱ ماشوم شهید او ۳ تېیان شول. ۲۰۱۵-۰۶-۲۲

سر کاڼو کې په ګزمه برید، ۲ موټر ویجاړ شول

د کونړ ولایت د سرکاڼو ولسوالي په ناوی سیمه کې د دښمن په ګزمه برید ترسره شو،په برید کې اسرف او اړینجر موټر تخریب شول اما د مرګ ژوبلې کره شمېره نه ده څرګنده شوې. ۲۰۱۵-۰۶-۲۲

سر کاڼو کې پوسته برید، ۱ پولیس ووژل شوی

د کونړ ولایت د سرکاڼو ولسوالي په ناوی سیمه کې د سرحدي پولیسو په پوسته د دهشکې او پیکا برید وشو،په برید کې ۱ پولیس ووژل شو او ودانی ته هم پوره زیان واوښت. ۲۰۱۵-۰۶-۲۲

اسمار کې په ګزمه برید، ۱ ټانک ویجاړ شو

د کونړ ولایت د اسمار ولسوالي په ډمبرو سیمه کې د دښمن په ګزمه برید وشو،په برید کې ۱ ټانک تخریب شو او عسکرو ته هم درنه مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۵-۰۶-۲۳

اسمار کې په پوسته برید، ۱ عسکر ووژل شوی

د کونړ ولایت د اسمار ولسوالي په ډمبرو سیمه کې د دښمن په پوسته برید ترسره شو،د برید په ترڅ کې ۱ عسکر قتل او بل مرګونی ټپي شو. ۲۰۱۵-۰۶-۲۳

مرورو ولسوالي ودانی په هاوان وویشتل شوه

د کونړ ولایت د مروري ولسوالي ودانی په هاوان وویشتل شوه چې له امله یې دښمن ته زیان واوښت. ۲۰۱۵-۰۶-۲۳

سر کاڼو کې عسکر په دراز کوف قتل شو

د کونړ ولایت د سرکاڼو ولسوالي په ناوی سیمه کې یو مزدور عسکر په دراز کوف ووېشتل شو چې ځای په ځای یې ساورکړه. ۲۰۱۵-۰۶-۲۳

سر کاڼو کې په پوسته برید، ۲ عسکرو ته مرګ ژوبله اوښته

د کونړ ولایت د سرکاڼو ولسوالي په بار آباد سیمه کې د اربکیانو او دغه راز په عیني وخت کې د سرحدي پولیسو په پوسته بریدونو ترسره شول، د بریدونو له امله ودانیو ته په زیان اوښتو سربېره ۱ عسکر قتل او ۲ نور تېیان شول. ۲۰۱۵-۰۶-۲۳

وټه پور کې په عسکرو برید وشو

د کونړ ولایت دوټه پور ولسوالي په مناګي سیمه کې بیس ته نژدې په پلیو عسکرو برید وشو چې ۲ تنه عسکر پکې تېیان شول. ۲۰۱۵-۰۶-۲۳

اسمار کې په پوسته او ګزمه بریدونه شوي

د کونړ ولایت د اسمار ولسوالي په ډمبرو سیمه کې د دښمن په پوسته او ګزمه بریدونه وشول چې په ترڅ کې یې ۲ عسکر تېیان شول. ۲۰۱۵-۰۶-۲۴

سر کاڼو کې په ګزمه او پوستو بریدونه شوي

د کونړ ولایت د سرکاڼو ولسوالي مرکز ته نژدې د دښمن په ګزمه برید وشو چې ۱ عسکر پکې ژوبل شو، همدارازپه مسلم اباد او بارا باد سیمو کې د دښمن په پوستو بریدونه ترسره شول چې عسکرو ته پکې مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۵-۰۶-۲۴

ماڼوګي کې پوسته تر برید لاندې راغله

د کونړ ولایت د ماڼوګي ولسوالي په بارکنډي سیمه کې د دښمن پوسته د مجاهدینو تر برید لاندې راغله، په برید کې د اوښتي زیان په اړه دقیق معلومات نشته. ۲۰۱۵-۰۶-۲۴

خاص کونړ کې پوسته تر برید لاندې راغله

د کونړ ولایت د خاص کونړ ولسوالي په دوني سیمه کې د دښمن په پوسته برید وشو، برید له امله ودانی ته په زیان اوښتو سربېره ۲ عسکر تېیان شول. ۲۰۱۵-۰۶-۲۵

ناري کې په ګزمه بریدوشو

د کونړ ولایت د ناري په کاګل سیمه کې د دښمن په ګزمه برید وشو چې عسکرو ته پکې مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۵-۰۶-۲۵

ماڼوګي کې پوسته تر برید لاندې راغله

د کونړ ولایت د ماڼوګي ولسوالي په کنډګل سیمه کې د دښمن په پوسته برید وشو، د برید له امله ودانی ته زیان واوښت او د مرګ ژوبلې په اړه دقیق معلومات نشته. ۲۰۱۵-۰۶-۲۵

مروري ولسوالي ودانی په هاوان وویشتل شو

د کونړ ولایت د مروري ولسوالي ودانی په هاوان وویشتل شوه، د برید له امله د اوښتي زیان په اړه معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۲۰۱۵-۰۶-۲۵

سر کاڼو کې په ۴ پوستو بریدونه شوي

د کونړ ولایت د سرکاڼو ولسوالي په ناوی سیمه کې د دښمن په ۴ پوستو بریدونه ترسره شول، په برید کې دښمن ته د اوښتو تلفاتو په هکله کره شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۲۰۱۵-۰۶-۲۵

ماڼوګي کې په پوسته برید، ۱ عسکر ووژل شوی

د کونړ ولایت د ماڼوګي ولسوالي په شینتاسیمه کې د دښمن په پوسته برید ترسره شو، په برید کې ۱ عسکر ووژل شو او ودانی هم پوره زیانمنه شوه. ۲۰۱۵-۰۶-۲۵

سر کاڼو کې په ګزمه بریدوشو

د کونړ ولایت د سرکاڼو ولسوالي په قلاسر سیمه کې په ګزمه برید برید وشو،په برید کې د اوښتي زیان په هکله شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۲۰۱۵-۰۶-۲۵

اسمار کې پوسته تر برید لاندې راغله

د کونړ ولایت د اسمار ولسوالی په ډمبرو سیمه کې په پوسته برید ترسره شو، په برید کې د اوښتي زیان په اړه شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۲۰۱۵-۰۶-۲۶

مانوګي ولسوالي په ودانۍ او ۴ پوستو بریدونه وشول

د کونړ ولایت د مانوګي ولسوالي په ودانۍ وسلوال برید وشو چې دښمن ته پکې تلفات واوښتل. په عیني وخت کې په کندګل سیمه کې د دښمن په ۴ پوستو هم بریدونه ترسره شول او په ترڅ کې یې دښمن ته مالي او ځاني تلفات واوښتل. ۲۰۱۵-۰۶-۲۶

مانوګي کې په بیس بریدوشو

د کونړ ولایت د مانوګي ولسوالي په خاري سیمه کې د دښمن په بیس برید ترسره شو چې دښمن ته پکې تلفات واوښتل. ۲۰۱۵-۰۶-۲۶

اسمار کې په ۴ پوستو بریدونه وشول

د کونړ ولایت په اسمار ولسوالي کې د شال، شابل، سنګر او شال ډیپي په پوستو بریدونه ترسره شول، په بریدونو کې د اوښتو تلفاتو په اړه شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۲۰۱۵-۰۶-۲۷

اسمار کې په اکمالاتي موټرو بریدوشو

د کونړ ولایت د اسمار ولسوالي په پلوځو سیمه کې د دښمن په اکمالاتي موټرو برید ترسره شو چې په مهال یې ۱ رینجر موټر تخریب شو. ۲۰۱۵-۰۶-۲۷

مانوګي کې په بیس بریدوشو

د کونړ ولایت د مانوګي ولسوالي اړونده سیمه کې د خاري په بیس وسلوال برید وشو چې دښمن ته پکې تلفات واوښتل. ۲۰۱۵-۰۶-۲۷

مرورو کې عسکرو په عامو خلکو لاري تړلې

د کونړ ولایت د مروري ولسوالي په اوسپدونکو دګوډاګي اردو عسکرو وروسته له هغه لاري بندي کړې چې یو شمیر سیمې تري مجاهدینو فتحه کړې، د سیمې خلک وایي اوس د خوراکي موادو راوړلو لپاره له ډاګاقي لارو کار اخلي او له سختو مشکلاتو سره مخ دي. ۲۰۱۵-۰۶-۲۷

سرکانو کې چاودنو ۴ عسکر وته مرګ ژوبله واړوله

د کونړ ولایت د سرکانو ولسوالي د ماشم اربکي د پوستې په رینجر موټر چاودنه وشوه چې له امله یې رینجر موټر تخریب او ۲ عسکر ژوبل شول، دغه راز په ناوی سیمه کې د ماین چاودنې ۲ تنه عسکر ځای په ځای ووژل. ۲۰۱۵-۰۶-۲۷

چپه دره کې په بیس او ۲ پوستو برید، ۶ عسکر ووژل شو

د کونړ ولایت په چپه دره ولسوالي کې د مزدوري اردو په بیس او د برچي کانې او ترنیک په پوستو بریدونه ترسره شول، په بریدونو کې ۶ عسکر و خپل ژوند له لاسه ورکړ او ودانیو ته هم پوره زیانونه واوښتل. ۲۰۱۵-۰۶-۲۷

مانوګي کې په ۲۰ پوستو بریدونه وشول

د کونړ ولایت د مانوګي ولسوالي له مرکز نه تر مناګي سیمې پورې د دښمن په ۲۰ پوستو بریدونه ترسره شول، په بریدونو کې دښمن ته د اوښتو تلفاتو په هکله شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۲۰۱۵-۰۶-۲۸

سرکانو کې په ۴ پوستو بریدونه وشول

د کونړ ولایت په سرکانو ولسوالي کې د خنجر په پوسته د یرغلګرو او د ماشم اربکي په پوستو بریدونه ترسره شول، د بریدونو له امله د اوښتي زیان په اړه دقیق معلومات نشته. ۲۰۱۵-۰۶-۲۸

وټه پور کې عسکر په درازګوف قتل شو

د کونړ ولایت دوټه پور ولسوالي د مناګي په بیس کې ۱ عسکر په درازګوف ویشتل شو چې ځای په ځای قتل شو. ۲۰۱۵-۰۶-۲۸

مروره کې په پوسته برید، ۱ عسکر ووژل شو

د کونړ ولایت د مروري ولسوالي په کارکنډو سیمه کې د دښمن په پوسته برید ترسره شو، په برید کې ۱ عسکر ووژل شو او بل ټپي شو. ۲۰۱۵-۰۶-۲۸

سرکانو کې په ګڼه برید وشو

د کونړ ولایت د سرکانو ولسوالي مرکز ته نژدې د مزدوري اردو په عسکرو برید ترسره شو چې عسکرو ته پکې مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۵-۰۶-۲۸

سرکانو کې په ۴ پوستو بریدونه وشول

د کونړ ولایت د سرکانو ولسوالي په ناوی سیمه کې د دښمن په ۴ پوستو بریدونه ترسره شول چې دښمن ته پکې تلفات واوښتل. ۲۰۱۵-۰۶-۲۹

سرکانو کې ماینونو ټانک تخریب او ۵ عسکر ووژل

د کونړ ولایت د سرکانو ولسوالي په مانوکنډو سیمه کې په پلیو عسکرو چاودنه وشوه چې له امله یې ۴ تنه عسکر ووژل شول، دغه راز په یاده سیمه کې د دښمن ماین پاک ټانک هم په ماین والوزول شو چې پوره تخریب شو او ۱ عسکر پکې ووژل شو. ۲۰۱۵-۰۶-۲۹

مانوګي کې په ګڼه بریدوشو

د کونړ ولایت د مانوګي ولسوالي په لیچلام سیمه کې د دښمن په ګڼه برید ترسره شو، دبرید له امله د اوښتي زیان په اړه شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۲۰۱۵-۰۶-۲۹

سرکانو کې په ۴ پوستو بریدونه وشول

د کونړ ولایت د سرکانو ولسوالي په ناوی سیمه کې د دښمن په ۴ پوستو بریدونه ترسره شول په برید کې د اوښتو تلفاتو په اړه دقیق معلومات نشته. ۲۰۱۵-۰۶-۳۰

کونړ مرګز ته نژدې په پوسته بریدوشو

د کونړ ولایت مرکز اسعداباد ته نژدې په توکي سیمه کې د دښمن په پوسته برید ترسره شو چې په ترڅ کې یې عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۵-۰۶-۳۰

سر کانو کې په ۲ پوستو بریدونه وشول

د کونړ ولایت د سرکانو ولسوالي په اړونده سیمه کې د دښمن په پوستو بریدونه ترسره شول چې په مهال یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۲۰۱۵-۰۶-۳۰

لغمان

قرغیو کې د جاسوسي اداري ۳ کارمندان ووژل شول

د لغمان ولایت د قرغیو ولسوالي په سرخکانو سیمه کې د استخباراتي اداري په لندګروزر موټر بریدونکي ۳ تنه کارمندان یې ووژل شول، وروسته سیمې ته عسکر او چورلکې راغلې او مجاهدین یې محاصره کړل، له درنې ټوپکې وروسته عسکرو ته درنه مرګ ژوبله واوښته او مجاهدین له محاصرې روغ رمټ ووتل. ۲۰۱۵-۰۶-۰۱

لغمان مرکزته نژدې پوسته تر برید لاندې راغله

د لغمان ولایت په مرکزي سیمه بسرام کې د دښمن په پوسته برید ترسره شو چې ۱ عسکر پکې ټپي شو. ۲۰۱۵-۰۶-۰۱

قرغیو کې ۴ عسکر وژوند له لاسه ورکړ

د لغمان ولایت د قرغیو ولسوالي په سرخکانو سیمه کې د مزدوري اردو په ګزمه برید ترسره شو، د برید په مهال ۳ تنه عسکر ووژل شول او ۴ نور عسکر ټپیان شول. ۲۰۱۵-۰۶-۰۱

قرغیو کې په کاروان برید، ۲ کانټینر ویجاړ شول

